## ګوتم بدهـ، او د مت ارتقائي سفر ته یوه لنډه کتنه

کله چې موږ مذاهبو ته ګورو نو دا پر دوو قسمو تقسیمېدلای شي، یو هغه چې پوهان ورته د سامي (اسماني) مذاهبو نوم ورکوي لکه یهودیت، نصرانیت (مسیحیت) او دینِ اسلام. او دویم هغه مذاهب کوم ته چې غیر سامي، یعني هغه مذاهب لکه هندو مت، جین مت، دراوړي مت، کنفیوشس، شیو مت، مظاهر پرست، لمر پرست، ځناور پرست، آتش پرست، سپوږمۍ پرست، او ستوري پرست.

مولانا سید ابو الاعلی مودودي ؒ په دې هکله د مذهب تعریف داسي کوي. "په نړۍ کي چي څومره مذاهب دي هغه خو یا د یو کس په نامه یا د هغه قوم په نامه نومول شوي دي په کوم قوم کي چي هغه مذهب زېږېدلی دی. لکه عیسائیت، چي نسبت یې د عیسیٰ ؑ سره تړل کېږي، بدهـ مذهب ته په دې بدهـ مذهب ویل کېږي ولي چي د هغه بنسټ ایښوونکی مهاتما بدهـ دی، د زردشتي مذهب نوم په دې دی چي د هغه تعلق د زردشت سره ؤ، یهودي مذهب په یوه مخصوصه قبیله کي وزېږېدی چي نوم یې یهودا ؤ، خو ماسوای د اسلام."

د عدم تشدد د فلسفې او د دې بودهي مذهب بنسټ ایښوونکی چي څېړونکي ورته د ختیځ درویش هم وائي "ګوتم" نومي ځوان چي د شمالي (قطبي) هندوستان ریاست، کپل وستو کي غالباً ۵۶۳ ق،م یا ۵۶۸ ق،م کي په لمبیني نومي ځنګله کي زېږېدلی، د راجا سدهودهن (شدودهن) زوی، د [illegible]ور نوم یې مایا او [illegible] ؤ د دهٔ [illegible] د دهٔ د زوکړي

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـر اوومـه مـړۀ شـوه. د دۀ یونـوم چـې د خانـدان لـه خـوا ورکړل شـوی دی، ګـوتم دی. زیـاتره مـؤرخین چـې پـه کـوم نامـه ددۀ یادونـه کـوي هغـه "سدهارتهـ" دی. سدهارتهـ یعنـي کامیـاب او کـامران. انګرېـز مـؤرخ مائیکـل هـارټ پـه خپـل کتـاب "سـو عظیم انسـان" کـې د ګـوتم بدهــ نــوم "سدهارتهــ" کــاږي او "ګــوتم" د دۀ د ذات نــوم ښــیي. لاکـن د اوسـني تحقیـق نـه دا ثـابتېږي چـې د دۀ اصـل نـوم ګـوتم ؤ. نـور صـفاتي نومونـه لکـه، جودهـ، یعنـي روښـانه ضـمیر لرونکـی، سـکیا مــوني (د ســکیا خانــدان راهــب، عابــد) ســکیا ســمها (د ســکیا خاندان شیر) او نور نومونه هم لري.

دۀ پــه ځــوانۍ کــې ډېــر علــوم زده کــړي وو، لکــه پــه سنسـکرت کـې یـې ډېـر مهـارت درلـود، ویدونـه یـې ټـول پـه یـاد زده وو. کلـه چـې د ۱۸ یـا ۱۹ کـالو شـو نـو یـې د یشودهرا (یسـودهرا) نـومي جینـۍ سـره وادۀ وکـړ. بیـا لـس کالـه وروسـته د دۀ یـو زوی وزوکېدی چې نوم یې "راهل" ؤ.

کله چـې دۀ خپـل پـدري مـذهب یعنـي هنـدومت تـه وکتـل نـو یـې لـه دې مـذهب سره شـدید اختلاف پیدا شو. پـه هندومت کـې بت پرسـتي، غـلام بـادار، او داسـي نـوري خامیـاني وې چـې دۀ ورسـره اخــتلاف درلــودی. بیــا د ډېــر غــور او فکــر وروســته دۀ د یــو جــلا مــذهب یعنــي د برهمنــي مــذهب اصــلاح شــوي مــذهب بنســټ کښېښــودی. حــالانکې دی د یــو لــوی ماځکــه وال زوی ؤ، د شـهزادګانو غونـدي اوسـېدی، خـو بیـا هـم د مـذهب سـره تـړاؤ دی دې تـه وهڅـوی چـې د عـامو خلګـو یعنـي د ذات پـات، غـلام بـادار پرتـه یـو داسـي فکـر مـنځ تـه راوړي چـې د دې ټولـو ګنجـائش نـۀ وي پکښې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولانــا ســيدابوالاعلى مــودودي ؒد بدهــ مــذهب پــه هکلــه وايــي چــي "لــه ننــه څخــه دوه نــيم زره کالــه مــخ کــي انســاني فکــر تــر دې حــده ترقــي کــړې وه چــي هغــه خپلــه يــو مشــترکه مــذهب غوښــتو. بدهــ مــت اګرچــې يــو پــوره مــذهب نــۀ ؤ او صــرف يــو څــه اخلاقــي اصــول يــې درلــودل، لاکــن دا مــذهب د هندوســتان نــه راووتــی او يــوې خــوا تــه جاپــان او منګوليــا او بلــي خــوا تــه افغانســتان او تــر بخــاره خــور شــو. د دې مــذهب خورونکــو دا مــذهب تــر لېــري لېــري هېوادونــو پــوري ورساوه."

مــذهب کــه سامي وي کــه غيــر سامي، خــو پــه پېــل کــي ورتــه ډېــري ســتونزي پېښــېږي. دۀ راج محــل، د شــهزادګانو غونــدي ژونــد، خپــل لــس کلــن ازدواجــي ژونــد او زوی يــې پــر خپــل غيــر ســامي مــذهب قربــان کــړل او پــه ځنګلــه کــي يــې د پيپــل (بړ)[1] د ونــي لانــدي مراقبــه پيل کړه.

مــؤرخين ليکــي چــي دۀ پــه لــومړي ســر کــي د څــو ملګــرو ســره شــپږ کالــه د ګيــا پــه ځنګلــه کــي وجــود ازاري (جســماني رياضــت) پيــل کــړه، د وخــت پــه تېرېــدو ســره د ګــوتم وجــود د نــۀ خــوراک او د ډېــري کمزورۍ لــه کبلــه وچ ډنــډ شــو او پــر دۀ بــه بې هوشــي راتلــه. بيــا دۀ دا لاره تــرک کــړه او مراقبــه يــې پيــل کــړه. پــه لــومړي ځــل دۀ پــه ځنګلــه کــي اووه ورځــي د پيپــل (بــړ) د ونــي لانــدي مراقبــه پيــل کــړه. پــر اوومــه ورځ دې نتيجــې تــه ورســېدی چــي انســان پــه درو شيزونــو ســره تــل غمــزده وي او دا غــم دی د ژونــد پــه خونــد نــۀ پوهــوي. لکــه د ســپين

[1] حامد عبدالقادر د انځر ونه یادوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیـري تـوب غـم، د نـاروغۍ غـم او د مـرګ غـم. کـه انسـان لـه دې درو غمو ځان خلاص کړي نو به د ژوند په خوند پوه شي.

هـم دې درو نقطـو ته د ځنګلـه و خـوا تـه وشـړه، چـې د دې درو نقطـــو د درملنـــي اســـباب و مـــو مي. وروســـته دهٔ پلویـــان (بهکشـوان) پیـدا کـړل چې د دهٔ سره د دهٔ پـه فکـر کـې ملګـري شـول. دې پلویـانو دهٔ تـه د (بدهـ) نـوم ورکـړه چـې معنـا یـې د هغـه چـا ده چې روحـاني علـوم یـا پټ علـوم یـې تـر لاسه کړي وي.د سنسـکرت لـه اړخـه د بدهـ معنـا "پـر نُـور یـا منیـر" ده. خـو نـور مـورخین د بدهـ معنـا د بیدار،روښانه ضمیر لرونکي یا د عارف سره کوي.

پـــه هنـــد ومت مـــذهب کـــي ذات پـــات، د ډېـــرو خـــدایانو تصـور، بـت پرسـتي او داسـي ډېـر ځـه وو چـې ګـوتم یـې مخالفـت کـاوه. پـه بدهـ مـذهب کـې د خـدای تصـور، روح او د فرښـتو هـیڅ یـوه خبره یـا فکـر نشـته، هـم پـه دې وجـه د هنـدومت مـذهب ځیلـو خلګـو د دهٔ و مـذهب تـه هرکلـی وکـړ، او پـه کـې شـامیلېدل یـې پیـل کـړل. بدهـ مـذهب دومـره تېـز پـه شـمالي (قطبـي) هندوسـتان کـې خـور شـو چـې هـیڅ عقـل یـې نـهٔ تسـیلموي. د مـذاهبو پـه تـاریخ کـې دا غیـر سـامي بـــودهي مـــذهب، واحـــد مـــذهب دی چـــې ډېـــر ژر یـــې وده وکـــړه، او د شمالي هندوستان نه دباندي و نورو هېوادونو ته منتقل شو.

کـه مـوږ وګـورو نـو پـر دې مـذهب د هنـدومت شـدیده غلبـه ده. پـه دې کـې تـر مـذهب زیـات پـر فلسـفه بانـدي زور اچـول شـوی دی. پـه دې مـذهب کـې چـې کـوم احکـام ډېـر سـخت وو او برهمنـو هغــو تــه ګوتــه نیولــه هغــه د تزکیــه نفــس، مطالعــه، غــور و فکــر او مراقبـه وه. پـه دې مـذهب کـې یـوه خـامي د برهمنـو لـه خـوا دا هـم وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دهٔ ټول خدایان رټلي وو، لاکن هغهٔ يې مسلوب الاختيار ضرور ګڼلي وو.

دهٔ د هندوانو آواګون[2] عقيده د لږ تبديلۍ وروسته خپله کړه. چې تعليمات يې د هندومت په خوا ورته شو. دهٔ د هندومت مذهب ويدونه چې برهمنو به ورته سامي ويلو، څخه بالکل انکار وکړو. حالانکې دا ويدونه دهٔ په ياد زده کړي وو. دهٔ به ويل چې دا ويدونه سامي نهٔ دي، دهٔ په څلور سره ويدونو کې د سام ويد، رېګ ويد او يجر (ايجر) ويد ذکر کړی دی. د څلورم ويد، اتهر ويد ذکر يې بالکل نهٔ دی کړی.

پر دهٔ چې کوم الزام د خدای د نهٔ منلو ؤ، د هغه په دفاع کې د هندوستان يو ازنی ليکوال محمد اساعيل هاتف بهوپالي په بېل انداز په خپله مقاله کې چې دهٔ په ۱۹۲۳ کې ليکلې وه داسې بيان کړی دی.

"دهٔ د ګيا په ځنګله کې تر شپږو کالو پورې رياضت کولو، يوه ورځ دی د انځر د ونې لاندې له سهاره په خپلو خيالاتو کې ډوب ناست ؤ چې ما ښام ناڅاپه يو وجداني کېفيت پيدا شو، او هغه ته د بدهـ درجه تر لاسه شوه، هغه بې واکه په عالم بې خودي کې راولاړ شو او دا يې وويل، اې کالبند خاکي (ځان، يعنې ګوتم) جوړولو والا! تر څو چې ما تهٔ نهٔ وې پيدا کړی نو زهٔ د ژوند د کشمکش نه تېر يد مه. هغه ټول په درد لړلي حالات وو. لاکن اوس ما تهٔ وليدلې، زهٔ اميدوار يم چې تهٔ به بيا دا کالبد خاکي نهٔ

---

[2] آواګون: د يو صورت نه بل صورت اختيارول

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړوي. ولي چا چې د نروان (فنا) دولت تر لاسه کړو د هغه ټول خواهشات پوره شو."

په دې جملو کې چې د ګوتم د خُلې څه بې اختیاره وتلي دي په هغه کې د خدای د منلو اعتراف دی. لاکن وروسته بیا کله هم د دهٔ په خُله د خدای نوم نهٔ راغلو، او د خدای د ذات او صفاتو په هکله یې کله هم خپل پلویانو ته څه ونهٔ ویل.

بهوپالي صاحب دا ثابتول غوښتل چې ګوتم پخپله د خدای منونکی ؤ، لاکن د دهٔ د ژوند یا تعلیماتو په هغهٔ دورکې نهٔ لیکل کېدل دا سوال مختـه راوړي چې کېدای شي ګوتم د خدای په هکله ډېر څه ویلي وي خو د تعلیماتو د نهٔ لیکل کېدو په وجه تر اوسه نهٔ دي څرګند شوي. او بیا ټول مؤرخین په دې متفق هم دي چې ګوتم د خدای د تصور او د روح منونکی نهٔ ؤ او نهٔ د دهٔ په ژوند کې د دهٔ افکار لیکل شوي وو. د دهٔ د مرګ نه وروسته د دهٔ پلویانو تر منځ پر بعضو مسئلو باندي جګړې پیل شوې، بیا دوی یو ځای چې نوم یې "راجاګاه" ؤ ټول جمع شول، دا راجاګاه "مګدهـ" ته نزدې ده. د دهٔ پلویانو بودهي تعلیمات بیان کړل، په هغو کې د دهٔ یو شاګرد چې نوم یې کساپا kasayapa یا غالباً کساپا ؤ د بودها فلسفیانه اقوال بیان کړل. بیا چې کوم د ابي دهرم پټیکا abhidharma په نامه مشهور شو.

د دهٔ دویم شاګرد او پالي upali د نظم ضبط اصول او قوانین بیان کړل، دا بیا وروسته ونایاپټیکا vinaya په نامه مشهور شو. د ګوتم مشهور شاګرد انند هغهٔ وېناوي خلګو ته وکړې چې ګوتم وخت پر وخت کړي وې. وروستو دا د سُتا sutta په نامه مشهور شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاکن دا ټول مجلس هغهٔ وخت هم نهٔ ولیکل شو، بیا د اشوک ۲۴۲ ق،م په زمانه کي دا حکم منځ ته راځي چي دا مقدس قوانین دي ولیکل شي. په پیل کي صرف دوه قوانینه ولیکل شول، یعني وِنا پټیکا (vina patika) او سُتا پټیکا (sutta patika).

په وِنا پټیکا کي د راهبانه ژوند اصولونه بیان شوي دي چي معنا یې د "هدایت ټوکری" ده. او په دویم قانون کي د ګوتم وېناوي ولیکل شوې. وروسته د هغې د درېیمي حصې اضافه هم وشوه، یعني د ابي دهرم پټیکا. دا درې سره حصې یې یو ځای کړې او نوم یې د "تري پټیکا " کښېښنودی.

د ګوتم کتابونه په پالي ژبه کي وو. هغه په دې چي دا ژبه هغهٔ وخت عوامي ژبه وه، او د برهمنو د اعلی طبقې د ژبې سنسکرت پر ځای یې په پالي ژبه کي خپل تعلیمات خواره کړل. د هغې نه وروسته دا کتابونه د هندوستان په بېلا بېلو ژبو کي وژباړل شول چي د هغې په وجه ډېر بدلون مخي ته راغی. دا کتابونه نن هم شته خو اختلاف پکښې ډېر دی.

یو بل کتاب چي د هم پد dhammapadas نومېدی د عامو خلګو د پاره دی، چي د پورته ذکر شوو کتابونو خاص خاص نکات په کي رانقل شوي دي. په دې دهم پد کي ۳۷۷ ق،م د راجاګاه د کونسل (غونډي) ذکر شته خو د اشوک د دورې د کونسل ذکر نشته.

د تري پټیکا نه علاوه د ګوتم په ژوند نور کتابونه هم لیکل شوي دي، لکه جهیکا jatkas . د دې نه علاوه للت ستانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



lalitvistana هم یو کتاب دی چې په دې کې د ګوتم د لوبو مفصل ذکر موجود دی.

مؤرخین او د مذهب عالمان دا لیکي چې د ګوتم مقدس کتاب تري پټیکا د مذهب د طالب علمانو د پاره ډېر سخت دی. هغه په دې چې په دې کتاب کې دا نهٔ معلومېږي چې کوم اقوال د ګوتم خپل دي او کوم بیا وروسته اضافه شوي دي.

زما په خیال د دې مذهب په خورېدو کې د دې مذهب خوش بختي دا وه چې دا مذهب اشوک باچا ۲۷۳ ق، م څخه تر ۲۳۳ ق، م خپل کړو. کله چې اشوک د خپل سلطنت د ودې د پاره پر کالنګه نومي سیمي چې د هندوستان ختیځ سمندري ساحلي علاقې مهاندي ګوداوري او د کرشاندیو په منځ کې وه، حمله وکړه نو په دې جنګ کې یو نیم لکهـ انسانان قید، یو لکهـ مړهٔ او تر دې زیات له غمه په خپل مرګ مړهٔ شول. د دې جنګ خوني اثراتو پر اشوک باندي ډېره لویه اغېزه وکړه. د دهٔ رجحان د مذهب پر خوا شو، د مړګونو نه یې کرکه پیدا شوه او بیا د جنګ نهٔ کولو لوظ یې وکړو. سم د لاسه یې بدهـ مذهب خپل کړ، دهٔ دا مذهب سرکاري مذهب وګرځاوه او د بودهي مذهب تعلیمات یې په ټول هند کې خواره کړل، پر ډبرو یې کتبې ولیکلې. د دې ډبرلیکونو څخه دا ظاهرېږي چې هغه وخت بدهـ مت ډېر ساده ؤ. اشوک د دهٔ د زوکړې ځای ته ورغی او هلته یې د دهٔ په هکله یو یادګار تعمیر کړ.

د اشوک په دور کې ډېر برهمن دې مذهب ته داخل شول. اشوک درېیم کونسل په ۲۵۰ ق م کې راوغوښت، او د بودهـا په مذهب کې یې څهٔ نا څهٔ بدلون راوست. اشوک د هند دباندې ډېر مبلغین د بدهـ مت مذهب د خورولو د پاره ولېږل چې په هغو کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهٔ خپل زوی انند، ورور میندر او سکه خور سنګهامتر شامل وو. د اشوک په زمانه کې بدهـ مذهب تر سهېلي هند، لنکا پورې، بیا تر منځنۍ آسیا او ختیځ آسیا تر هېوادونو پورې خور شو.

د اشوک نه وروسته کنشکا باچا (kanshaka) دې مذهب ته نوره وده ورکړه. دهٔ د بودهیانو څلورم کونسل راوغوښت، په کوم کې چې د بودهي مذهب په حواله تشریحي او تفسیري کتابونه ولیکل شول. د اتمې صدۍ عیسوي پورې بودهي مذهب د هند په زیاته برخه کې خور شو. تر دې له مخه په پنځمه صدۍ عیسوي کې چیني سیاح فاهیان هند ته راغی. هغه لیکلي دي چې د هندي او بودهي عالمانو تر منځ ډېر فرق دی، خو د دواړو عبادت خانې یو بل ته ډېرې نزدې دي.

سلاویه siladis نومي دقنوج راجا یو کونسل راوغوښت کوم چې په ۶۳۴ عیسوي کې جوړ کړل شو. او راجا د ګیاه سره نزدې یوه خانقاه جوړه کړه، په کوم کې چې به د بدهـ مذهب عالمان او طالبعلمان په درس او تدریس کې مشغوله وو. کله چې په اوومه صدۍ عیسوي کې چیني سیاح هیون تسنګ د هند دوره وکړه نو په هغه دوره کې د برهمنو څهٔ نا څهٔ زور زیات وو، خو په سهېلي هند کي بدهمت غالب ؤ.

د وخت په تېرېدو سره د هندومت، جین مت او بدهـ مت تر منځ تعلقات خرابېدل پیل شول. بدهـ مت ته تر ټولو زیات تاوان رسونکی شخص کماریلا بهټ kumarila bhutta ؤ. بیا په اتمې صدۍ عیسوي کې شنکر آچاریه ۷۸۸ عیسوي څخه تر ۸۲۰ عیسوي پورې په ډېره منظمه توګه د دې مذهب مخالفت وکړ. د دې مذهب پر منونکو باندې یې ظلمونه پیل کړل، هم په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وجـه د دې مـذهب منونکـو پـه نـورو بهرنـي هېوادونـو کـي پنـاه اخستلو تـه مجبوره شـول. او ډېر خلـک د ځـان د بـچ کېدو پـه خـاطر پـه جـين مـذهب ورګـډ شـول. تـريوولسـمي صـدۍ عيسـوي پـوري بدهـ مـت تـر اړيسـه او کشـمير پـوري محـدود شـو. او بيـا يـې پـه ۱۱۰۲ عيسـوي کـي پـه کشـمير کـي هـم خاتمـه وشـوه. پـه مګدهـ (بهـار) کـي د اسـلام تـر راتـګ پـوري لاۀ خـو بيـا تقريبـاً دا مـذهب د هندوسـتان د کرامتي خاوري نه کډه وکړه.

**آیا ګوتم ذوالکفل دی؟**

مـا د ګـوتم د زوکـړي، خانـدان، مـورو پـلار، ښـځي، زوی او د مـت پـه هکلـه، لنـډ جـاج واخسـتو، اوس بـه راشـو هغـه خبـري تـه چـي د دۀ سـره پـه اسـلامي تـاريخ کـي تړلـې ده، يعنـي د "ذوالکفـل" ټکـی، چـي ډېـرو علمـاؤ کـارولی دی. د شـلمي صـدۍ ليکـوال حامدعبـدالقادر پـه خپـل کتـاب "بدهـ فلسـفي، حيـات و فلسـفه" کـي دا خيـال ظـاهروي چـي پـه قـرآن مجيـد کـي دوه ځلـه (سـورة ص او سـورة انبيـا) کـي چـي د ذوالکفـل يعنـي "کفالـت کولـو والا سـړی" نـوم راغلـی دی، کـوم څـوک چـي د صـالحين او صـابرين پـه نامـه هـم يـاد شـوی دی، دا پـه اصـل کـي د ګـوتم بدهـ و خواتـه اشـاره ده. ځينـي علمـاء يـا ذوالکفـل د بنـي اسـرائيل د قبيلـې حزقيـل يـادوي، لاکـن حامـد عبـدالقادر د دې وضـاحت داسـي کـړی دی چـي کفـل د کـپلا معـرب[3] شـکل دی کـوم چـي د کپـيلا وسـتو مخفـف دی. عبـدالقادر دا هـم ليکـي چـي پـه قـران مجيـد کـي چـي کـوم د انجيـر (انځـر) ذکـر دی (والتـين،۵-۹۵:۱) هغـه هـم د بدهـ د فلسـفې حوالـه ده. ځکـه چـي

[3] معرب: د بلي ژبي هغه ټکی چي د عربي ټکی يې ځيني جوړ کړی وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوتم ته "روښان ضميري" د انځر تر وني لاندي تر لاسه شوه. د ډېرو علماؤ له دې دليل سره اتفاق دی او هغو دا دليل هم وړاندي کړو چي په اوومه صدی، عيسوي کي نامتو مسلمان مؤرخ البيروني بدهـ فلسفي ته نبي ويلي دي. لاکن نور اهل فکر بيا دا دليل نهٔ مني او هغه وايي چې، البيروني محض دا خبره کړې وه چي په هندوستان کي خلګ و بدهـ فلسفي ته نبي وايي.

د نوموړي محقق سعدالله جان برق صاحب سره په يوه مرکه کي د ګوتم په هکله دا سي خبره منځ ته راغله چي ذکر يې ضروري ګڼم. د برق صاحب د وينا مطابق چي ګوتم په اصل کي په سوات کي زېږېدلی دی نهٔ چي په نيپال کي. کپل ټکی په اصل کي "کبل" دی چي د سوات يوه علاقه ده چي اوس هم شته. وستو هم هغه د سنسکرت "سواستو" ټکی دی چي په رېګ وېد کي د سوات د پاره کارولی شوی دی. دی مخ ته زياتوي چي تشدد په دې پښتني غرهٔ ايزه سيمه کي زيات وو چي ګوتم يې مخالفت د عدم تشدد په ناره پيل کړو. (والله العالم)

د ځينو علماؤ بيا دا خيال دی چي بدهيان چي د کوم بدها "متريه بدهـ" (رؤف او رحيم) شخصيت د راتلو ذکر کړی دی هغهٔ حضرت محمدؐ دی، ولي چي حضرت محمدؐ ته الله پاک په قرآن کريم کي، د سورة توبه په آيت ۱۲۸ کي رؤف او رحيم ويلي دي.

آيت: لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ (۱۲۸) سورة توبه

ژباړه: خلګو! تاسَو له، له تاسو څخه د الله رسول راغلی دی په کوم چا چي ستاسو تکليف ډېر سخت تېرېږي، څوک چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسو د ښېګړې غوښتونکی دی، څوک چې پر مسلمانانو ډېر شفیق او مهربان (رؤف او رحیم) دی.

اوس د هغه آیات مبارک مفهوم را خلو د کوم چې حامد عبدالقادر حواله ورکړې وه. په تفسیر ابن کثیر د سورة انبیاء د آیت ۸۵ او ۸۶ په هکله په تفسیر کې امام حافظ عمادالدین ابوالفدا ابن کثیر دا سې فرمایلي دي:

آیت: وإسماعيل وإدريس وذا الكفل كل من الصابرين(۸۵) وأدخلناهم في رحمتنا إنهم من الصالحين.(۸۶) سورة انبیاء

ژباړه:-" او اسماعيل او ادريس او ذوالكفل دا ټول صابرين خلک وو. موږ دوی په خپل رحمت کې داخل کړل، دا خلک ټول نېکان وو.

زهٔ د دې دواړو آیاتونو تفسیر د ابن کثیر نه بشپړه را خلم چې دا ټولې خبرې سمې واضح شي.

تفسیر، ژباړه:-" ذوالکفل نبي نهٔ بلکې بزرګ ؤ، حضرت اسماعیلؑ د حضرت ابراهیمؑ زوی ؤ. په سورة مریم کې د دوی واقعه بیان شوې ده. د حضرت ادریس علیه السلام ذکر هم تېر شوی دی. ذوالکفل خو بظاهر نبي معلومېږي، ولې چې د نبیانو په ذکر کې یې نوم راغلی دی. او خلک دا وايي چې دی نبي نهٔ ؤ بلکې یو صالح سړی ؤ او د خپلې زمانې باچا ؤ. ډېر عادل او با مروت ؤ. امام ابن جریرؒ په دې کې توقف کوي. فالله عالم.

مجاهدؒ فرمايي چې دا یو نېک بزرګ ؤ، او د خپلې زمانې د نبي سره یې عهد پیمان (لوظ) کړی ؤ او پر هغه قائم ولاړ ؤ. په قوم کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



به یې عدل او انصاف کولو. مروي دی چې کله حضرت یسع علیه السلام ډېر سپین ږیری شو نو یې اراده وکړه چې په خپل ژوند کې یې خلیفه کړم، او وګورم چې هغه څنګه عمل پرې کوي. خلک یې راجمع کړل او ورته یې وویل؛ درې خبرې چې کوم سړی ومني زه به هغه ته خلافت سپارم.

ټوله ورځ دې روژې نیسي، ټوله شپه دې په ولاړه (قیام) تېروي او کله دې هم غصه نه کوي. هیڅوک نه ودرېدو، یو سړی چې خلکو پر هغه باندې د کمزوره ګمان کوو ودرېدو او وې ویل چې زه دا پوره کوم. یسع علیه السلام پوښتنه ځیني وکړه چې ته به د ورځې روژې نیسې، د شپې به تهجد کوې او غصه به نه کوې؟ ده ورته وویل "هو". یسع علیه السلام ورته وویل چې ښه سبا ته به ګورو.

دویمه ورځ یې هم داسې د خلکو په مجموعه کې هغه سوال وکړو او هغه سړی ودرېدو. بیا ورته د سبا وویل شو. درېیمه ورځ هم د خلکو په مجموعه کې د غسې سوال وشو. بیا هغه سړی ودرېدو. نو دی یې خلیفه جوړ کړو. اوس نو شیطان واړه واړه شیطانان د دې بزرګ د غولولو د پاره رالېږل پیل کړو. لاکن د هیچا هیڅ اثر پرې ونه شو. ابلیس خپله راغی، غرمه دا بزرګ د قیلولې (د لږ سات خوب) د پاره پرېوتی لا نه ؤ چې د دې خبیث د دروازې ټټخ (کنډه ی) وهل پیل کړو. دې بزرګ پوښتنه ځیني وکړه چې څوک یې؟ شیطان په ځواب کې ورته وویل چې زه مظلوم یم، فریادي یم، زما د قوم خلک ماتنګوي، له ما سره یې دا وکړو، هغه یې وکړو. یوه اوږده قصه یې پیل کړه چې د ختمېدو وتې وه. په دغه کې د آرام وخت تېرشو. حضرت ذوالکفل په شپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ورځ کې صرف دا وخت به لږ ساعت د پاره په آرام وېده پدلو. دۀ ورته وویل چې ما زدیګر راشه، زۀ به ستا انصاف وکړم. اوس چې مازدیګر د فیصلې وخت راغی نو چې ګوري د هغه درک هم نشته، تردې چې خپله پسې هلته دلته وګرځېدی، خو یو ځای یې هم نۀ کړو پیدا. پردویم سهار هم نۀ راغی. کله چې د غرمې په وخت کې د حضرت د آرام وخت راغی نو دا خبیث بیا راښکاره شو او دروازه ټکول یې پیل کړو. دۀ دروازه خلاصه کړه او ورته یې وویل چې ما خو تاته د پرون مازدیګر ویلي ؤ، زۀ ستا په انتظار وم، تۀ رانغلې. دۀ ورته وویل چې حضرت څه درته ووایم، کله چې پرون غرمه زۀ ستا خوا ته را روانېدم نو هغوی راته وویل چې مۀ ځه. موږ ستا حق درکوو. زۀ پاتې شوم او هغوی اوس انکار کړی. نوري یې هم اوږدې قصې پیل کړې او د نن خوب هم ولاړی. مازدیګر یې بیا انتظار وکړو. لاکن هغه بیا نۀ راغی. دریمه ورځ حضرت یو سړی په دروازه کې ودروی چې ګوره یو سړی هم در نه رانۀ شي. د ناخوبۍ په وجه زما حالت وار په وار خرابېږي. حضرت به اوس وېده پدو چې هغه مردود بیا راغی او چوکیدار هغه راوګرځوو خو دی د کړکۍ نه دننه راغی او د دننه نه یې دروازه ډبول پیل کړه. حضرت ولاړ شو او چوکیدار ته یې وویل چې ماتاته ویلي وو چې یو څوک هم مۀ راپرېږده بیا هم تا د دروازې نه څوک دننه را پرېښي دي. چوکیدار ورته وویل چې زما له خوا خو هیڅوک نۀ دی درغلی. نو چې کله حضرت په غور سره وکتو نو یې دروازه د دننې خوا نه بنده ولیدله. حضرت وپېژندو چې دا شیطان دی. هغه وخت شیطان ورته وویل چې ؛ اې ولي الله! ما له

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاڅخه وبائله. نهٔ تا د شپې قیام پرېښودو او نهٔ په دې چوکیدار په داسي موقع غصه شوې.

وروسته له دې الله پاک د دهٔ نوم ذوالکفل کېښودو. هغه په دې چې د کومو خبرو دهٔ کفالت اخستې ۇ هغهٔ دهٔ په ځای کړې. (ابن ابي حاتم)

د ابن عباس ؓ نه هم لږ په داشان په تفصیل سره دا قصه مروي ده. په هغه کې ده چې د بني اسرائيلو يو قاضي د مرګ پر وخت وويل چې له ما وروسته به زما منصب (سرداري) څوک سنبال کړي؟ دهٔ ورته وويل چې ،زهٔ. هم له دې کبله د دهٔ نوم ذوالکفل شو.

په دې قصه کې دی چې کله به حضرت آرام کوو نو به شيطان راغی. چوکيدارانو به راوګرځوو خو بيا به هم دهٔ شور کاوه. د دې په وجه به حضرت له خوبه راويښ شو. داسي دويمه ورځ ، درېيمه ورځ يې هم وکړو. اوس نو حضرت له دهٔ سره تللو ته آماده شو چې زهٔ له تاسره ځم او ستا حق تاته دراخلم. نو په لاره کې شيطان د حضرت نه لاس خلاص کړو او ځيني منډه يې کړه.

حضرت اشعري ؓ پر منبر وفرمايل چې ذوالکفل نبي نهٔ ۇ. هغه د بني اسرائيل صالح سړی ۇ. کوم چې به هره ورځ سل لمونځونه کول. د هغې نه وروسته هغهٔ د داسي عباداتو ذمه واخسته. په دې هغه ته ذوالکفل وويل شو. په يوه منقطع روايت کې د ابو موسی اشعري ؓ نه هم دا رانقل شوې ده. په يوه ضعيف حديث مسند امام بن حنبل کې دی چې په هغه کې د کفل واقعه بيان شوې ده. ذوالکفل نهٔ دي ويل شوي. ډېره ممکنه ده چې دا يو بل څوک وي. په هغه حديث کې واقعه داسي ده چې کفل نومي سړی ۇ چې د يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګنـاه نـه یـې هـم مـخ نـهٔ اړوو. یـو وار دهٔ یـوې ښـځې تـه شـپېته دینـاره ورکـړو او هغـه یـې پـر بـد کاری (زنـا) بانـدې راضـي کـړه. کلـه چـې دهٔ خپلـه اراده پـوره کولـو تـه تیـاري ونیولـه نـو ښـځه پـه کـپ او پـه ژړا شـوه. دهٔ ورتـه وویـل چـې مـاخو بـه پـر تـا څـه زور زبردسـتي نـهٔ وې کـړې نـو بیـا د دې ژړا څـهٔ معنـا ؟ هغـې ورتـه وویـل چـې مـا تـر ننـه د الله یـوه داسـې نافرمـاني نـهٔ دې کـړې، هغـه وخـت ماتـه زمـا محتـاجي دا ورځ را ښـکاره کـړه. کفـل ورتـه وویـل چـې تـهٔ پـر یـوه ګنـاه دومـره پرېشـانه یـې؟ حـالانکې د دې لـه مخـه تـا داسـې هیـڅ نـهٔ دي کـړي. پـه هغـه وخـت یـې هغـهٔ ښـځه پرېښـوده او ځینـې جـلا شـو. او ورتـه یـې وویـل چـې؛ ورشـه دا دینـار ماتاتـه بخښـلي دي. قسـم مـې دي پـه الله وي چـې زهٔ بـه د نـن نـه وروسـته د الله یـوه نافرمـاني هـم ونـهٔ وکـړم. د الله شـان تـه ګـوره چـې پـه هغـه شـپه هغـهٔ مـړ شـي. سـهار چـې خلـک ګـوري نـو ددهٔ د کـور پـر دروازه پـه قـدرتي توګـه دا ټکـي لیکلـي شـوي وي چـې؛ الله کفل وبخښلو. "

دویـم ځـل د قـرآن کـریم پـه سـورة ص ۴۸م آیـت کـې د ذوالکفـل ذکـر راغلـی دی. الله تعـالی پـه دې آیـت مبـارک کـې فرمایي :

آیـت: وَاذْكُـرْ إِسْمَاعِ یـلَ وَالْيَسَـعَ وَذَا الْكِفْـلِ وَكُـلٌّ مِـنَ الْأَخيار(۴۸)سورة ص

ژبـاړه:- د اسـماعیل، یسـع او د ذوالکفـل ذکـر وکـړئ، دا ټول بهترینه خلک وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تفسير، ژباړه: - په ابن کثير کي د دې آيت تفسير صرف دومره راغلی دی چي "اسماعيل، يسع او ذوالکفل صلوة سلامه عليهم اجمعين د الله تعالی خوښ او په خاصو بندګانو کي وو".

د قرآن کريم د دې دواړو آياتو نه دا څرګندېږي چي ذوالکفل د الله يو صالح او تقوی داره بنده ؤ. په يو آيت کي يې ذکر د اسماعيل او ادريس عليه السلام سره راغلی او په يو بل آيت کي يې بيا د اسماعيل عليه السلام سره خو دويم ځل ورسره د يسع عليه السلام ذکر راغلی دی. هيڅ يوه داسي اشاره چي ځيني ثابته شي چي ګوتم ذوالکفل دی نهٔ څرګندېږي. دلته د قصص الانبياء(ابن کثير) يوه حواله هم را اخلم چي خبره ښه واضح شي.

د قصص الانبياء په يو روايت کي راځي چي ذوالکفل د ليا (ليه) عليه السلامي زوی ؤ. هغهٔ د يعقوب عليه السلام لور، د يوسف عليه السلام خور او د ايوب عليه السلام کورودانه وه. يعني ذوالکفل د ايوب عليه السلام زوی ؤ.

د قرآن د مبارک آياتونو د تفسيرونو او د قصص الانبياء د يوې واقعې نه دا څرګندېږي چي ذوالکفل د الله يو نېک صالح او تقوی داره بنده ؤ چي د بني اسرائيلو څخه ؤ. يوائې د هندوستان بهوپالي صاحب چي ګوتم خدای منونکی مني، نور ټول مؤرخين يې د خدای او د روح نهٔ منونکی او د تخليق کائنات په هکله يې چُپ ګڼي. د دې پورته ذکر شوو خبرو او اسنادو څخه څرګندېږي چي ګوتم بدهـ ذوالکفل نهٔ شي کېدای. هان دا کېدای شي چي د هند خلګو ګوتم بدهـ ته نبي ويلي وي. (والله العالم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـر دې لـه مخـه چـي د ګـوتم بدهـ پـه اړه خپلـي خبـري پـای تـه ورسـوم، د بـودهي مـذهب پـه هکلـه پـه افغانسـتان کـي د مونـدل شـوو مجسـمو او پـه دې خـاوره کـي د بـودهي مـذهب د خورېـدو پـه هکلـه د پوهنـوال محمـد رسـول بـاوري پـه زړه پـوري معلومـات لـه تاسـو سـره شـریکوم، هغـه پـه خپـل کتـاب "زمـوږ لرغونپوهنـه" کـي لیکـي چـي مشـهور چینـي سیاح هیـون تسـنګ د بودهـا د حقیقـي آثـارو پـه لټـون دافغانسـتان تـر ننګرهـار ولایـت جـلال آبـاد (هـډه) پـوري راغلـی ؤ. دهٔ د دې د پـاره پـه هنـد کـي څـو میاشـتي تېـري کـړي وې. بیـا پـه ۶۳۰م کـال پـه کنـدز کـي د څـه وخـت تېرولـو وروسـته د بلـخ، بامیـان، کاپیسـا او لغمـان ولایتونـو تـه هـم راغلـی. پـه جـلال آبـاد کـي یـې ډېـر وخـت تېـر کړی، او هم د ګندهارا له لاري هند ته رسېدلی دی.دی وایي:

"هیـون تسـنګ چـي پـه خپلـو لیکنـو کـي یادونـه کـړې ده، وروسـته بیـا بـل چینـي سـیلاني پـه شـپږمه پېـړۍ عیسـوي کـي د زیبـا[4]نـومي ځـای یادونـه کـړې ده، چـي و درونټـې تـه نـزدې د سیاه کـوه (تـور غـر) رود پـه غـاړه واقـع دی. (د دروټـې د برېښـنا بند سـهېل لـور تـه پـه دوه کلـومیټره کـي واقـع دی) هیـون تسـنګ یادونـه کـوي چـي سـهېل لوېدیځ خـوا تـه (۱۲۰) پـه شـاو خـوا کـي د ناګـاګو پالـه پـه نـوم سـمڅي موجـودي وې چـي بودهـا د خپلـو لارویـانو د پـاره پرېښـي وې. فاهیان هم د دغو سمڅو یادونه کړې ده."

د لرغونپوهـانو د پـاره چـي کـوم څیـز زړهٔ راښـکون پیـدا کـوي هغـه د بودهـا شـکل دی. د بودهـا د لـومړي شـکل پـه هکلـه د پوهـانو تـر مـنځ چـي کـوم شـهادتونه را مـخ تـه شـوي چـي د ګریـک بودیـک لـومړۍ مجسـمه یـې بـولي چـي "دا پـه ۱۸۳۴م کـال کـي د

[4] په دې نامه په بدخشان کي یوه سیمه او دره شته "زیباک دره"

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژرار د gacrad لخوا د کابل په شاوخوا کې ترلاسه شوې ده. او د هغه نه وروسته د ګندهارا په ټولو برخو کې د کیندنو په ترڅ کې دا مجسمې یا په دا شکل د بودها انځورونه لاس ته راغلي دي."

پر مخ لیکي چي "هغه څه چي په هند کي روښانه دی د ګریک بودیک د هنر نه مخ کي د بودها مجسمه د انسان په شکل نۀ ده جوړه شوې، او هر وخت د لیتوس (د لمر ګل په شان یو ګل) د ګل په شکل چي د خپلي غوړېدو ځالي حالت ته د رسېدو په حالت کي لیدل کېږي. او یا د دې په څېر د یوې بلي ونې په واسطه سره یې تېرې پاڼې درلودې (اشجار سوزني برګ) سره ښودل کېده. او د بودها مرګ یې د یوې عبادت خانې (معبد) کي ښودلی دی. او ځیني وختونه یې د دې پاره چي بودها په یو صحنۀ[5] کي موجود وښايي د هغۀ یې یو اویا دواړه پښې جوړې کړې. د بودها دغه شکل نۀ یوازې د ګندهارا بلکې د متورا په حوضه کي هم لیدل شوی دی. د بودهایي هنر او مذهب ځیني څېړونکي په دې عقیده دي چي په ګندهارا او په متورا کي هندي هنر دغه ستونزه تر ډېره بریده هواره کړې او دغۀ مسئله د ځانګړي علامو لاندې روښانه کړې. دغه دواړو مکتبونو د لومړي ځل د پاره د بودها شکل په رښتني انساني بڼه رسم کړ. خو د یو شي یادونه ضروري ده چي په متورا سبک کي د بودها په مجسمه کي کومي علامې او جزیات لیدل کېږي، په هندي سبک کي ښودنه کوي. هغۀ چي د هندي سبک د هنرمندانو ځانګړتیا وه."

در دی فیاویدانه حکایت کوي چي "شهزاده بمبسار غوښت چي د شاه را روکا (قطب لوېدیځ هند باچا) د پاره د بودها

[5] هغه ځای چي بازاري هنرمندان نڅېږي او یا کومه ننداره ښيي، سېل، تماشه، سټېج

(c) ketabton.com: The Digital Library



یـو انځـور ولېـږي، او د دې د پـاره یـې څـو تنـه هنرمنـدان (سـنګ تـراش، یـا انځـور ګـر) وګومـارل چې د بودهـا یـو ښکلې مجسمه جـوړه کـړي. د غـو هنـر منـدانو چـي هـر څـو مره وس وکـړ خـو مقصـد تـه نـۀ رسـېدل، تـر څـو بودهـا خپلـه د هغـو پـه وړانـدي (مـخ کښـي) نـۀ ودرېـدی. او وروسـته یـې دا تشـریح ورتـه وکـړه چـي لیـد د رسـم وړ نـۀ دی، نـو خپـل سـوری یـې پـه یـو تکیـه شـوي تختـه واچـوو. د هغـۀ وروسـته یـې هنرمنـدانو تـه لارښـوونه وکـړه چـي رنـګ یـې کـړئ. او د دې رسـم لانـدي دا درې اساسـي مطالـب د (بودهـا افکـار) ولیکـل چي عبارت يې دا ؤ، (بودها، قانون او جماعت)".

یـوه بلـه واقعـه هیـون تسـنګ د دې موضـوع سـره تړلـې داسـي بیـانوي چي "پـه ننګرهـار کـي بودهـا پـه یـوه غـار کـي پـه یـوه تیـږه بانـدي خپـل سـوری واچـوو چـي وروسـته د هغـه منونکـو د دې سـوري څخـه یـو شـکل جـوړ کـړو او د هغـې نـه یـې وروسـته د مجسـمې پـه شـکل کـي رامنځ ته کړو".[6]

د افغانسـتان پـه لـوګر ولایـت کـي د چینایـانو لـه خـوا د مِـس عینـک د کـان د کینـدني پـه تـرڅ کـي د بـودهي دور یـو ښـار مخـې تـه راغلـي چـي پکښـي بـودهي مجسـمې، لوښـي، د بودهـا رنګـین عکسـونه تـر لاسـه شـول. چي لـه دې دا څرګنـدېږي چـي بـودهي مـذهب پـه لـوګر ولایـت کـي څـو مره خـور ؤ. د ډېـره اسـماعیل خـان او بنـو پـر لویـه لاره پـه رحمـان ډېـری کـي هـم بـودهي اثـار مونـدل شـوي دي. د سـوات پـه جـان آبـاد سـیمه کـي د غـرۀ پـه یـوه لویـه پرشـه ۲۰ فټـه لویـه بـودهي مجسـمه کنـده ده. د ضـلع مـردان پـه بېلو بېلـو سـیمو کـي یـې ډېـر

[6] د جلال آباد او سنۍ هډې سیمه د هغه مهال "هیلو" د دوی تر ټولو مقدس ښار ګڼل کېدی نو ځکه "فاهیان" او "هیوان تسنګ" دلته راغلي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اثـار اوس هـم لیـدل کېـږي خـو لـه بـده مرغـه هغـهٔ لرغـوني مجسـمې او نـورد کـار څیزونـه خلکـو تـرې وړي دي او تشـي کنـډوالې پاتـه دي. دغسي په ټېکسلا کي هم ګڼ شمېر بودهي اثار موندل شوي دي.

پـه دې توګـه ډېـر بـودهي اثـار پـه پېښـور ښـارکـي هـم مونـدل شـوي دي چـي پـه هغـه کـي د شـاه جـي ډهيـرۍ ډېـره د اهميـت وړ ده. د دې شـاه جـي ډهيـرۍ پـه هکلـه پـه ۵م فـروري ۲۰۱۷ "آج" ورځپـاڼې " سـنډې میګـزین" کـي همـایون خـان اخونـد ډېـر پـه زړهٔ پـوري راپـور خپـور کـړی ؤ. اخونـد صـاحب د ډاکټـر سـید امجد حسـین پـه هکلـه لیکي چي " پـه شـاه جي ډهيـرۍ کي چي کومـه سـټوپه موندل شـوې وه پـه هغـه کـي د مهاتمـه ګـوتم بدهــد وجـود هــډونو ايرې (سـكاره) موجـودي وې كـوم چـي پـه دويمـه صـدۍ عيسـوي كـي كنشـكا باچـا تعمیـر کـړې وه. د دې سـټوپې پـه هکلـه درو چینـائي سـېلانیانو فاهیـان ۳۹۹ عیسـوي څخـه تـر ۴۱۲ عیسـوي پـوري، سـنګ یـوان ۵۱۸ عیسـوي او هیـوان تسـنګ ۶۳۰ عیسـوي پـه خپلـو لیکنـو کـي د دې پـه هکلـه لیکلـي دي. د هیـوان تسـنګ مطـابق چـي دا سـټوپه ۴۰۰ فټـه جـګ والـی درلـود کومـه چـي د مهاتمـه بدهــد د هــډونو د ايـرو د ښـخولو د پـاره جـوړه شـوې وه. کـوم د مسـو (تـانبې) ډبلـی چـي د دې سـټوپه نـه تـر لاسـه شـوی دی دا د هغـه وخـت حکومـت یعنـي پـه ۱۹۰۸ کـال کـي د برمـا و حکومـت تـه ورکـړی. څـه مـوده دا ډبلـی پـه شِـمله (هندوسـتان) کـي پـروت ؤ. اوس د دې ډبلـي يـو نقـل (Copy) پـه عجائـب ګهـر کـي پـروت دی. د برمـا حکومـت پـه "مامانـډلې" کـي يـوه نـوې سـټوپه جـوړه کـړه او دا ايـرې يـې پکښـي خونـدي کـړې. پـه ۱۹۳۹ دویم نړیوال جنګ کي لا دا ډبلی هلته پروت ؤ."

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې ستوپه څخه تر لاسه شوي ډبلي يوه عجيبه واقعه ده، چي کله په کال ۱۹۰۸ عیسوي کي ډاکټر سپونر د شاه جي ډهيرۍ کيندنه پيل کړه نو دغه ته د کيندني په ترڅ کي يو بلوري د مسو ډبلی چي پکښې د ګوتم بدھ باقيات (سېځلي هډونه) وو تر لاسه شوه. دغه د هغه وخت سرکار ته د دې ډبلي په هکله څه داسي وليکل.

" جناب!

مطابق قوانین دقیقه ۱۸۷۸عیسوی پیراگراف (دفعہ) نمبر ۴ کے تحت (سال ۱۸۷۸) میں جناب کی خدمت میں ایک کیس کٹ (ڈبہ) جس کے اندر ایک صندوقچہ ہے تبرکات ملا ہے۔ جس کے اندر آثار قدیمہ ہے۔ میں نے بحیثیت سر مینڈیٹ آرکیالوجیکل سروے دریافت کیا ہے۔ تانبے کے ڈبے پر کندے لکھائی کے مطابق کہ اس کو کشان بادشاہ (کنشکا) نے (اندازاً پہلی صدی عیسوی) دفن کیا ہے۔ اور ابتدائی چینی سیاحوں کے شہادت سے ثابت ہوتا ہے کہ اس بلوری ڈبے میں جلی ہوئی ہڈیاں مہاتما گوتم بدھ کی ہیں۔ اس دریافت کے آثار قدیمہ کے حوالے سے جڑی تعلق سے یہ تمنا کی جاتی ہے کہ اس کو حکومت کیلیئے (دفینہ ایکٹ) دفعہ نمبر ۱۶ کے تحت حاصل کیا جائے۔ اور میں آپ کا ممنون رہونگا کہ اگر آپ اس سلسلے میں اقدام اٹھائیں۔ اور سرکاری نوٹس شائع کرائیں۔ جیسا کہ دفعہ نمبر ۵ (مذکورہ ایکٹ) کے تحت ضروری ہے۔"

دا ډهيرۍ په اصل کي هغه وخت د ساداتو کورنۍ وه. د کيندني په حواله د سرکار او د دې کورنۍ تر منځ يو لاس ليک شوی ؤ چي که د دې کيندني په ترڅ کي هره خزانه يا آثار قديمه تر لاسه شوه نو د دې نيم حاصل به د ساداتو کورنۍ وي. که بتان وغيره و موندل شو نو هغه به بلامعاوضه و سرکار ته ورکوي. سرکار دا کورنۍ راوغوښته او د هغه وخت زرګرانو خپل خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



قیمتونه وویل چې په پای کې د پټې کمشنر د دې بلورې د بلې قیمت ۴۵ روپۍ ولګوو. سادات کورنۍ ته یې ۱۳ روپۍ او ۸ آنې ورکړې او دا ډبلې یې سرکاري ملکیت وګرځاوه.

له بده مرغه هغه وخت سرکار دا ډهیرۍ له سادات کورنۍ څخه نهٔ واخسته، چې کله ورته د آثار قدیمه له خوا وویل شو چې دا ډېره مهمه آثار قدیمه ده نو دوی د سادات کورنۍ څخه دا ډهیرۍ په پیسو اخستلو فېصله وکړه، خو سادات کورنۍ دا نهٔ کړه پر خرڅه.نن سبا د دې ډهیرۍ نوم اخون آباد نمبر ۱،۲ دی".

د دې نه دا واضح کېږي چې د بودهي مذهب منونکي خپله د پښتانه قام و لوی ټاټوبي ته د خپل مذهب د تبلیغاتو په هکله راغلي وو. په کومو پښتني سیمو کې چې په لویه کچه بودهي آثار تر لاسه شوي دي په هغو کې لوګر، ټېکسلا، ننګرهار، کابل،پېښور، بامیان، مردان، چارسده، سوات، بونېر او نوري پښتني سیمي شاملي دي.

کله چې بدهـ مت د هندوستان نه کډه وکړه نو خلګو ته څرګنده شوه چې په دې مذهب کې ډېري خامیاني وې. یعنې د خدای تصور، الهام و وحي بالکل نهٔ وو. او په خاصه توګه د تخلیق کائنات په هکله د بدهـ مت مذهب خاموشي یو ډېر لوی سوال ؤ. برهمنو د دې مذهب د ختمولو د پاره هره جائزه او ناجائزه لاره خپله کړه، لاکن بدهیانو د دوی مخ نیوی او مخالفت ونهٔ کړ. هغه په دې چې د بدهـ مذهب بنسټ پر عدم تشدد ولاړ ؤ.

د عدم تشدد پیرو کارګوتم بدهـ دا اتیا کالو په عمر کې غالباً ۴۸۰ ق،م یا ۴۸۸ ق،م د پیردا په سیمه کې مړ شو. د دهٔ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وجود سکاره (ایرې) یې په بېلا بېلو هېوادونو کې په بېلا بېلو ستوپو (د منارو په شان لویو ګنبدو) کې پټې کړل شوې.

یوه مهمه خبره دلته په دې ضروري ګڼم چې د ګوتم بدهـ او د بدهـ مذهب بنیادي مقصد عدم تشدد او د انسانیت سره مینه وه خو په اوسني وختونو کې د ګوتم او د بدهـ مذهب د عدم تشدد فلسفه پر تشدد بدله شوې ده. تاسو وینئ چې له څو کلونو راهیسې په روهنګیا (برما) کې د تشدد یوه خونړۍ څهره د بدهـ مذهب منونکو خوره کړې ده. د مذهب په نامه انسان وژنه یې د سوشل میډیا، پرنټ میډیا او له مستندو رسنیو له لارې په ټوله نړۍ کې خوره ده او د نړۍ هغو بشردوستو هېوادونو چې د انسانیت او بشر دوستۍ دعوېدار دي پر دا ظلم او بربریت سترګې پټې کړې دي. نهٔ پوهېږم چې هغهٔ کوم مقاصد دي چې د انسانیت نه بالاتر دي، او دغه حال له تېرو څو لسیزو راهیسې د پښتون افغان اولس هم دی.

ما چې کله دا کتاب (*گوتم بدھ، زندگی اور افکار*) ولیدو او بیا مې ولوستونو مې و یوه، دوو مشرانو لیکوالانو ته دا کتاب ښکاره کړو، هغو زهٔ دې ته وهڅولم چې دا کتاب و پښتو ته وژباړم. ولې چې تر اوسه زما په فکر په پښتو کې ما سوای د پروفېسر محمد پرویش شاهین صاحب، پر ګوتم بدهـ باندې کار د نیست په معنا دی. او ورسره ورسره د مذاهبو په حواله زما د قام د تاریخ طالب علمان به د یوه لرغوني غیرسامي نړیوال مذهب د عقیدې او افکارو څخه خبر شي.

د هغو ملګرو پښتنو نومونه دلته په دې ضروري ګڼم چې د دوی په داډ او مرسته دا کتاب تر چاپ ورسېدی. لکه د نومورې څېړونکي شوکت ترین صاحب، رئیس ریحان منګل صاحب. مشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوال او څېړونکي اروابناد عبدالعلي غورغشتي صاحب،(دا وخت لا ژوندی ؤ، پر ګوریې نُور شه) د کالم نګار محترم عمرګل عسکر صاحب، د مشر لیکوال سلیم بنګش صاحب، د محترم لیکوال فدا محمد لېوال نورزي صاحب،پروفېسر مولانا عبدالخالق مندوخېل صاحب، د همځولي لیکوال ښاغلي حبیب الله کاکړ صاحب، مولانا محمد فرید صاحب او میر حسن خان اتل صاحب ډېره زیاته مننه کوم. د خلیل الله تصمیم او د محمود رشي صاحب هم کورودانی کوم چې د دې کتاب په ترتیب او ښائست کې ډېر سترې شو.

ژباړه یو ګران هنر او ستړی کار دی ځکه که له ما لږ و ډېري تېروتنې شوي وي او شوي به هم وي، ولې چې په دې تاریخي اثر کې ډېر داسې د هندي او پالي ژبو لغتونه وو چې مایې لغوي معنې په یوه قاموس کې هم نهٔ وموندل، هیله لرم چې تاسو به زما دا نیمګړتیاوې په زړهٔ درنې نهٔ اخلئ.

ستاسو د روښانه او سوکاله سباوون په هیله، په درنښت

**زړګی علیخېل**

سهېلي پښتونخوا، کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخذ لیکونه




| کتاب | مصنف | مخ |
|---|---|---|
| بدھ مت، تاریخ عقائد و فلسفہ | رابرٹ وین ڈی ویئر، اردو ترجمہ، ملک اشفاق | 9،10،11 |
| تاریخ مذاہب | رشید احمد، ۱۹۲۸ چاپ | 154،155 |
| ایضاً | ایضاً | 332،330،331 |
| ایضاً | ایضاً | 334،335 |
| ایضاً | ایضاً | 342،343 |
| ایضاً | ایضاً | ،348 345،346،347 |
| زموږ لرغونپوهنه | پوهنوال محمد رسول باوري | 152،156،157 158، |
| تاریخ عالم پر ایک نظر | پنڈت جواہر لال نہرو | 105،106،107 |
| د نور مظهرونه | عبدالرحیم مجزوب | 184 |
| ہندوستان سے اپجے دیگر دہرم، بدھ، جین۔ | محمد اسماعیل ہاتف بھوپالی، دسمبر ۱۹۲۳ | 1,2 |
| بدھ مت اور اسلام | الیگزنڈر برزن، ترجمہ، ڈاکٹر امجد علی بھٹی | 112 |
| تفسیر ابن کثیر، سورۃ انبیاء آیت، ۸۶،۸۵، جلد، جلد سوئم | حافظ عمادالدین ابوالفدا ابن کثیر، ترجمہ، خطیب الھند مولانا محمد جوناگڑھی، | 420,421,422 |
| تفسیر ابن کثیر، سورۃ، ص آیت، ۴۸ جلد چہارم | ایضاً | 407,408 |
| تفسیر ابن کثیر، سورۃ توبہ، آیت ۱۲۸ جلد دوئم | ایضاً | 416 |
| قصص النبیاء۔ | حافظ عمادالدین ابوالفدا ابن کثیر | |
| د وېب له لاري د بدھ ایزم په هکله بېلي بېلي ویډیوګاني، ډاکومنټریاني او قاموسونه | | |
| آج ورځپانه، شاه جي ډهيري سنډې ميګزين، ۵ فروري ۲۰۱۷ | همایو خان اخوند | 21 |
| زاهد پښتو، پښتو سیند | عبدالقیوم زاهد مشوانی | |
| ظفر اللغات | بهادر شاه ظفر کاکاخیل | |
| تذکرہ، جلد اول | علامہ محمد عنایت اللہ المشرقی | 61 |
| سو عظیم انسان | مائیکل هارټ، ژباړه: عاصم بټ | 41 |
| دینیات | سید ابوالاعلی مودوديؒ | 9,46 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عکسونه



د افغانستان په بامیان ولایت کي د بدها تر ټولو لویه مجسمه

(c) ketabton.com: The Digital Library





په ټېکسلا کي ترلاسه شوي بودهي دورۀ بريني مجسمې



په کابل ميوزيم کي پروت په لوګر کښي موندل شوې بودهي مجسمه

(c) ketabton.com: The Digital Library






په افغانستان کي موندل شوی یو رنګین بودهي عکس



په میوزیم کي پرته د ګوتم بدهـ لرغوني مجسمه

(c) ketabton.com: The Digital Library





د سوات په جان آباد کې پر یوه پرشه د بدها لرغونې مجسمه



په کابل میوزیم کې پروت په لوګر کې موندل شوی رنګین بودهي عکس

(c) ketabton.com: The Digital Library





د افغانستان په لوګر ولایت کي د مس عینک په کیندني کي موندل شوې د بدها لرغونې خاورینه مجسمه



د افغانستان په لوګر ولایت کي د مس عینک په کیندني کي موندل شوي د بدها لرغوني خاوریني مجسمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ګوتم، نوټ

د سراوستي[7] د اوبو شورد اوريدلو او پر شګه باندي د باد څخه ورک شوو نخښو (پلو) لوستولو والا په دې خبر دي چي هند او سندهـ د خپل زراؤ کلونو په ارتقائي سفر کي رشي (هندي عالمان) ستګرو (ويدي عالمان) او وليان زيږولي دي. د کوم چا چي د علم او عرفان او د پوهني څخه د دې سيمي خاوره دومره سېرابه شوې ده چي د تېرو سلګونو کلونو څخه روانه نظرياتي او غير نظرياتي يرغلګري او فرقه پرستی باوجود د ميني او عدم تشدد څخه د معطري خاوري ډېره پُر لذته خوشبو د دې په ذره ذره کي اوس هم جذب ده.

دا هغهٔ خوږ بوی دی چي د وريځو سره يې خپل سفر جاري ساتلی او په ځمکه کي خوارهٔ غرونه، ځنګلونه، صحراوي او د درياب ونو برخه جوړ شوی دی. له هم دې خوږ بوی څخه مهرګړهـ، ګجرات او د کاټهياوار غوندي ښاري رياستونه جوړ پيدل پيل شول، کوم چي زموږ د عهد قديم افتخار ګڼل کيږي او د قبل از آريه سماج ورثه هم ده. نن هم هغه څيړونکي چي د دې ښارونو نهٔ ورکيدونکي د خاورو په رنګو کي د دې سماج د معلوملو په هڅه دي، پوهيږي چي سياسي، معاشي او د روحاني اقدارو په اړه دا خطه پر ځان د عهد قديم ناز کوي. لاکن دا ښاري رياستونه د آرياؤ د راتګ سره سره لږ د خپلو کمزوريانو او تر ډېره حده د بهرني حمله آورو د يرغلګری په وجه خپل دا سفر جاري نهٔ وساتلو. د منځنی آسيا د لاري، د لوېديځي او سهېلي

---

[7] په هندوستان کي يوه لرغونې سيمه چي اوس د يو سيند په نامه موجوديت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آسیا پـر دې ښـاري ریاسـتونو بانـدي د آریـاؤ حملـې، د طوفـان نـوح ؑ نـه هـم زیـات وېرونکـي اثـرات واچـول. پـه سـمندري طوفـان کـي د هرڅـه بـایللو والا خـو صـرف د اوبـو د شـوه کېـدو پـه انتظـار وي، او څنګـه چي اوبـه د خپلـو پخوانیـو لارو و خـوا تـه برابـري شي نـو دوی د ژونـد د تېرولـو هڅـي بېرتـه د پخـوا پـه شـان پیـل کـړي، لاکـن د آریـاؤ دې خطـې تـه راتـګ یـو داسـي نـهٔ ختمېـدونکی طوفـانؤ چـي د دې ځـای پـه تهـذیب کـي داسـي ونښـت چـي د مینـي او عـدم تشـدد بـرخلاف، خـوف او تشـدد تـه یـې وده ورکـړه. انتقـام او د جنګـي جنـون پـه هکلـه د شـاعری، څخـه را واخلـه د انسـان او ځنـاورو مـذهبي او قـانوني قتـل، کلتوریـې د دې سـیمي نـهٔ بېلېـدونکې برخـه وګرځولـه. لکـه څرنګـه چي د سېلاب نـه ځمکـه سېرابه شي، هـم دغـه شـان د آریـاؤ راتـګ او د یلغـار مثبـت اړخونـه نـهٔ شي نظـر انـدازه کېـدلای. لاکـن دا یـو ویـرجن حقیقـت دی چـي د نفسـا نفسـی، او د مهـاجرت کـوم کلتـور چي د آریـاؤ د راتـګ نـه پـه دې سیمه کـي وده وکـړه، دغـه د نفـرت او انتقـام رویـې تـر ډېـره حـده د مضـبوط نـه هـم مظبـوط کولـو پـه اړه د یـو معـاون کـردار ادا کـړی. سپین، تـور، اوږد ، ګـردی، ځـایي، غیـر ځـایي او مارشـل ریـس (جګـړن قـام یـا نسـل) غوندي فاشستي نظریات یې زموږ په وینو کي شامل کړو.

زمـوږ پـر سـیمه هنـدي دیو مالا (هنـدي خیـالي کیسـې) هـم د دې نظریـاتو پـه وجـه وده وکـړه. یعنـي پـه ویـدونو او ویـدک کلتـور کـي جګـړن آریـائي قبیلـو ماسـوا ځـایي قبیلـې یـې د هنـدي دیومـالا برخـه وګرځـولې. لاکـن هنـدي دیومـالا پـه یـو ځـای کـي هـم د آریـاؤ د برتـری، اصـول نـهٔ کـړو هېـر. هـم دا وجـه ده چـي هنـدومت او د هغـه څخـه متـاثر ټولـو مـذاهبو کـي آریـائي برتـري پـه څـه نـا څـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شـکل کـي موجـوده ده. بـاوجود د دې چـي مسـلمانان پـه هنـد او سندهـ کـي د هندوانو سره بـراه راست د تصادم پـه شکل کـي داخـل شـول. پـه هندوستاني مسـلمانانو کـي آريـائي برتـري تـر ډېـره حـده موجـوده ده. ګـوا د هړپـه، موهنجـو داړو او نـور قبـل از هړپـه ښـاري رياسـتونو د سياسـي و معاشـي نظـام پـه هکلـه مـوږ تـه تـر ډېـره حـده معلومـات نشـته. لاکـن د دې ځـای پـه کنډوالو کـي تـر لاسـه شـوې علمـي رښـا ثځـه دا خـو پـه اسـانۍ ويـلای شـو د دې ځـای پـه تهـذيبو کـي اعلـی شـکلونه ليـدل کېـدل. د دې بـاوجود مـوږ تـه پـه دې خپلـه سيمه کـي د دې قـديم ښـاري رياسـتو او پـه دوی کـي خـور تهـذيب و تمـدن تسلسـل پـه نظـر نـۀ راځـي. پـه سپت سـندهو کـي يـې د فـتح نغـارې د ويلـو وروسـته آريـاؤ د مـذهب د کرهنـي د پـاره پـه شـمالي هندوسـتان کـي د ګنګـا او جمنـا غـاړي خوښـي کـړې او هلتـه يـې د خـور ځنګلـه د ختمولـو وروسـته د ويـدک ادب د بنسـټ سـره يـې اړيکي جوړول لګيا کړل.

يـو دلچسـپه امـر دا دی چـي دوی پـه دې کـي ځـای پـر ځـای ديسـي (کورني) رنګونـه هـم خـور کـړو. دا ديسـي رنګونـه کـه چرتـه د قبـل از آريـا نمائنـدګي يـې هـم کولـه نـو د مسلسـل مزاحمت امـين هـم وو، د کـوم مـخ نيـوی چـي د آريـاؤ د ګنګـا و جمنـا تـر نـاوې پـوري د را رسـېدو پـر وخـت وشـو. د کـوم پـه وجـه چـي د نـوي مکتبـه فکـر بنيـاد ايښـوونکو او د هغـو خپـل مـت (مـذهب) د مقبوليـت او د خپـل هـم پلويـانو پـه تعـداد کـي د اضـافې د پـاره د تـورو خدايانو او قبـل از آريـائي بهجـن (منتـر) يـې د ويـدک ادب مسـتقل برخـه وګرځـول. لهـذا د نـوي مـذهب پيرو کـارانو لـه دوی ثځـه مـخ کـي خـور شـوي علـم و فکـر سره يـې مخـامخ د جنـګ ثځـه پرتـه دا د خپـل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـذهب د وجـود یـوه ماتـه برخـه وګرځولـه. لاکـن پـه حقیقـت کـې دا داسـې برخـه وه د کـوم مقـام چـې د جاهلـه، بـې علمـه او شـودر څخـه عبـارت ؤ . دې نـوي مـذهب چـې و بـراهمن تـه کومـه بزرګـي او مقـام ورکـړو، هغـه بـالاخر د دهٔ د غـاړې تـوک جـوړ شـو. دا صـحيح وه چـې پـه فکـري اعتبـار بـرهمن د کـوم مقـام او مرتبـې مسـتحق ؤ چـې دهٔ تـر لاسه کـړو، لاکـن پـه عملـي ژونـد کـې بـراهمن يـو داسـې بـلا جـوړ شـو کـوم يـوې چـې ټـول هنـد ومت پـه کـراره کـراره تـر حلقـه تېـر کـړی. اوس تـر پربهـو (لـوی براهمنـي عـالم) تـه د رسـېدلو د پـاره لاره بـراهمن وګرځېـدی. ويد ونـه يـې پـه داسـې ژبـه وليکـل چـې د دې سـيمي د خلګو د پاره نا پېژندونکې وه.

مـورنۍ ژبـې يـې د ځنـاورو ژبـې او سنسـکرت يـې د علـم او عرفـان ژبـه وګرځولـه. دا هغـهٔ لسـاني روايـت دی د کـوم تسلسـل چـې بيـا وروسـته هنـدي مسـلمانانو، عربـي او فارسـي د علـم او قـانون ژبـه وګرځولـه، او مـورنۍ ژبـې يـې تـر ټولـو کـم تـره او نـا مکملـه وګرځـولې. دا د بـرهمن مـت ابتـداء وه کـوم چـا چـې پـه دې مـور ځمکـې بانـدې د خـوف او جانبـدارۍ بنسـټونه کښېښـول، لامحالـه د دې طوفـانونو ردعمـل فطـري ؤ. د زرنـه بيـا تـر پنځـه سـوه کالـه قبـل از مسـيح زمانـه د داسـې بـې شـمېره هنګامو څخـه عبـارت ده. دا خبـره د خوشـحالۍ ده چـې د دې ځمکـې زامنـو د ازادۍ د پـاره د هيڅ يـو مقـدس يـا غيـر مقـدس فکـر، پلويـان نـهٔ شـول جـوړ او د دوی خـلاف يـې مسلسـل د ازادۍ بيـرغ جـګ وسـاتلو. پـه دې عمـل کـې داسـې هـم ؤ چـې پـه دويمـه لاره يـې د بـرهمن مـت مقابلـه وکـړه، دا هـم يـو منطقـي ردعمـل ؤ چـې داسـې صـورتحال هيڅ کله هـم د يـو ازيـت ناکـه حقيقـت نـه کـم نـهٔ وي. لاکـن پـه داسـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حال کي هغهٔ کوم چي د منځ لاره باسي، هغهٔ دي کوم چي د حالاتو خبر مسلسل پخلپه موجودګۍ کي داسي ثابتوي لکه د شپې په خاموشۍ کي د مِسو د پاولیو شرنګار. د منځنۍ لاري بې شمېره پلټونکي د دې ګونجلي معمې د حل کولو په هڅه کي کلي په کلي د کوڅو خاوري يې په سر بادولې او د دا معلومولو په کرب کي مسلسل د يوې انتها څخه تر بلي انتها پوري روان وو.

بیا په دې بهېدونکو خلګو کي د مایا ښاغلی ګوتم هم شامل شو او د دې نا لیدلوا و لا متناعي لارو د سلسلو برخه جوړ شو. د فکر په خولو لوند کله به د سمندر په غاړه د شګو سره شو او کله به د سمندر څپو دی د سمندر په تل کي تر تله ورسوو. او بیا چي کله دهٔ د مراقبې (تیاګ) په وسعت کي لیدل وغوښتنو هغه د ګیان (فکر) و هغه منازلو ته ورسېدو د کوم د خواهش په لاره کي چي بې شمېره مسافران کچکول په لاس کي په تیارو لارو کي روان د مرګ سره ملهٔ شو. هم دغه هغه لمحه وه چي ګوتم د بدهـ پوري سفر مکمل کړو.

د بدهـ مذهب په دومره تېزۍ د خورېدو وجه نهٔ خو فتوحات دي او نهٔ قبضې. بلکې د دې حقیقي وجه دا ده چي بدهـ مت په کوم هېواد کي خور مذهب د علم تردید کولو پرته د هغهٔ څخه مدد اخستو. او د هغوی هم خیال او روحاني و فکري عظمت غندني څخه پرته يې خپل سفر پیل کړ. په دې هکله دهٔ له مخه خور شوي فکر تذلیل نهٔ وکړو نو د دهٔ هم تذلیل نهٔ شو وه. د مناظرو په مقابله کي يې مزاکرې، د ټکراؤ په مقابله کي يې جوړښت، د مسکا په مقابله کي يې خندا، فتح او شکست په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقابله کې يې د مينې او امن فضا جوړه کړه. په دې وجه د بدهـ مذهب (علم پوهنه) خورشو. د بدهـ د نظرياتو مقبوليت د دهٔ د پېروکارانو (پلويانو، امت) وو. خو د نورو مذاهبو په پېروکارانو کې دا افکار په ډېر عزت او احترام ليدل کېږي.

د هغهٔ حقيقت ژوندی اظهار موږ دلته ښهٔ ليدلای شو. د دې باوجود چې د بدهـ د پېروکارانو شمېر په وړو کې د مالګې په شان کم دی، او بدهـ د خپل ټاټوبي څخه شړنه په برخه شوې وه. لاکن دلته نن هم عيسائيان، هندوان، مسلمانان، سکهان او په نورو مذاهبو کې په ډېر مشکل سره داسې نومونه ليدل کېږي د کوم چا چې خلاف نهٔ به تعصب وي او نهٔ نفرت. هم په دې نومونو کې د ګوتم نوم يو ممتاز حېثيت لري. د ګوتم د يو ژوندي علامت په څير نن هم زموږ په ټولنه کې موجود دی. د دې باوجود چې د بدهـ مت پېروکاران او مبلغين د نشته په معنا دي.

د ګوتم روحاني وجود و هر انسان ته په منې کې د بخملي کمبلي تود شوربخښي او ورسره د دهٔ درس د نسلي برتری او مذهبي برتری برخلاف د ټولو انسانانو د پاره يو برابر دی. دهٔ برهمن، شودر، سيد، غير سيد، ځايي، غير ځايي څخه پرته و هر انسان ته د خپلې ازادۍ احساس او درس ورکړی. او دهٔ وويل چې نهٔ خو د چا، ګرو (استاد)، پير يا مسيحا شته او نهٔ د چا مجاور، مريد يا امت. د دې برعکس کوم انسان چې د خپلو خواهشاتو پر ګنجلي نفسياتي جال باندې د کره کتنې نظر وکړي او هغه رد کړي نو هغهٔ حقيقي ازادي ترلاسه کړي. او په دې توګه هر انسان ته يې دا زېری ورکړی چې هغه د خپل تقدير خپله خالق دی، او د خپل ښهٔ او بد خپله ذمه واره دی. د ازادۍ او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذمه واری پر بنا دا یوه داسي نقطه وه چي له دې سره د بني نوع انسان تړون لازمي ؤ.

نو د دې پرېکړه شوې ده چي د هند او سندهـ په تاریخ کي تر منو منو خاورو لاندي اوس هم یو ژوندی مثال دی. او دې ته منتظر دی چي د بحیره عرب په اوبو کي یوه غوټه ووهي او د دې تر تله پوري ځان ورسوي. بیا بېرته د راستنېدو په دې سفر کي په خپلو لاسو دا خاوره راواخلي او په دې ځمکي یې خوره کړي تا چي د دې خاوري په خوشبو سره زموږ نن ته د میني او امن غسل په نصیب شي. په دې کي هیڅ شک نشته چي زموږ "نن "د درندګۍ، خوف، فرقه پرستۍ او د جهنم څخه عبارت دی او دا دردناکه روان وخت زموږ د تېري ورځي تسلسل دی. هغه تېره ورځ چي د پردیو د راتلو پر وخت زموږ تر منځه جګړې او زموږ د خپل تاریخ سره د غدارۍ سوب.

کله چي مېندي د خپلو زامنو او خاوره د خپلو ښاغلو د لاسه بې عزته شي نو بهرني خلګو ته زخم ورکول هیڅ معنا نهٔ لري. هم دغه هغه مقام دی چي انسان پخپله په خپل عدالت کي ودرېږي. خپله ملزم، خپله قاضي، د دهٔ خوښه ده چي عدالت له منځه یوسي یا ځان ازاد کړي. او نن موږ هم د دې حالاتو سره مخامخ یو.

موږ چي په تېر زراؤ کلونو کي و کومي بڅرکي ته پُوک ورکړی دی که هغه نن زموږ په مخ خپل تودش پرېښی دی نو پکار دی چي موږ خپل بانهٔ د سېځېدلو سره ځان ستي (ژوندی په اور ورګډېدل) کولو ته تیار کړو. د بدلون او ترقۍ ټولي لوړي استعارې کومي چي موږ د خپلو حکمرانانو نه مستعار

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخستي دي، يو يو د دې اور نه سکاره تري جوړيږي او موږ يو چي دې ته د بل لګولی اور وايو. هو، که موږ خپله ګناه قبوله کړو او دې زندان ته ځان وسپارو نو کېدای شي چي زموږ راتلونکي نسل ته يوه ښه لاره پرېږدو. هغهٔ لومړی ګام چي په اخستلو يې د فرش نه تر عرشه پوري ټول قلفونه خلاصيږي، او تياري ختميږي. دا هغهٔ لومړی ګام دی چي د دې په اخستلو کله نا کله پر موږ ډېر زيات کلونه بې نخلستانه په يوه ناتمامه صحرا کي تېر شي او کله موږ د هغه او بو په څېر شو چي د هغې پر سر ولاړه زومی (لوخه، د ګند يو پوستکی) ورځ په ورځ توربخونې اوړي. په پيل کي چي دا کتاب تر ما را ورسېدی نو ما فکر وکړی چي پر ګوتم باندي زموږ سره هيڅ داسي مواد نشته، نو مي د خورولو نيت وکړی او د ځان سره مي دا عهد وکړی چي زهٔ به دا ضرور خوروم.

دا کتاب موږ ته د طاهر اصغر د کتابتون نه د زاړهٔ کتابونو څخه تر لاسه شو. کله چي موږ دا کتاب وليدو نو د پوښتيـ (ټائټل) پر ځای يو سپين کاغذ پر لګېدلی ؤ. د کتاب دننه د سرليک مضامينو پورته چا ليکلي وو (ګوتم بدهـ) ډاکټر محمد حفيظ سيد، ايم،اې – پي، ايچ، ډي.ډي لټ.

طاهر اصغر نه پوښتنه وکړه نو د محمد حفيظ سيد په هکله دهٔ ته هيڅ معلومات نهٔ ؤ. موږ د ډېرو خلګو نه پوښتنه وکړه، يو بنګالي ملګري نه دا معلومه شوه چي ډاکټر صاحب پر هندوستاني فلسفه باندي يو کتاب ليکلی ؤ، لاکن هغهٔ ملګري ته هغه کتاب نهٔ شو ترلاسه. خدای بخښلي صفدر مير هم د لاعلمیـ اظهار وکړو. هم په دې وجه موږ دا کتاب بغير د مصنف

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تعرف خپورو و. که په تاسو کي څوک زموږ په دې هکله کومک کولای شي نو موږ به په را روان ایډیشن کي دا کمي پوره کړو.

دا نوټ په جون ۱۹۹۶ کي لیکل شوی ؤ، لاکن د کتاب په مکملیدو او خوریدو کي دوه کاله نور ولګیدو، دې نه مخ کي یو ملګري دا نوټ ولیدو او د هغه په مشوره په دې نوټ کي نور کار هم وشو او د هغې په رڼا کي دا تر خوریدو ورسیدو. زهٔ د هغه ملګري ډېره مننه کوم چي پر وخت يې کومک راکړو.

مننه

عامر ریاض ستمبر ۱۹۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مقدمه

د قبــل مســیح پنځمــه او شــپږمه صــدۍ د نــړۍ د پــاره یادګـاري دي. پـه دې کـي هـیڅ طوفـان نـوحٌ نـهٔ ؤ راغلـی، او نـهٔ کـوم قیصـر ټولـه نـړۍ فتح کـړې وه. لاکـن پـه انسـاني ذهـن، اخـلاق او پـه ټـولنیز ژونـد کـي داسـي انقلابونـه راښـکاره شـول چـي تـر قیامتـه بـه یـې اثـرات وي. پـه یونـان کـي فیشـاغورث، پـه ایـران کـي زرتښـت، چـین کـي کنفوشـس او پـه هندوسـتان کـي ګـوتم او مهـاویر غونـدي د مـذاهبو بنسـټ ایښـوونکو د زوکـړې تـاج هـم د دې صـدیانو پـر سـر دی. پـه دوی کـي دهـر یـوه اثـرات د دوی تـر هېـوادو پـوري محـدوده نـهٔ وو، بلکـې پـه نـړۍ کـي پـه بېـل بېـل نومونـو او څهـرو ورسـېدل. لاکـن پـه دې لـوړه مرتبـه لرونکـو شخصـیتونو کـي ګـوتم یـوازنی حېثیـت درلـود. د دهٔ مـذهب چـي کـوم عـالمګیر حېثیـت ومونـد هغـه د هیڅ یـو مـذهب پـه هغـهٔ وخت کـي پـه نصیب نـهٔ شـو. تـر دې انـده چـي نـن هـم پـه دا بحـث کېـږي چـي پـه نـړۍ کـي د بودهیـانو تعداد زیات دی که د عیسائیانو.

مـوږ پـه دې ورکـوټي کتـاب کـي د دې جلیـل القـدر بـزرګ ژونـد، د دهٔ تعلیمـات، پـه هغـه کـي ردوبـدل او پـه مختلفـو هېـوادو کـي د هغـه د اشـاعت پـه هکلـه خبـره څېړلـې ده. لاکـن سـتونزه دا ده چـي د همالیـه غونـدي لـوړ شخصـیت د عقیـدت او مبلاغـې پـه داسـي ګـرد کـي پټ دی د کـوم چـي هـیڅ صـحیح خدوخال پـه نظـر نـهٔ راځـي. بیـا چـي پـر کومـو وسـائلو زمـوږ تکیـه ده هغـه لـه سـره غـائب دي. د ګـوتم بدهـ خپـل هـم عصـر یـا د هغـه خپـل لیکلـي کتابونـه موجـود نشـته، کـوم معلومـات چـي دا وخـت لـه مـوږ سـره شـته هغـه قریبـاً د درو سـوو کلونـو نـه وروسـته دي. کـوم چـي پـه ضـبط تحریـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کــي تــر رارســېدو پــوري د دهٔ د عقیــدت منــدانو پــه حــافظو کــي محفـوظ وو. هـم پـه دې سـوب د تـري پټـک د دې عقیـدې بـاوجود چـي ګـوتم بدهـ د خـدای پـه هکلـه بحـث کـول بې سـود ګڼلی دی، او د روح نـه یـې انکـار کـړی دی. مـوږ د ماهیـان فرقـې د دې بیـان سـره اتفـاق کـوو چـي ګـوتم د خـدای پـه هکلـه اقـرار کـړی او هغـهٔ یـې واجـب الوجـود او مختار کُـل ګرځـولی دی، او د روح پـه وجـود یـې هم یقین درلود.

د دې تفصـیلات بـه پـه کتـاب کـي مخـي تـه راځـي، البتـه لوسـتونکو تـه دا یـاد سـاتل پکـار دی چـي د ګـوتم بدهـد مـرګ نـه وروسـته قریبـاً درې سـوه کالـه وروسـته لـه مـوږ سـره د دهٔ د ژونـد حـالات ، تعلیمـات او د پېژنـد ګلو پـه هکلـه مـواد تـر لاسـه شـوی دی، ګـوا د دې مـواد پـه هکلـه یـوه برخـه پـه تـاریخي اعتبـار مـوزو نـهٔ شـو ګـڼلای. بیـا هـم د محقق د پـاره پـه دې انبـار کـي تـر ډېره حده لعل و جـواهر تـر لاسـه کېدای شـي او د سـالک د پـاره دا لازمـه ده چـي د حـق پـه لټـون کـي او د صـداقت پـه هڅـه کـي د هـر قسـم مـواد پـوري ځـان ورسـوي. هغـه کتابونـه چـي د بدهـمـت او د هغـه د بـاني پـه هکله څه مواد تر لاسه کېدای شي ،په دا ډول دي.

1 . **تري پټک:**[8] **یعني درې ټوکریاني**

۱: پـه ویلـو کـي خـو دا درې دي لاکـن پـه هـري ټـوکرۍ کـي ځـان ځان ته کتابونه دي. په دې د دوی تفصیل وړاندي کول ضروري ګڼم.

لــومړی پټــک (ټــوکرۍ): د دې نــوم ونیــا پټــک[9] دی، یعنــي د سنګهــد پــاره احکامــات. پــه دې کــي درې کتابونــه شــامل

[8] Tripatika 1,11,111

[9] Vinaya pitaka

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي (ا) د مـرګ بهنـګ،[10] یعنـي پټـي موکهـ (خاونـد) بمـع شـرح او حواشـي (ب) کهنـډک[11] (ج) پریـوار (کهـول)[12] پاټهـ. پـه دې کتـابونو کـي د پټـي موکهـا او د ګنـډهک پـه انګرېـزۍ کـي رائـس ډیوډس venaya terts په نامه ژباړه کړې ده.

سـوت[13] پټهـک (ټـوکرۍ): یعنـي د بدهـ مـذهب عـام منونکـو خلګـو د پـاره زریـن اصـول. پـه دې کـي د ډېـرو سـرلیکونو سره ډېر کتابونه شامل دي. هغه سرلیکونه دا دي.

(۱) ډګهـ نکایـه[14] : دا د څلـور دېـرش کتـابونو مجموعـه ده. پـه کـوم کـي چـي مهـا پرنـي بهـان[15] ډېـر مشـهور دی. پـه دې کـي د، اوو ژباړه برنوف او ګوګرلي کړې ده.

(۲) مجهـم نکایـه[16]: پـه دې کـي یوسـلو دو پنځـوس **۱۵۲** کتابونه دي او دا ډاکټر ټرمکز ترتیب کړي دي.

(۳) سموت نکایه[17] : دا مسلسل نظمونه دي.

(۴) آم ګتـر نکایـه[18]: پـه پټکـو کـي لویـه مجموعـه ده، پـه دې کـي کهډک نکایـه[19] هم شته، په کوم کـي چـي (الف) کهډک پاټهـ[20] دی، د کـوم چـي چلـډرس ژبـاړه کـړې ده. (ب) دهـم پـد[21] دی، د

[10] Sutta Vibanga
[11] Khandaka
[12] Privara path
[13] Sutta Pitaka
[14] Digha Nikaya
[15] Maha Parini Bhana
[16] Majjhima Nikaya
[17] Sumyitta Nikaya
[18] Amguttara Nikaya
[19] Khuddaka Nikaya
[20] Khuddak Patha

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم چي میکس مولر ژباړه کړې ده.(ج) ادان[22] یا هغهٔ غزلي دي چي ګوتم ډېر په شوق سره ویلي دي. د هري غزلي سره د نزول د موقع وخت هم درج دی.(د) اتي وتک[23]: یو سلو لس ۱۱۰ اقتباسات دي کوم چي د ګوتم د بېلا بېلو خطبو نه اخذ شوي دي.

(ر) سوت نپت[24]: دا نظمونه دي، د دې ژباړه پروفیسر قوسیولي کړې ده.

(س) ویمان وتهو[25]: د جنت د محلونو په هکله.

(ش) پتوتهو[26]: د ارواح غیر مجسم په هکله.

(ص) تهراګاتا[27]: د راهبانو (عابدانو) د پاره نظمونه.

(ض) تهري ګاتا[28]: د راهبي (عابدي ښځي) د پاره نظمونه.

(ط) جتک[29]: کیسې دي، د کومو ژباړه چي رائس ډیوډس د buddish birth stories په نامه کړې ده.

(ظ) ندیس[30]: د سوت نپت د پای شرح.

(ع) پتي سمدها[31]: د ارهت د باطني قوت په هکله بیان.

(غ) اپدان[32]: د بدهـ ارهتو کیسه.

---

[21] Dhmma- Pada
[22] Udana
[23] Ltti Vuthaka
[24] Sutta-Nipata
[25] Vimana Vatthu
[26] Petavatthu
[27] Thera-gatha
[28] Their-gatha
[29] Jataka
[30] Niddesa
[31] Pati sambhida
[32] Apadana

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ف) بدهـ بنش[33]: د بدهیانو حالات.

(ق) کاریه پټک[34]: هغه نظمونه دي په کوم کي چي د ګوتم د تېر ژوند یعني د زوکړي د مخه د ژوند (لومړي جنم) کرامتونه بیان شوي دي.

(۳) ابهي دهم: په دې درېیم پټک کي ډېر کتابونه دي، د هغو تفصیل داسي دی.

(الف) دهم سنګني[35]: په بېلا بېلو نړیو کي د ژوند کیسې.

(ب) وي بهنګ[36]: د اتلسو ۱۸ کتابونو مجموعه.

(ج) کتها وتهو[37]: یو زر بحث طلب ستونزي.

(د) پګل پناتي[38]: د ځانګړي خصوصیاتو تشریح.

(ر) دهاتو کتها[39]: د عناصرو په هکله.

(س) ایمک[40]: د ظاهري څیزونو په هکله.

(ش) پتهن:[41] د حیات (ژوند) اسباب.

دې ټولو کتابي مجموعو ته تري پټک، (وینا پټک، سوت پټک او ابي دهم) درې ټوکریاني ویل کېږي، او د

---

[33] Buddha Vansa
[34] Cariya Pitaka
[35] Dhamma Sangani
[36] Vibhanga
[37] Katha Vatthu
[38] Puggala-Paunati
[39] Dhatu Katha
[40] Yamaka
[41] Patthan

(c) ketabton.com: The Digital Library



بودهیانو تر ټولو مقدس او قدیم کتابونه بلل کېږي، دا ټول په پالي ژبه کي دي.

**(۲) د پټک شرحي**

دا بودهیانو په پنځمه صدۍ عیسوي کي هغه وخت ولیکل کله چي دوی تري پټک د سنګهالي ژبي نه پالي ژبي ته وژباړلو. په دې کي چي کوم دا وخت موجود دي هغه په دا شان دي.

۱، سماند پاسدکا: د نړۍ شرح.

sammanata, pasadika

۲، کنکهـ وترانی: د پتي موکهـ شرح.

Kankha vitarani

۳، سمنګل ویلاسني: د دګهـ نکایه شرح.

summangala vilasini

۴،پکپکا سدني: د مجهم نکایه شرح.

papancha sudani

۵، سرتهـ پرکاشني: د سمت نکایه شرح.

sarattha ppakasini

۶، منورتهـ پورني: د انګوت نکایه شرح.

monoratha purani

۷، پرمتهـ جونکا: د کدک پاټ او د سوت نپټ شرح.

Paramatha katha

۸، دهم پراتهـ کتها: د دهم پت شرح.

dhammapada atthakatha

۹، پرمت دیپني: د ادان، دمان واتهو، پتاوت تهراګاتها او تهري ګاتها شرح.

paramatha dipam

۱۰، ابهي دهمت دپني: د اتي وتک شرح.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Abhidhamimatha dipani

۱۱،جاتک اتهاکتها : د جاتک شرح.

jataka attha katha

۱۲،سدهم پجوتکا : د ندیس شرح.

saddhamma Ppajjotika

۱۳، سدهم پکاسني: د پتم بدهـ شرح.

Saddhamma Ppakssani

۱۴، ویسدهـجن ویلاسني: د اپدان شرح.

Visudhajana vidusin

۱۵، مدهورتهـ ویلاسني: د بدهـ ونس شرح.

Maddhurattha vilasini

۱۶، کاریه پټک اتها کتها : د کاریه پټک شرح.

Cariya pitaka attha katha

۱۷، اتها سالني: د دهم سنګتي شرح.

attha salini

۱۸، سموهـ دنودني: د وبهنګ شرح.

sammoha vinodani

۱۹، پنکتـاپنکرن اتهـا کتهـا : د ابـي دهـم د پـای د پنځـو کتابو شرح.

Pamcappakarana attha katha

### (۳)للت وستارا

دا پــه سنســکرت ژبــه کــي ۇ. د دې ژبــاړه پــه شــپږمه صــدی عیسـوي کـي پـه تبتـي ژبـه کـي وشـوه. د دې ځـه برخـه پـه نثـر کـي ده، پـه سنسـکرت ژبـه کـي ليکـل شـوي اصـل کتـاب هـيڅ درک نشـته چـي کلـه ليکـل شــوی دی. پــه دې کــي د ګــوتم ســوانح ليکــل شــوی دی او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېري مبالغې څه کار اخستل شوی دی. د دې ژباړه په بېلا بېلو لوېدیځو ژبو کې هم شوې ده.

**(۴) تبتي بيانات**

دا په زیاته توګه پر للت وستارا لیکل شوی دی. دا کتاب سکندر کوسما و انګرېزي ته ژباړلی دی.

**(۵) مهابهینشکر رمن سوتر**

دا هم په سنسکرت ژبه کې لیکل شوی ؤ. په دې کې د ګوتم د کور د پرېښولو حالات بیان شوي دي. دا په شپږمه صدۍ عیسوي کې چیني ژبې ته وژباړل شو، چې د هغې وروسته و انګرېزي ته یې ژباړه وشوه.

**(۶) مالا لنکا راوتو**

دا د پالي ژبې څخه په برمي ژبه کې په ۱۷۷۳ عیسوي کال کې وژباړل شو. بیا د هغې نه په انګرېزۍ کې وژباړل شو. دا د لنکا د مقدسو کتابونو په هکله دی.

(۷) دې نه علاوه مختلفې کیسې دي چې اسپنس هارډي د the manual of buddhism په نامه را غونډې کړي دي.

**(۸) دهمپد**

په سوتاپنت او تري ګاتها کې چې کومې غزلې دي هغه سونډرس د dampadah په نامه ژباړلي دي.

**(۹) مجلې و کتب**

مشهور کښت ګر راهنما لاهل ساکر تیاین په ۱۹۳۲ کې یو کتاب "بدهـ چریه" ولیکی، دا په هنیان نقطه نظر لیکل شوی دی. د مهایان په نقطه نظر یو کتاب "بهګوان ګوتم بدهـ" ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشهور دی کوم چې محترم بدهنت بودها نند جي مها استو او پنډت چندکا پرشاد جګیسو په هندي خپور کړی. دې نه علاوه مها بودهي سوسائټي کالج سکول کلکتې نه یوه میاشتنۍ مجله هم خپرېږي په کوم کي چې د دې مذهب په اړه نوي څېړني مخې ته راځي. په دا توګه د لنکا نه "بدهسټ کرانیکل، سیلون" په ذریعه د دې مذهب په هکله خلکو ته معلومات ورکول کېږي.

په سارناتهـ (بنارس) کي هم په دې هکله کار پیل شوی دی چي د هغې نه هم ډېر معلومات تر لاسه کېدلای شي.

**(۱۰) په اردو کښې**

تر دې وخته چي کوم کار پرې شوی دی هغه دا دی.

(الف) په ۱۹۹۰ کي شیونرائن شمیم د ګوتم بدهـ سوانح لیکلې وه، چي بیا دویم ځل هغه تر چاپه نهٔ ورسېده.

(ب) مولوي امیر احمد علوي صاحب بي، اې جج نیمچ د "ګوتم بدهـ" په نامه یوه مختصره کتابچه ولیکله چي بیا الناظر لکهنو هغه خپره کړه.

(ج) یو مسلمان ادیب " د بدهـ کیسه د ډبرو په خُله " ولیکله چي اوس نهٔ تر لاسه کېږي.

(د) یو برهمو سماج مشنري هم د ګوتم بدهـ مختصره سوانح عمري په اردو کي لیکلې وه چي د کوم ذکر شیو نرائن شمیم صاحب کړی ؤ، خو اوس یو ځای هم نهٔ تر لاسه کېږي.

(ر) شیو نرائن شمیم صاحب یو کتاب " بدهـ " په دوو ټوکه کي لیکلی ؤ، یوه برخه یې د مسټر اسټراس د انګرېزي کتاب ژباړه وه او دویمه برخه یې خپله شیو نرائن شمیم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضـميميه پـه توګـه وړانـدي کـړې وه. پـه دې کتـاب کـي ډېـر نـوي معلومات دي چي په ويلو ارزي.

**(۱۱) دریافتونه**

استـوپ، متهـ، بتان،انځرونـه، څـرخ، ظـروف او نـور بېـل بـودهي يادګارونـه ورځ پـه ورځ مونـدل کېـږي او د دې نـه ډېـر معلومات تر لاسه کېږي.

(الـف) پـه نـزدې وختونـو کـي د جـاوا عظـيم الشـان بـودهي منـدر پـه ځمکـه کـي دريافـت شـو، د کـوم پـه وجـه چـي د دې مـذهب د فروغ په هکله ډېر مفيد معلومات تر لاسه کېږي.

(ب) د بـودهي دور فـن مصـوري او سـنګ تراشـي بـې نظيـره نمـونې پـه چـين، جاپـان، تبـت او هندوسـتان کـي مونـدل شوي دي.

(ج) د کپـل وسـتو او لمبينـي بـاغ درک ولګېـدو، او د دې کنـډوالو نـه ډېـر ظروف (خـاورين لوښـي) او زېـورات تـر لاسـه شـوي دي.

(د) هغـه ځـاى هـم د ګيـا سـره نـزدې درک ولګېـدو چېري چـي پـر بودهـا د نـوراني کېفيـت انکشـاف شـوى ؤ. هلتـه منـدر هـم شته او هغه ونه هم.

(ر) پـه سارناتهـ کـي هـم کينـدني شـوي دي، هـم دغـه د شـت غـزالا ده، هـم دلتـه تـر ټولـو لـه مخـه بدهـ خپلـه مـذهبي وينـا کـړې ده. د کوسـي نګـر (کسـيا) کمبهـي او سراوسـتي هـم درک ولګېـدو. راج ګړهـ هـم دريافـت شـو او هغـه غـار هـم ومونـدلې شـوه چېـري چـي بدها استوګنه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(س) د نالند پوهنتون محل وقوع هم معلومه شوه او کنډوالې هم.

(ش) په حيدراباد دکن کي د اشوک د دور کتبه هم وموندل شوه او د الورا اجنتا غارونه هم. علي الحضرت نظام دکن د دې د انتظام د پاره یوه محکمه اثار قدیمه هم قائمه کړه د کوم په راپورتاژ کي ډېر معلومات تر لاسه کېږي.

(ص) په بهوپال کي سانچي توپ هم وموندل شو او مرحومي هزهائینس بېګم صاحبي د دې مرمت ور وکړ او د دې په هکله یې اطلاعات هم خپاره کړل.

(ض) په کارلي، ناسک، کهنري او اورنګ اباد کي هم د بدهـ مذهب (سمڅي) غاري وموندل شوې. په کوم کي چي د بدهـ مجسمې تر لاسه شوي. د دې ټولو نه ډېر معلومات تر لاسه شول.

(ط) افغانستان، مصر، او امریکه کي هم د بدهـ کنډوالي موندل شوي دي او په ډېر تعداد بودهي خاوریني او ډبرني مجسمې او انځرونه ترلاسه شوي دي، د کوم په وجه چي د دې مذهب د عالمګیریت څهره رابرسېره کېږي.

غرض د دې ټولو په ذريعه موږ د ګوتم بدهـ سوانح، د دهٔ تعلیمات او د هغه اشاعت او د بدلون په هکله معلومات تر لاسه کولای شو.

دې نه علاوه کوم کتابونه چي په بالاسطور کي ذکر شول یا هغه کتبو، ټېکو، کنډوالو او بتانو نه چي کوم مواد تر لاسه کېږي که لوستونکي د دې په هکله معلومات تر لاسه کول غواړي نو د دوی د پاره ذيل کتابونه ډېر مفيد دي، لاکن دا یاد ساتل پکار دی چي پر دې موضوع تر ۱۹۴۲ پوري په بېل بېل لوېديځ هېوادونو کي تقريباً په بېلو بېلو ژبو پنځه زره کتابونه ليکل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



()Nallnakaha dutt Early History And Spread of Buddism
()E. Hopkins The Religions of India
()E.H Brew The life of buddha in the pali canon
()Geigeroli The mahavamsa
()E.B Cowell The jatak
()J.Barth History of religions in india
()C.Elliot hinduism and buddhism
()R.F.Johnstone Buddhist China
()J.Legge Travels of fahien
()S.Beal Buddhist Records of the western world
()T Wattera On Yuan Chwang
()I.T.sing A record of Buddhist religion as practsed in india and malaya Archipelago
()S.Beat Life of hiven Tsiang by Huin Li
()PN.Bose Indian teachers in china
()A.Cunningham Ancient Geography of india
()S.Beal Cataiogue of buddhist Tripitaka as known in china and japan
()Raiston Tibetan taies
()Hodgson Eeeays on the language, Literatuer and Religion of Nepal and Tibbet
()Edkins Religion in china
()R.C.Ddouglas Confucianism and taxism Literature in china and the far east
()P.K.Mooker jee India
()K.J.Saunders Heart of buddhism
()A.B.Kaith Karma Mimamasa
()K.J.Saunders Gautama Buddha
()K.J.Saunders Buddhist Ideals
()H.Olddenberg The Buddha
()T.W.Rhys Davids Early Buddhism
()Bishop Bigandet Gaudam the Burmesa Buddha
()H.Kren Manual of buddhism

(c) ketabton.com: The Digital Library



()Bishop Copleston Buddhism,Primitive and Present
()H.Hackmann Buddhism as a religion
()H.Werren Buddhism in Translation
()Bhikkhu N.Janatilaka Word of the Buddha
()Paul Dhalke Buddhist Eassays
()Lakehmi Narayan Essence of Buddhism
()A.Lioyd Creed of Half Japan
()T.Herada Faith of Japan
()Col.Waddell Lamaism
()Shive Zen Aung A Compendiam of Buddhism
()Mrs.C.A.F.Rhys Davids Buddhist Psychology
()J.A.Graham On the tresh-hold of three closed lands
()H.G.Moule Spirit of Japan
()Mrs.C.A.F.Rhys Davids Buddhism

ظاهره ده چي د پالي ژبي سره ناواقفيت په وجه مصنف صرف د ژباړو څخه کار اخستی دی، په دې وجه د دۀ د رائې په خواهش کې کېدای شي چي قسم قسم غلطياني شوي وي.

علم دوست خلګو نه امید دی چي داسي مسائل باید هېر کړل شي او د دې مختصر کتاب نه باید چي يو جامع کتاب هم په دغه موضوع وليکلی شي او د ادب لمن دي د دې الزامه بچ کړي. مصنف د ټولو منندوی دی چي د دې کتاب په تياری کي يې کومک يا د بدهـ مت مذهب په حواله يې کتابونه راکړل او دا کار ته يې څه نا څه اساتياوي ور وبخښلې.

محمد حفیظ سید

۱۹۴۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



باب ،۱

## د ګوتم نه مخ کي هندوستان

زمـوږ دا هېـواد چـي مـوږ ورتـه هندوسـتان وايـو د يـوه بـراعظم حېثيـت لـري. دا ډېـر ويـر، زرخېـزا او د بـې شـمېره قومونـو اسـتوګن ځـای دی. د دې اصـل ځـايي خلـګ څـوک وو ؟ هـيڅ معلومـات نشـته. لاکـن د آرينـو د راتـګ نـه مـخ کـي دلتـه د دراوړي نسـل خلـګ اسـتوګن وو. دا خلـګ نـۀ وحشـي وو، او نـۀ ځنګلـي. بلکې دوی خپـل تهـذيب، خپـل تمـدن او خپلـه ژبـه درلـوده. اوسـني تحقيـق[42] داسـي اثـار راڅرګنـد کـړي دي چـي دراوړو يـو مهـذب او متمـدن ژونـد کـاوه. او د داسـي صـنعتونو نـه واقـف وو چـي پـه روان مترقي دور کي د حيرت خبره معلومېږي.

**آريا د کوم ځای نه راغلل ؟**

د دې دراوړو د سـهېل خـوا تـه پـوري وهلـو پـه وخـت د قطـب لوېديځ نـه هغـه قـوم راغـی چـي د آريـه پـه نـوم ونومـول شـو او د کـوم د نسـل نـه چـي د هندوسـتان يـوه لويـه آبـادي دا وخـت دعـوه کـوي. دا خلـګ د کـوم ځايـه او پـه کـوم وخـت کـي راغلـل؟ د دې پـه هکلـه هـم د مؤرخينـو تـر مـنځ اخـتلاف دی. يعنـي د نـاروې، سـويډن او ډنمـارک نـه راغلـل، او پـه يـورپ کـي د خورېـدو سـره سـره د قـاف غـرۀ (کـوه قـاف) تـه راورسـېدل. بيـا يـې پـه ايـران (فـارس) کـي اسـتوګنه خپلـه کـړه، او بيـا وروسـته هندوسـتان تـه يـې مخـه وکـړه. ډېـر داسـي مـؤرخين شـته چـي هغـوی وايـي چـي د دوی لـومړی ټـاټوبي منځنـۍ آسـيا ده او دوی هـم د هغـه ځايـه څخـه تـر يـورپ او آسـيا خورشـول.

---

[42] تاريخ فرشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرشته[43] صفت دا سي هم اهل تاريخ شته چي هغوی لنکا (سري لنکا) د آدمؑ د ژوند مرکز بولي، او د نسل انساني بنسټ يا ابتداء د غه ځای ښيي او آريه د دې ځای نه تر منځنۍ آسيا بيا بېرته د خپل لو مړي ټاټوبي وخوا ته پوري وهي. نني تحقيق دا ښيي چي د دوی اصل ټاټوبی هغه سيمه ده چي نن سبا د بوهيميه او د استريا په نامه بلل کېږي او د دوی دا دعوه ده چي آريه هم د دې ځای نه په منځنۍ آسيا او يورپ کي خواره شول. دې ټولو مؤرخينو چي د خپلو بيانا تو ثبوت پېښ کړی دی د هغه په تفصيل کي د تلو هيڅ ضرورت نشته. په دې خبره ټول متفق دي چي آريه د قطب لو يديځ نه راغلل او قريباً تر دري زرو کالو قبل مسيح راروان وو. دا خبره هم ثرګند ده چي دوی په يو وار نهٔ بلکې په بېلو بېلو ډلو او بېلو بېلو وختونو کي راتلل به او لکه څنګه چي په آبادۍ کي زياتوب راتلی او بيا په نوو نوو هېوادو کي د استوګني ضرورت پيښېدی، دوی د هند شمال ختيځ خوا ته غزېدل. تر دا انده چي پنجاب ، يو پي (اتر پرديش) او د بهار لو يديځي سيمي د دوی استوګن ځای شوې. او د "آريه ورت" په نامه ونومول شول.

**مقدس کتابونه**

د هغې زماني د حالاتو که درک لګېږي نو هغه د هغهٔ وخت مقدس کتابونه دي چي ( ويد ) ورته ويل کېږي.

---

[43] يو رپي (لوېديځ) تاريخ پوهان دا نهٔ مني، هغوی په بېلو بېلو دلائلو د ويدونو زمانه اټکلوي. دوی رګ ويد تر ټولو زوړ بولي او د دې زمانه د عيسیٰ تر زوکړي دوه نيم يا دري زره کاله له مخه وايي. او دوی دا خبره هم کوي چي د ويدونو بېلي بېلي برخي په بېلو بېلو وختونو کي ليکل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(الـف) ویدونـه څلـور دي،[44] رګ ویـد.[45] یجـر ویـد.
[46]سام وید.[47] اتهر وید

د دې لرغــونې ژبــه سنســکرت ده، کومــه چــي د اوســنۍ سنســکرت نــه ډېــره بېلــه ده. د هنــدوانو دا خیــال دی چــي ویدونــه ســامي کتابونــه دي او د دې ابتدایــه د نازلېــدو یــې ۱۹۵۵۸۸۵۴۴ کلونـه شـوي دي. د خـدای لـه اړخـه د دهٔ و خـاص بنـدګانو تـه رالېـږل کېدل.

ویدونـه پـه زیاتـه توګـه د نظـم پـه شـکل کـي دي چـي د هغـو و شــعرونو تــه منتــر ویــل کېــږي. د دې منتــرو و ټــولګي تــه ســنتها یــا ســنګهیتا ویــل کېــږي. د ویــد د ټولــو اشــعارو یــا منتــرو هــیڅ تفســیر نشــته، د کــوم پــه وجــه چــي د سنســکرت د پوهــانو تــر مــنځ ډېــر لــوی لــوی اختلافــات دي. یــا هــم د ویــدونو نــه وروســته پــه لرغونــو کتــابونو کــي د تفســیر داسـي سلسـله شـته چـي پکښـي د منترنـو څـهٔ نـا څـهٔ معنـا تـر لاسـه کېـدای شـي. دې سلسـه تفسـیر تـه بـرهمن ویـل کېـږي. پـه دا توګـه د رګ وید په هکله دوه برهمنه (تفسیر) دي، (۱) آتیترے (۲) کوشیکي
د یجر وید دوه برهمنه (۱) شت پتهـ (۲) تیترے

---

[44] د ویدي ادب په هکله چي کوم معلومات لیکل شوي دي هغه د لاله لاجپت رائ د تاریخ هند حصه اول نه اخذ شوي دي.
[45] رائس ډیوډس
[46] لاجپت رائ
[47] د کـارونو پـه لحـاظ داسـي تقسـیم د رګ ویـد پـه دې منتـر کـي موجـود دی، د کوم ژباړه چي دا ده.
" برهمن د دهٔ (لاشعور) خُله ده. چهتري (لاسونه) ویش (ورنونه) او شودر (پښې) لاکن دا نهٔ شي تسلیمېدای چي د ذات پات سختۍ او پابندۍ د هغې زمانې نه رائجي وې. دا پابندۍ په خاصه توګه د منو شاستر نه وروسته زیاتي شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ســام ویــد دري برهمنــه (۱) تانــډيا (۲) ســدويش (۳) چهاندوګيه او د اتهر وید په هکله هیڅ برهمن نشته.

(ب) د ویــدونو او برهمنــو ماســوا لــس نــور مقــدس کتابونــه شــته، کــوم تــه چــي انپشــد ویــل کیــږي. د دې نومونــه پــه دا ډول دي. کــین، هرشــن، ســنډک، ماندوکیــه، ایــش، ایتــرے ، چهانډوکیــه، تیتــرے، برهــدار، نیــک. د اپنشــد لفظــي معنــا د بهیــد (راز) ده، یعنــي د هغــه اســرار الهــي دی د کــوم پــه واســطه چــي د ذات جل جلاله په هکله علم تر لاسه کیږي.

(ج) د دې ماســوا پــه ویــدي ادب کــي اپ ویــد هــم شــامل دی چي هغه څلور دي.

(۱) دهر وید ........... فن حرب.

(۲) ګاندهرو وید .......... فن علم و موسیقي.

(۳) ارتهـ وید ........... فن صنعت و حرفت.

(۴) آیور وید ........... علم طب.

(د) د دې ویــدي علومــو پــه ویلــو او ځــان پوهولــو د پــاره دا علوم ډېر ضروري دي. دې علومو ته ویدانګ ویل کیږي.

(۱) مکهشا ....... علم تلفظ یا قرآت

(۲) چهند ........ عروض

(۳) ویا کرن........ صرف و نحو

(۴) تیرو کتا....... لغت، تشریح و الفاظ

(۵) جیو تش........ علم هئیت

(۶) کلپ یا دهرم شاستر....... احکام مذهب

د دې کتــابو د کتلــو وروســته چــي کــوم اصــولي حېثیــت رامنځ ته کیږي هغه دا دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ویدونو مذهب**

دا خلک ډېر مذهبي وو، لاکن د اولس د حقوقو یې خیال نهٔ کاوه. د غېر آریه وژل [48] یا وهل د دوی د پاره هیڅ جرم نهٔ ؤ. فاتح پر مفتوح باندې حاکمانه یا مالکانه تصرف کولای شو. دوی په بېلو بېلو قبایلو کې وېشل شوي وو، او دا قبایل بیا په خاندانو کې، د دولت او عمارت په لحاظ هیڅ اختلاف نهٔ ؤ. یعنې نهٔ څوک ډېر امیر ؤ او نهٔ څوک ډېر غریب. هغوی پر بېلا بېلو دیوتاګانو یقین درلود. د دوی دا عقیده وه چې اکثره کارونه د فطرت او د قدرت د دې دیوتاګانو اظهار دی. د بېلګې په توګه اګنې (اور) اندر (باران) ورن (باد، هوا، شمال) وغیره. د دې علاوه تر ټولو لوړ او پر اعلی ذات یې هم یقین ؤ، کوم ته چې دوی برهما ویلو. په آریه سماج او په سناتن (غیر سامي) مذاهبو کې هم په دې خبره اختلاف ؤ چې د دیوتاګانو چې کوم بېلا بېل نومونه دي، دا د برهما صفات دي. یا د دهٔ یوه ځانته بېله هستي ده. آریه سماج بېلې هستۍ نهٔ مني، بلکې دا نومونه د برهما صفات ګڼي. په دې خبره ټول متفق دي چې د ویدونو په زمانه کې نهٔ خو بتان وو او نهٔ مندرونه او دا دواړه څیزونه ډېر وخت وروسته جوړ کړل شول. ټول برهما ازلي او ابدي ګڼي، دا دوه منترونه د ثبوت د پاره د دې ګواهي ورکوي.

(۱) "په هغه وخت کې نهٔ است ؤ نهٔ ست. نهٔ ځمکه وه نهٔ اسمان، هیڅ یو څیز پر دهٔ غالب نهٔ ؤ، او د چا د پاره څهٔ ؤ؟ دا سمندر هغهٔ وخت چېرې ؤ؟"

[48] رامائن او مهابهارت

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) "دا نړۍ چې د څه پیدا ده هغه یو د دې دهارن (چلولو) والا دی. کوم چې په دې لوی ویړ اسمان کې دی، او کوم چې پر دې قادر دی هغۀ په دې خبر دی."

ویدي آریه پر روح هم یقین درلود، او د دوی خیال ؤ چې روح د وجود نه بېل شی دی، کوم چې د وجود د فنا کېدو نه وروسته هم پاته وي. لاکن د ویدیانو په دې ساده مذهب کې د څه موده وروسته بدلون راغی، بېلا بېلو رسوماتو خپل ځای جوړ کړ، برهمن (تفسیرات وید) هم په دغه رسوماتو جوړ دی. په دې کې یګیه یا یجن (قرباني) کولو ډېر زور دی. هون هر ځای ضروري جز دی. په هون کې د دیوتاګانو د خوشحالۍ د پاره بېلا بېل خوشبو لرونکي شیان سوځل کېږي او خاص منترونه ویل کېږي.

په انپشدو کې د مرګ او ژوند پر بېلا بېلو مسئلو فلسفیانه او عالمانه بحث شوی دی. او د دوی رجحان صرف او صرف د ویدانت (تصوف) خوا ته دی. هم د دې څخه په هندوانو کې " همه اوست " او د " همه ازوست " نظریه منځ ته راځي.

**په ویدي مذهب کې بدلون**

د حالاتو د بدلون، د بهرني تمدن راتلل او د نني نسلي اختلافاتو اثرات پر دې مذهب پرېوتل، او په دوی کې بت پرستي خوره شوله. مندرونه جوړ شول او د ذات پات [49] فرق منځ ته

[49] د جین مذهب اصل باني پارس ناتھ ؤ. کوم چې په اتمه صدۍ ق، م کې زېږېدلی ؤ. لاکن د دې خاص تنظیم مهاویر دردهمان کړی ؤ. دی په ۵۹۹ ق، م کې زېږېدلی ؤ او د سالي د حاکمانو له نسله ؤ. دی په ۵۷۲ ق، م کې مړ شوی دی. جین ماده او روح دواړه ازلي بولي. او د خدای د موجودیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغـی. مـذهبي پیشـوا بـرهمن، حاکمـان، د جنـګ کولـو والا چهتـري او تجـارت او کښـت کولـو والا وېـش وبلـل شـول او غیـر آریـه قومونـه د مریـي او د شـودر پـه نامـه ونومـول شـول. رامـائن او مهابهـارت چـي د کومـو ژبـو ذکـر کـوي پـه هغـو کـي د آریـاؤ پـه ساده ژونـد کـي د تصنع او تکلـف اضـافه شـوې وه. د ویـد پـه دورکـي ښـارونه نـهٔ ول، پـه وړو وړو قبـایلو کـي تقسـیم وو او پـه کلیـو کـي اوسـېدل. د دوی پـه سیاسـي ژونـد کـي ماسـوا د بـزرګ کهـول د عـام اولـس تعریـف نـهٔ ؤ. لاکـن د رزمیـه نظمونو [50] پـه زمانـه کـي ښـارونه جـوړ شـوي وو. د جـامو، خوراک د ټولني د روزګار ژوند، په سادګۍ کي اولس وو.

د حـاکم او رعایـه فـرق څرګنـد ؤ. د راجـا د مـرګ نـه وروسـته حاکمیـت د اولـس نـهٔ بلـل کېـدی، بلکـې د هغـه د وارثـانو حق بلـل کېـدی. هغـه خپـل ولـي عهـد خپلـه ټاکـل پېـل کـړو، او تـر دهٔ راچاپېره یـو لښـکر جـوړ شـو. پـه مـذهبي توګـه هم بقـول لالـه راجپت رائ د " ویـدونو پـر ایشـور پرسـتۍ (خـدای پرسـتۍ) بانـدي د

بالـذات د منلـو منـونکي نـهٔ دي. دا څلرویشـت ۲۴ تیرتهنکـرو (هـادي) منـونکي دي. پـه دوی کـي مهـاویر اخـري تیرتهنکـر ؤ. پـه دوی کـي دوې فرقـې دي. ۱، ډیګمبر ۲، سوتمبر

ډیګمبر لوڅ ګرځي او سوتمبر په سپین رخت ځان پټوي. د دوی په نزد اهنسا (هیڅ یو جاندار نهٔ تنګول)، رښتیا ویل، غلا نهٔ کول، توهم پرستي پرېښول، او پاک ژوند تېرولو کي سوکش (نجات، سوکالي) تر لاسه کېږي. دوی خودکشي (ځان وژنه) تر ټولو غوره مرګ بولي او خپل وجود ته آزار (سختي) ورکول ښه کار بولي. جین لفظ د جن نه اخذ شوی یا اخستل شوی دی. مهاویر ته د جن (پېري) درجه حاصله وه. هم په دې وجه د دهٔ منونکي جیني وبلل شول.

[50] رائس ډیوډس، امریکي تقریرونه، بدهـ مذهب د هغه تاریخ او د هغه ادب. (مخ، ۳۱،۳۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیوتـا پرسـتۍ رنـګ لوېـدلی ؤ. د ویـدک دیوتاګـانو پـر ځـای "وشـنو" او "شـیو" د هرچـا زړهٔ تـه نـزدې وو. او د یګیـانو سلسـله هـم کرکېچنـه شـوې وه. پـه رامـائن کـې د "مهـاراج رام چنـدرجـي" پـه مهابهـارت کـې "شـري کرشـن" تـه د وشـنو لـه اړخـه اوتـار (پېغمبر) وویل شو. دا د اوتار خیال هم د ویدک خیال نهٔ دی."

هـم د دې ټولیـو او روحـانینو تـر څنـګ یـو څـو فلسـفیان هـم ول کـوم چـې د خـدای د تصـور قائـل نـهٔ وو. روح او مـاده یـې ازلـي او ابدي ګڼله. هم د دې ټولیو نه وروسته بیا جین مذهب جوړ شو.

د دې بېلا بېلـو نظریـو دا نتیجـه راووتـه چـې د ګـوتم بدهـ د زوکـړې پـر وخـت پـه آریـه ورت، دانسـاني ژونـد پـه هکلـه ۶۲ دوشـپېته نظریـې رائجـې وې. چنـانچې پـه ویـک او مجهـم نکایـه کـې د دغـو نظریـو ذکـر شـوی دی او هـره نظریـه یـې د باطـل ګرځولـو هڅـه شـوې او دا ویـل شـوي چـې بدهـ چـې کومـه نظریـه او د دې امـورو پـه هکلـه وړانـدې کـړې وه هغـه صـحیح ده. د دې لـړلیـک پـه واضح توګه دا دی.

د ۱ نه تر ۴ پوري

ششـت واد: هغـهٔ خلـګ چـې د درو فکرونـو پـه ذریعـه او منطقـي اسـتدلال پـه وجـه دا یقـین کـوي چـې د دنیـا ظـاهري او انفرادي ارواحوي غیر فاني دي.

د ۵ نه تر ۸ پوري

الـګ سـتیکا: هغـهٔ خلـګ چـې پـر څلـورو طریقـو دا فکـر کوي چې بعضي ارواحوي فاني او بعضي غیر فاني دي.

(الـف) هغـهٔ خلـګ چـې دا یقـین لـري چـې خـدای ازلـي او ابدي دی لاکن انفرادي ارواحوي داسي نهٔ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ب) هغـهٔ خلـګ چـي دا يقـين لـري چـي ټـول ديوتـا ګـان ازلي او ابدي دي خو انفرادي ارواحوي داسي نهٔ دي.

(ج) هغـهٔ خلـګ چـي صـرف دا يقـين لـري چـي لـوی ديوتاګان ازلي او ابدي دي.

(د) هغـهٔ خلـګ چـي دا يقـين لـري چـي د وجـود شـکلونه فـاني دي، لاکـن داسـي يـو شـی شـته چـي هغـه تـه زړهٔ، دمـاغ او شعور (پوهه) ويل کېږي، او هغه ازلي او ابدي دي.

د ۹ نه‌تر ۱۲ پوري

انـت نيتکـا: هغـهٔ خلـګ چـي د محـدود او لامحـدود پـه هکله بحث کوي.

(الف) هغهٔ څوک چي نړۍ محدوده ګڼي.

(ب) هغهٔ څوک چي نړۍ لامحدوده ګڼي.

(ج) هغهٔ څوک چي نړۍ دواړه ګڼي.

(د) هغهٔ څوک چي نړۍ دواړه نهٔ ګڼي.

د ۱۳ نه‌تر ۱۶ پوري.

امـرود کهيپکـا: هغـهٔ خلـګ چـي د نېکـۍ او بـدۍ پـه هکلـه تاؤ راتاؤ خبري په دې کوي چي هغوی وېرېږي.

(الـف) داسـي نـهٔ چـي پـه صـفا ويلـو دوی تـه څـهٔ ضـرر ورسي.

(ب) هغـوی وېرېـږي چـي داسـي نـهٔ چـي د داسـي شـيانو نـه دوی متاثره شي او وروسته له دې دوی ته تکليف ورسي.

(ج) هغـوی پـه دې وېرېـږي چـي داسـي نـهٔ يـوه ښـکلې منظره دوی قائله کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(د) یا محض په دا یې مني چي د هغوی ذهنونه خام او هغوی ناپوهه دي.

د ۱۷ نه‌تر ۱۸ پوري

ادهک سمپشنیکا: داسي خلک چي دوی ګمان کوي چي د ځیزونو اصل بغیر د څه علت نه هم پرې پوهېدای شي.

د ۱۹ نه‌تر ۵۰ پوري

ادهم رګهتکا: هغهٔ څوک چي وايي چي روح به په مستقبل کي هم وي.

(الف) شپاړس داسي نظریات دي چي پر دې خبره دعوه کوي چي د مرګ نه وروسته یو شعوري وجود به پاته وي.

(ب) اتهٔ قسمه داسي نظریات دي چي په کوم کي د یوه غیر شعوري وجود دعوه کېږي.

(ج) اتهٔ قسمه داسي نظریات هم شته چي دا دعوه یې کړې چي د شعور او غیر شعور تر منځ وي.

د ۵۱ نه‌تر ۵۷ پوري

اچهیدواد: هغهٔ خلک دي دا ښیي چي په اوو قسمه ارواحو کي یو قسم داسي روح هم شته چي د مرګ نه وروستو هغه فنا شي. دا خلک د ابدي مرګ معتقد دي.

د ۵۸ نه‌تر ۶۴ پوري

دتهـ دهم سنهبان داد: هغه خلک دي چي د دې مدعیان دي چي روح شته، که په دې دنیا کي وي او که هر چېري وي، په ښه خوشحالۍ سره په دې طریقو تر لاسه کېدای شي.

(الف) د حواس خمسه د پوره او مکمل استفادې او لذت په ذریعه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ب) د یـو پلټـونکي محویـت (پـه خیـال کـي ډوب) یـا استغراق په ذریعه.

(ج) د یـوه غیـر انتشـاري ذهنـي لـذت بغیـره پـه کـوم کـي چي هیڅ تجسس او څېړنه نهٔ وي. (دویم، جهان یا دهیان)

(د) یـوه ذهنـي اسـودګي (بـې غمـي) پـه کـوم کـي چـي نـهٔ خوشحالي وي ، نهٔ درد وي او نهٔ تجسس (درېیم دهیان)

(ه) یـوه دا سـي ذهنـي اسـودګي پـه کـوم کـي چـي د پاکوالي احساس هم شریک وي. (څلورم جهان ، دهیان)

دا لـړ لیـک ګـوا ډېـر اوږد دی ، لاکـن د لـږ غـور کولـو نـه وروسـته بـه دا څرګنـده شـي چـي دې تـه مبالغـه امیـز نشـو ویـلای. خبره دا ده چـي آریـه ، بوهیمیـا ، اسـټریا او د هنګـري نـه دلتـه آسیا تـه راغلـل، د د غـه ځایـه ایـران، افغانسـتان او د کشـمیر نـه هندوسـتان تـه راغلـل چېـري چـي یـو مهـذب او متمـدن قـوم لـه سـره وجـود درلـود. هغـوی چـي څنګـه څنګـه مـخ تـه تـګ کـاوه ، هغـو د نـوو نـوو خیـالاتو او نـوو نـوو نظریـاتو سـره مخـه کېدلـه. تـر دا چـي هغـوی د بنګـال تـر سـرحده پـه ختـیځ کـي او همالیـه تـر لمنـو و قطـب تـه ورسـېدل نـو دوی تـه د بېلا بېلـو مـا بعـد الطبعیـاتي او اخلاقـي مسـائلو پـه هکلـه بېلا بېـل نظریـات مخـي تـه راغلـل او هغـوی و هـر قسمه نظریاتو ته پخپله فلسفه کي ځای ورکړی.

هـم پـه دې توګـه چـي ګـوتم بدهـ د روح پـه هکلـه کـوم ۶۲ دوشـپېته نظریـات بیـان کـړي دي، ټـول هغـه وخـت موجـود وو. د عصـري علومـو پـه وجـه د خلګـو د اسـانۍ د پـاره دا ټـول نظریـات پـه اختصار سره د نن سبا په اصطلاح کي بیان کېدلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱) Animasm (.........) داسې ټولنه چې پر روح يې يقين درلود او د هغو دا عقيده وه چې په بې ځان شيزونو کې هم روح وي. په دې وجه بت پرستي، د ستورو پرستش او د اور پرستش غوندې عقيدې را منځ ته شوې. هم دغه خلک د بلاګانو، د ديوي، ديوتا وغيره قائله شول.

(۲) Polythiesm (کثرت پرستي) داسې ټولنه چې د قدرت په مظاهرو کې به يې د روح تصور منی، (لکه ځنګه چې د ويدونو د ديوتاګانو په هکله منل دي) يا چې د يو خدای ماسوا د ډېرو خدايانو منونکي وو.

(۳)Ponthiesm (د وحدت الوجود او متوسطو عقيده) هغه ټولنه چې د يو سبب العلل روح منونکي وو او دا خبره يې منله چې ټول د دې مظاهر دي. د ويدانت فلسفه د تصوف غوندې هم د دې نظريې دي.

(۴) Dualiesm : هغه ټولنه چې روح او ماده يې دوه مستقله جوهر ګڼل، (لکه د جين مذهب منونکي) د دوی سره هغه خلک هم ول کوم ته چې موږ ماديئين او لذتئين ويلای شو. په دې ټولو کې چې کوم امر مشترک ؤ هغهٔ دا ؤ چې د وجود او مادې نه بغير روح يو شيز ضرور دی. او د دې روح د خوشحالۍ، اسودګۍ او سکون په هکله دوی بېلابېلې طريقې ښودلي کېدلې. چا پر هون باندې زور کاوه، چا پر قربانۍ باندې، چا د بتانو پر عبادت، څوک د ارواح خبيثه د خوشحالۍ د پاره، څوک پر مراقبو باندې او چا خو پر وجود (جسم) باندې سختۍ تېرولو يا خودکشيو (ځان وژني) باندې لګيا وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ګوتم زوکړه**

غـرض د ګـوتم بدهــ د زوکـړي پـر وخـت مـاحول داسـي ؤ چي د خلګـو پـر ویـدونو بانـدي د کتب الهـي یقین ؤ. سنکسـرت یـې د دیوتاګـانو ژبـه ګڼلـه. د "منـو" د قـانون مطـابق اولـس تـه د دې د تـر لاسـه کولـو اجـازت نـهٔ ؤ. د ورځنـۍ ژونـد د تېرولـو د پـاره یـوه نـوې داسـي ژبـه کارېدلـه چي هغـې تـه "پراکـرت" ویـل کېـده. دا پراکتونـه د هـري اولـس والـۍ ځـان ځـان تـه وو. پـه بهـار او د همـالیې پـه لمـن کـي پـالي ژبـه رواج وه. پـه مـذهب کـي د رسـم غلبـه وه. د قربـانۍ، هـون او یګیـه کثـرت ؤ. د نسـل پـه سـوچه والـي کـي شـدت ؤ. د ذات پـات بندیځونـه ډېـر سـخت وو. روزګـار خانـداني شـوی ؤ. مـذهبي پیشـواؤ د بـرهمن لقـب خپـل کـړی ؤ او د نجـات او آخـرت یې ځان یواځینی مالک او اختیار کل (ټهېکدار) ګڼلی ؤ.

راهـب (عابـد)، سـادهو (چـي سـوړ انګـار پـر ځـان مـژي،لڅ ګرځـي) جـوګي (پـاڼو ګـر) رشـي (مراقبـه کولـو والا) ځنګلونـو تـه د اسـتوګني او عبـادات د پـاره سـتانه شـوي وو. پـر روح بانـدي عقیـده عامـه شـوې وه. د تناسـخ هـر سـړی قائلـه شـوی ؤ. د کلیوالـو ژونـد هـم هغسـي سـاده ؤ، او پـولي پټـي پـه زیاتـه توګـه سره ګـډ وو. لاکـن د ښـارونو پـه ژونـد کـي تصنع او تکلـف ؤ. هېـواد پـه بېلا بېلـو برخـو کـي وېشـل شـوی ؤ. واړه واړه راجاګـان وو کـوم چـي بـه هـر وخـت د یـو بـل سره پـه جنګونـو بوخـت وو، او د یـوه لـوی سـلطنت د قـائمولو هڅـي یـې کـولې. د عـام اولـس او حـاکم فـرق واضـح شـوی ؤ او اولـس چـي پـه کـي بـه وېـش او شـودر (د متوسـطي طبقـې خلـګ) وو خپلـي بـې وسـۍ او لاچـارګي بـه یـې محسوسـوله. پـه داسي حـالاتو کـي ګـوتم بدهـ یـو داسـي بې مثالـه او روښـانه فلسـفه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رامنځ ته کړه چي د حاکمانه فکر کولو والا خلګو په سترګو کي خیره شوه. په هندوستاني ژوند کي یو لوی انقلاب خور شو، د کوم په وجه چي په هېواد کي د بدلون او برابری باد راوالوتی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باب ، ۲

## سوانح عمري

د هغـه وخـت د هندوستان پـه کپـل وسـتو سـيمه کـي کومـه چـي د بنـارس نـه سـل کلـو ميټره لېـري د قطـب (شـمال) ختـيځ د دريـاب روهنـي [51] يـا رومنـي پـر غـاړه واقـع وه ، د حضـرت عيسـیٰ تـر زېږېـدني پنځــه سـوه کالــه پخـوا يــوه آريــائي قبيلــه "سـاکهيه"[52] اوسـېدله ، د دې قبيلـې پـه ختـيځ کـي يـوه قبيلـه "لچـاوي" اسـتوګنه وه. دا هغـه سـلطنت ؤ چـي بيـا وروسـته د "مګدهـ"پـه نـوم سـره خـوره او مشــهوره کېدلــه. د ســاکهيه قبيلــې پــه قطـب کــي د مغــل قــوم بنجاريـان او سـېدل او پـه پچهـم (لوېـديځ) کـي آريـه ورت ابـاد وو. لوېــديځ چــي د ســاکهيه نــزدې ګاونــډي ووکــي سراوســتي راجــا اوسـېدی. د دهٔ او د مګدهـ د راجـا تـر مـنځ بـه هـر وخـت جنـګ وجـدل روان ؤ. پــه دې توګــه ســاکهيه قبيلــه د منځنــي دېــوال پــه حيــث ازاده وه. د دې قبيلــې زيــاتره خلګــو مالــداري او کښــت و کرونــده کولــه. دوی بــه د دې مځکــو د اوبولــو د پــاره د يــوې بلــي غټــي ويــالې نــه اوبه تر لاسه کولې کوم ته چي هان ويل کېدو.

د دې غټـي ويـالې پـه ابلـي خـوا يـوه بلـه قبيلـه اوسـېدله چـي "کولين "نومېده.

---

[51] نن سبا سرهاندي بلل کېږي.

[52] څه مؤرخين دا خيال کوي چي د ساکهيه لفظ د شک نه مشتق دی، او په دې توګه دا قبيله د شاک قوم غوندي مغل وو. لاکن د جمهور د مؤرخينو له دې سره اختلاف دی او دوی دغه ساکهيه قبيله په کوم کي چي ګوتم زوکړی ؤ آريه بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زوکړه

د دې قبیلې د راجا د دوو لوښو ودونه د ساکهیه قبیلې د راجا شدودهن سره شوي وو. له بده مرغه له دې دواړو نه تر ډېره موده یو اولاد هم ونهٔ شو.

بیا د ډېرو دعاؤ، قربانیو او منتونو وروسته د غتهي خور چې کله هغهٔ د ۴۵ کالو وه، حمل ونیو. کله چې د ماشوم د زوکړي وخت رانږدې شو نو دا په دې نیت د پلار کورته ولاړه چې ماشوم هلته وزېږوي. نو چې کله راښې لمبیني[54] باغ ته ورسېده نو دردونه پرې راغلل، او هغه مجبوراً د یوې ونې لاندې پرېوته، په دې توګه هغهٔ ماشوم چې مخته به ګوتم بدھ په نامه مشهوره کېدی تر شین اسمان لاندې وزوکېدو. راجا شدودهن ته خبر ورکول شو، جشنونه جوړ شول، مور او زوی دواړه بېرته کپل وستو ته راوستل شو.

د بدھ مور "مایا" د بدھ د زوکړي پر اوومه ورځ له دې نړۍ سترګې پټې کړې، او د ماشوم ذمه واري د میرې یعنې د دهٔ د خاله (ترور) په ذمه شو. دا زوکړه غالباً ۶۳۴ ق،م یا ۵۶۸ ق،م کې وشوه.[55]

---

[53] د هغې نوم مهایا ؤ. هغې ته په بودهیانو کې هغهٔ مقام حاصل ؤ کوم چې په عیسائیانو کې و حضرت مریمؑ ته حاصل دی.

[54] دا وخت دا مقام د رامندیي په نامه دی. دا په نیپال هېواد کې په ځنګلونو کې واقع دی. دې ته چې کوم دریاب دا وخت نږدې دی هغې ته " تیل دریاب " ویل کېږي. دغه نوم په پخوانیو مذهبي کتابونو کې هم دی. وګورئ ضمیمه (۳)

[55] "بدھ اور اس کا مت" شیو نارائن شمیم، کې ۶۲۴ ق،م لیکل شوی دی. لاکن که د اشوک د تاج پوشی نه حساب ولګول شي نو دا ۵۶۵ ق،م کې پیدا شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې امر او روايت کې ډېر اختلاف دی چې آيا د دهٔ لومړی نوم ګوتمؤ که سدهارتهـ. لاکن او سنی تحقيق مو ږ ته دا ښيي چې د سدهارتهـ په نامه کې د شک ګنجائش دی، او د ګوتم په هکله واضح ثبوت شته چې له ماشو متوب نه په دغه نامه بلل کېدی. البته سدهارتهـ خطاب کېدای شي. دا خطاب هم هغسې کېدای شي چې وروسته د دهٔ منونکو دهٔ ته نور ډېر خطابات ورکړل. د بېلګې په توګه ساکهيه، سنها، سيګتهـ وستها، جن بهاګوا، لوک ناتهـ او دهم راج وغيره. په دې توګه بايد چې دې جليل القدر هستۍ ته د ګوتم په نوم وويل شي مناسب به وي.

**وادهٔ**

د ګوتم بدهـ د ماشو متوب مستند حالات په يوه کتاب کې هم نهٔ تر لاسه کېږي. کوم حيرت انګيز حالات چې د هغې زماني تر لاسه شوي دي هغه يا وروسته د عقيدت مندی نتيجه ده. بهرحال دو مره ضرور معلوم شوي دي چې په ځوانۍ کې يې د يوې شهزادګۍ چې ډېره حسينه و ماه جبينه وه ورسره وادهٔ وکړ. چې غالباً د دهٔ د ماما لور وه. د دې ښځې په نامه کې هم اختلاف دی، لاکن ډېر په دې متفق دي چې هغه سو بهدرا، کنکنا يا يشودهرا نومېدله. د کهنې بودهي کتابونه پر يوې ښځې اکتفا کوي او چينې بودهيان يې درې ښځې بولي. يشودهرا، ګوتمي، او منوهرا. د تبت خلک هم د دهٔ درې ښځې ښيي، لاکن د هغو نومونه لږ بېل دي، يشودهرا، ګوپيا او اتپاللنا يا مرګاجا. دې نه بظاهره دا څرګندېږي چې يشودهرا ته د بدهـ شهرت او د دې د خپلې نېکۍ په وجه مختلف خطابات ورکړل شوي وو او وروسته له هغې دې خطاباتو د بېلا بېلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصیتونو صورت اختیار کړ. هم په دې وجه د نن سبا مؤرخین صرف یشودهرا کومه چې په هر روایت کې راغلې ده ، د ګوتم کورودانه بولي. او دا ګومان کوي چې د ګوتم بدهـ زوی "راهل" د دې له بطنه زیږیدلی دی. د وادهٔ نه بیا تر نولس کلونو پورې د ګوتم بدهـ حالات صرف د یوه مبالغه آمیز حکایت ماسوا هیڅ معلومات نشته. د لوستونکو د دلچسپۍ د پاره هغه کیسه داسې ده.

**فنون جنګ**

د بدهـ مذهب د راویانو بیان دی چې کله ګوتم ځوان شو نو دهٔ د هغې زمانې ټول فنون او علم تر لاسه کولو اراده پرېښوله. د کوم چې د یو شهزاده د پاره ډېر ضروري وي. دهٔ خپل ټول وخت د حسیني ماه جبیني یشودهرا د حسن په پرستاری کې تېروو. هغه د محل په دننې رونق کې دومره ورک ؤ چې د بانډې له محل څخه وتل یې پرېښی ؤ. دا خبره د خاندان په نرانو ډېره بده ولګېده نو د شکایت کولو په توګه و راجا شدودهن ته راغلل چې که "د شهزاده صاحب دغه حال ؤ نو به ډېر ښه حکومت وکړي."

کله چې دا خبره د ګوتم تر غوږو ورسېده نو دهٔ یوه ورځ خاص د دې د پاره وټاکله چې خپل ټول هنر ښکاره کړي. او په ټوله سیمه کې یې نغاره ووهله چې د ګوتم شهزاده سره چې څوک په کوم هنر کې مقابله کولای شي هغه دې په ټاکلې ورځ راشي. په دې توګه خلک ډلې ډلې راغلل او د شهزاده ګوتم سره یې مقابله وکړه. لاکن د راتلونکې وخت بدهـ ټول عسکري هنرونه، کوم چې په هغه وخت کې ۱۶ یا ۱۸ وو پر ټولو بریالی شو او ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ومنله چي په دې سیمه کي که څوک په هر هنر کي پیاوړی دی نو هغه ګوتم دی.[56]

د دې واقعې وروسته تر نهه دېرش ۲۹ کلو پوري د دهٔ د ژوند هیڅ معلومات نشته، په دې کال کي په ګوتم کي هغه ذهني انقلاب ځای جوړ کړی د کوم په وجه چي د دهٔ ژوند بدل شو. د دهٔ د عقیدت مندانو دا دعوه ده چي په دې کال یوه دیوي په څلورو بېلوبېلو شکلونو کي د دهٔ مخي ته راغله. لومړی د یوه سپین ږیري کښت ګر په شکل کښي، بیا د یو ناروغه سړي په شکل کښي، دریم ځل دیو بوی ناکه مړي په څېر او څلورم وار د یوه سادهو (چي پر ځان سوړ انګار مڼي، لوڅ ګرځي او ځان ته د علم الغیب عالم وایي) په شکل کښي. د بدهـ مذهب منونکو دا یو انتهائي او عجیبه بیان دی چي ګوتم په هغه وخت کي دا نهٔ وو لیدلي، یعني د دغو سره یې په ژوند کي هیڅ واسطه نهٔ وه شوې یا تر دې له مخه یې داسي واقعات نهٔ ؤ لیدلي. او اوس چي هم دهٔ دا ولیدل نو پرته له دهٔ او د دهٔ د مصاحب خاص "چنا" نه هیچا نهٔ اولیدل.

---

[56] لوېدیځ تاریخ پوهان دا کیسه په دوو وجو غلطه ګڼي. یوه خو دا چي د کني روایات دا د وادهٔ نه وروسته بولي او شمالي راوایات دا د وادهٔ نه مخ کي بولي. دویم دا چي د دې په مقابل کي په اوسني وختو کي تر ډېره حده مبالغه امیز الفاظ لیکل شوي دي. لاکن انصاف پسندي د دې د رښتوني په هکله هیڅ مشکلات نهٔ محسوسوي. مبالغه امیز برخو د ویستلو څخه دا بالکل ممکنه ده چي په دواړو مواقعو مقابله شوې وي او ګوتم په خپله قبیله کي ښه جګړن عسکر ثابته شوی وي. د هر مذهب بانیان د غیر معمولي شخصیت مالکان ول او د ګوتم په هکله د غیر معمولي کېدو هیڅ شک نهٔ شي کېدای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ظاهره خبره ده چې د نن سبا په ترقیافته نړۍ کې چې کوم خلک پر دیوي ، دیوتا یقین نهٔ لري نو هغو ته داسې بیانات هیڅ اهمیت نهٔ لري. لاکن د دې نه دا څرګندېږي چې ګوتم د محل په تماشو کې ورک نهٔ ؤ بلکې هغه ته د ژوند او د هغه پر مسائلو ډېر فکرمند ؤ او د خپل مصاحب چنا سره به یې پر دا مسائلو بحث کوو. ممکنه ده چې دهٔ په دې هکله یوه ورځ مړی، ناروغه، سپین ږیری او سادهو لیدلی وي، او دهٔ ته د ژوند څهره نوره هم ترخه ایسېدلې وي. اتفاقاً دا هغه زمانه وه چې د دهٔ ښځه حمل داره وه، او د ګوتم په کور کې د یوه نوي ژوند پیل کېدی. بهرحال د ژوند او د ژوند د مسائلو خوا ته د ګوتم فکر کول یو فطري عمل دی.بیا وروسته د عنفوان(تازه، نوی) وادهٔ او د ځوانۍ د ګرمي سړېدل او دې نه وروسته په دهٔ کې متانت (درونډ والی، سنجیدګي) راتلل او د فکر زیاتوب یقیني ؤ. غرض دا چې دهٔ فکر کاوه چې څهٔ کول پکار دي؟ په دې لړ کې د دهٔ لیدنه د یوه جوګي (پانو ګر) سره هم وشوه او تر خبرو نوبت ورسېدی. د داسې بزرګ نه نوره څهٔ توقع کېدای شي چې هغه پر ګوتم باندې د دنیا ټوله بې ثباتي (دوام، بقاء، پوختوب) ښکاره کړه. کېدای شي چې دهٔ ته یې د مایا (جوړ) جال ورښودلی وي. دغه ترغیب به یې ورکړی وي چې له دې دامو ځان خلاص کړي، او چېري ځنګلونو ته ورشي عبادت وکړي او د ابدي خوشحالیانو تر لاسه کولو هڅه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د راهل (د ګوتم د زوی) زوکړه**

لهـذا د راویـانو ییـان دی چـي ګـوتم د دې فقیـر سـره د خبـره کولـو وروسـته خپـل بـاغ تـه راغی،هلتـه کښېنسـتی او د ژونـد پـر مسـائلو د هغـو نـه د خلاصـون پـه هکلـه یـې غـور کـوو چـي زېـری وربانـدي وشـو چـي د دهٔ د ښـځي د امیـد پـه بـاغ کـي مېـوه شـوې ده او هغـه هلـک دی. پـه ګـوتم چـي د دې خبـري اثـر وکـړی د هغـې انـدازه لـه دوو خبـرو څـه کېـږي. یـوه خـو دا چـي د دې خبـري د اورېـدلو سـره چـي کومـه جملـه د دهٔ د خُلـې نـه ووتـه هغـه دا وه چـي "زهٔ بـه دا نـوې او مظبوطه رشته هم پرېکوم".

دویـم دا چـي کلـه دی کورتـه راغـی نـو خوشـحاله نـهٔ ؤ، ډېـر غمـزده او متفکـر ؤ. پـه ښـار کـي ښراغونـه بـل وو، د محـل پـه دروازه کـي سـاز غږېـدی، خلګـو د خوشـحالۍ نـه یـو بـل تـه مبـارکي ورکولـه. لاکـن نـوی پـلار پرېشـان ؤ، پـه سـتونزو کـي راګیـر ؤ، کلـه چـي دی زنانـه خـانې تـه ننـوتی نـو یـوې خیني (خوښـیني، د ښـځي خـور) یـې پـه یـوه سـندره د دهٔ هـر کلـی وکـړ چـي پـه هغـه کـي دا سـي ذکر ؤ.

"تـول خوشـحاله دي، پـلار خوشـحال، مـور خوشـحاله او هغـهٔ ښـځي د هغـې خاونـد فردفریـد (بـې مثـال) دی او زوی یـې د سپوږمۍ یوه ټوټه ده".

پر ګـوتم تـه د" خوشـحالۍ "ټکـی ډېـر پـه زړهٔ پـوري ولګېـدی او هغـه د خپـل غـاړي هـار دې نـازنیني خینـي تـه ورکـړی. د هغـې خـو دا خیـال ؤ چـي زهٔ یـې منظـور نظر شـوم، هم پـه دغـه سـوچ کـي مـخ پـه وړانـدي ولاړی چـي رښتونې خوشحالۍ تر لاسه کېدای هم شي که نهٔ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ترک دنیا**

په هم دغه شپه د وولس ۱۲ بجې ګوتم و چنا ته د بګۍ د تیارولو وویل او خپله پر ښځي او زوی آخري نظر اچولو د پاره و کوټې ته ورغی. دواړه په خواږه خوب ویده وو. زړه یې وغوښت د زړه ټوټه د مور د غېږ نه را واخلي او ښه په مینه یې ښکل کړي. لاکن د استقامت په وجه یې خپل لاسونه را وګرځول او پر دواړو محبوبو یې د میني نظر واچوه او ټول دولت، جاه و حشمت، تخت و تاج یې په پښه ووهل او د محل نه ووتو. هلته چنا د بګۍ سره د ده په انتظار ؤ. بس سمندن باد پا (د آس ټانګه، بګۍ) یې ښه په تېزه د خپل ریاست نه وباسله. د خپل د خسر ګنۍ د راج حدودنه هم ووتو او د "انومانديي" پر غاړه راغی ودرېدی. هلته ده خپل ټول زیورات او شاهي جامه و چنا ته ورکړه، چې دا او بګۍ بېرته ورسوه. هغه وفادار چنا (ټانګه وال) دی ډېر پوهه کړی، ډېر کوشش یې وکړی چې دا مه کوه. لاکن ده تر زړه تېره کړې وه، هغه چېري د چا او رېدلی شو. چنا ورته وویل چې نو بیا ما خپل لومړی مرید جوړ کړه. لاکن ده نه ومنله. مور، پلار خبرول ضروري ؤ او هغه د چنا په وجه کېدای شو. نو بیا مجبوراً د حکم منلو لوظ و شو. ده خپل اوږده ویښتان پرې کړل. د یوه لاروي نه یې خپلي جامې بدلي کړې، چنا یې پرېښودی او خپله د راج ګړهـ د لویو لویو کندو په خوا روان شو.

شعر:

نه یې د سود بود و منله او نه د منګل
ووتی له کوره په لوري د ځنګل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رياضت (پر ځان سختي تېرول)

راج ګړهـ[57] هغـه وخـت د مګدهـ دارالسلطنت ؤ. دا پـه داسـي نـاوه (وادی) کـي ابـاد ؤ چي شلـور خـوا تـه يـې غونـډۍ وې. پـه دې غونـډيو کـي هغـه وخـت لـوی لـوی دروېشـان او راهبـان اوسېدل. او د دوی د علـم و فضـل شـهرت تـر لېـري لېـري خـور ؤ. ګـوتم هـم پـه دغـو بزرګـانو کـي و يـوه بـزرګ چـي نـوم يـې "نـامي الاره" ؤ پـه خـدمت کـي حاضـر شـو، او د هغـه نـه يـې تعلـيم حاصـلول پيـل کـړ. لکـه چـي د نـامي الاره نظريـې دی مطمـئن نـه کـړو نـو دی دويـم فلسـفي "ادرک" نـه يـې درس اخسـتو او هنـدي يـا هنـدو، د ژونـد فلسـفه زده کولـه يـا يـې ځـان پـه پوهولـو. هغـه وخـت د دې فلسـفې درې مدرسـې وې او پـه دوی کـي تـر ټولـو زيـات رياضـت او وجـود تـه ضـرر رسـول يـا پـر وجـود سـختۍ راوسـتل ډېـر مقبـول ؤ. نـو پـه دې توګـه ګـوتم حلقـه درس او د اروـلـه ځنګـل چـي د "بدهـ هو ګيـا" نـزدې دی تـر شـپږو کلـو پـوري د پنځـه پلويـانو (بهکشـو، چېلـې) سـره پـه بېلا بېلـو قسـم رياضـتو نـو او وجـود تـه ضـرر رسـول يـې وکـړ. نوبـت تـر دې راورسـېدی چـي لـه ډېـره جسـماني کمـزورۍ دوی د ډ کـي پـه شـان شـول. کلـه چـي دوی يـوه ورځ د مابعـد الطبيعات (الهايات، فـوق الفطـرت) پـر مسـائلو غور کـوی او ورو ورو روان وو نـو د کمـزورۍ او ډنګر والي په وجه ګوتم وغور ځېدی او بې سوده شو.

کلـه چـي شـاګردانو دی يعنـي ګـوتم پـه سـود کـي راوسـتو نـو بدهـ د جسـماني رياضـت اراده پرېښـودله او هـم د هغـې ورځـي نـه يـې خـوړل، څښـل پيـل کـړل او دا اعـلان يـې وکـړو چـي لـوږه او

---

[57] راج ګړهـ دا وخت راج ګيند بلل کېږي. بمبسار (۸۹۸ق،م څخه تر ۲۷۳ق،م پوري) چي کوم ښار دلته اباد کړی ؤ اوس يې هم اثار ليدل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رياضت د دې مسائلو حل نهٔ دی. پنځه واړه شاګردان د دهٔ په دې خبره ډېر خفه شول او دی يې د لارې چپ وبولی او د وی بېرته ځيني بنارس ته راغلل.

**دماغي انتشار**

د شاګردانو د تللو نه وروسته ګوتم ترډېره حده د دماغي، روحاني او په جذباتي بې اطمينانئ کې راګېر شو. دغه حالت ته د بدهـ مذهب کتابونه د رڼا او د تيارې د قوتو د مقابلې نوم ورکوي. د هغو بيان دی چې کله د نجات دهنده عالم او د خبائث شهزاده په منځ کې جنګ وڅېړل شو نو په زرګونو ستوري را وغورځېدل، وريځې راغلې او تيارې خورې شوې، سمندر د زلزلو په وجه پورته شو. د دريابونو مخه بېرته په شا وګرځېده. د غرونو هغهٔ څوکې چې د زرونو کلونو راهيسې پر هغه باندې بې شمېره ونې ولاړې وې پر ځمکه را وغورځېدې. يو طوفان عظيم په ټول عالم کې تباهي جوړه کړه، د تصادم په وجه يو آفت خيزه شور جوړ شو، لمر ځان په تياره کې پټ کړی، او د بې سُرو بهتنو (ساز) د کثرت په وجه ټوله فضا خرابه شوه.[58]

د دې مبالغې نه د سترګو په پټولو کې هم بايد چې دا ومنو چې کله ګوتم د رياضت او وجود ازارۍ نه څهٔ ترلاسه نهٔ کړل او و دهٔ ته هغهٔ د زړهٔ سکون په نصيب نهٔ شو د کوم په لټون کې چې دهٔ تخت و تاج، ښځه او زوی يې پرېښې وو نو ترډېره حده مايوسه او زړهٔ يې مات شو او په فطري توګه به يې زړهٔ غوښتی وي چې د رواقيت Epicurianism پر ځای لذتيت Stokism باندې عمل وکړي. او د دهٔ په زړهٔ او دماغ کې به يو هنګامه جوړه شوې وي. د دې کېفيت د زياتوب يوه وجه د دهٔ وفاداره شاګردان، چې دی يې پرېښی ؤ هم کېدای شي.

---

[58] رائس ډيوډس

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهرحال دی تر ډېره حده مضطرب او پرېشان شو. په هغه ورځ یا دوو ورځو وروسته د رنجارا د دریاب د غاړي خوا ته روان شو. د ورځي ډوډۍ د نزدې کلي یوې جینۍ چي نوم یې "سنجاتا" ؤ وراوړله[59]. هغه د پیپل (بر)د وني لاندي کښېنستی، د ډوډۍ خوړلو وروسته هم هلته ناست غور یې کوی.

**بدهـ جوړېدل**

ذهني هیجان او روحاني کشمکش برابر روان ؤ، تر دا چي ورځ په تمامېدو شوه او لمر په پرېوتو شو. نا بېره د لمر د پای د وړانګو سره د ګوتم په ذهن کي یوه رڼا خوره شوه او دهٔ په باطن کي د دې رڼا نه هغه حل تر لاسه کړی چي دهٔ د څو ورځو راهیسې د هغه د پاره دومره ریاضتونه او سختی پر ځان تېري کړي وې. دهٔ معلومه کړه لکه چي دهٔ ته څوک وایي چي صرف د باطن په پاکوالي او د خلکو په مینه کي د فلاح ابدي راز پټ دی، او د انساني تکلیفونو نه د خلاصون هم دا دوې ذریعې دي.

د دې نوري کېفیت او ارتقاء یا انکشاف نه وروسته هغه بدهـ یا روښانه ضمیر لرونکی وبلل شو او دا ونه بودهي ونه وبلل شوه.

د دې نه د وروستو حالت د ګوتم په الفاظو کي دا سې بیان شوی دی. "کله چي ما دا ولیدو نو زما روح د خواهش د بدو نه د دنیاوي ژوند نه د غلطۍ او د ناپوهي د مسائلو نه ازاده شو. نو دې ازاد ته د خپلي ازادۍ علم وشو، د بیا ژوندي کېدو نه خلاصون پیدا شو.

[59] د دې واقعې سره مربوطه یوه بله واقعه هم شته په کوم کي چي حضور بنت شعیب و حضرت موسیٰؑ ته دعوت ورکړی ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـزرګ دور پـای تـه ورسـېدی او فـرض پـر خپـل ځـای شـو. زهٔ به بیا دې نړی ته نهٔ راځم، دا ما معلومه کړه.[60]

اوس د ګـوتم و مـخ تـه دا سـوال پیـدا شـو چـي دی دا حـل تـر ځـان پـوري محـدوده وسـاتي، کـه دا د پیغـام پـه شـکل کـي تـر ټـول عالم پوري ورسوي؟

هغـهٔ پـه دې پوهېـدی چـي پـه "آریـه ورت" کـي د برهمنـو ډېـر اثـر دی او د هغـوی نظریـات پـه اولـس کـي عـام او مقبـول دي. هغـهٔ پـه دې پوهېـدی چـي د وجـود ازاري او سـختی پـه مـنځ کـي پرېښـودلو، دی پـه اولـس کـي ډېـر بدنام شـوی دی او پـه دې ډېـر ښـه پوهېـدی چـي دی پـه خپـل هـدف کـي پـه اسـانۍ نـهٔ شـي بریـالی کېـدی، د دهٔ پـه زړهٔ کـي چـي د ټـول عـالم مینـي پـټ ځـای مونـدلی ؤ دهٔ د هغـې سـخته غندنـه وکـړه او پـه دې اراده راپورتـه شـو چـي دی بـه خپـل دا حـل "خپلـه نظریـه" د نـړۍ د فائـدې د پـاره ضـرور وړانـدي کـوي، چـي د دهٔ رنګـه هـر څـوک د بیـا پیـدا کېـدو نـه خلاصون و مومي، او هر یو ابدي سکون او راحت تر لاسه کړي.

غــرض د دهٔ دې هــدف دی متحــرک کــړو، او دی د دې د اشـاعت د پـاره روان شـو. د دهٔ اراده وه چـي تـر ټولـو لـه مخـه بـه دی خپـل پیغـام خپلـو اسـتادانو (الاره، او ادرک) تـه رسـوي.[61] لاکـن کلـه چـي دی د هغـو و دېـرو تـه ورسـېدو نـو معلومـه شـوه چـي هغـوی لـه دې دنیـا سـترګي پټـې کـړي دي. اوس نـو هغـه د خپـل بـې وفـا پلویـانو خوا تـه مخـه کـړه کـوم چي پـه بنـارس کـي وو. پـه تلـو تلـو کـي ورتـه پـه لاره کـي د یـو پېژنـدګلو بـرهمن "اوپـک" سـره ملاقـات

---

[60] استهوري آف بدهدهرم. کې،جې سونډرس مخ ۲۳

[61] جګیسو جي د دهٔ نوم "ارز کلم" ښودلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وشو. کله چي دې برهمن د بدهـ ځلېدلی مخ ولید و نو يې پوښتنه ځيني وکړه "خوشحاله خوشحاله ڇېري روان يې"؟

بدهـ ورته وویل چې زهٔ د اعلی ترین قانون د "پیّې" د چلولو د پاره روان يم[62]. برهمن د بدهـ په ځواب نهٔ شو خوشحاله. هغه په دې چي هغهٔ د جپ تپ منونکی ؤ نو بدهـ يې په دې خيال بد مذهب بللی. لاکن پر ګوتم باندې د دهٔ د خبري هيڅ اثر نهٔ واخستو او مخته روان شو.

نو د روښان ضميري دوه مياشتي وروسته يوه ورځ د لمر د لوېدو پر وخت د بنارس نه دري ميله په شمال کي د مګاويه[63] مقام ته ورسېدی دلته يوه دشت غزالا وه او د دهٔ بې وفا پلويان هم دلته دېره وو.

کمزوره عقيده لرونکي شاګردان[64] د استاد د راتلو په تعظيم کي نهٔ ودرېدل، او په خپلو کي يې سره وويل چي که دا بد مذهب فقير زموږ خواته راغی نو بايد چي دی موږ په خپل

[62] چرخ حيات: دلته د چرخ يا پيّې څه مراد د داسي شهنشاه سوارلي يا پيّه ده کوم چي به د ټولي نړۍ فاتح وي. د بدهـ مطلب دا ؤ چي ما يو داسي رواج يا مذهب ته د ودهٔ ورکولو تابيا کړې ده چي په ټوله نړۍ کي به خور شي. د بدهـ د دې ويلو پر بنا پيّه د بدهـ مذهب هم داسي نخښنه جوړه شوه څرنګه چي صليب د عيسائيانو او هلال (مياشته) د مسلمانانو (د تفصيل د پاره وګورئ ضميمه ،۱)

[63] دا مقام وروسته بيا د "دهمک" په نوم ونومول شو. اشوک دلته په درېيمه صدۍ ق،م کي يو يادګار جوړ کړی ؤ چي بيا چيني سېلانيانو ليدلی ؤ. د دې اثار اوس هم موجود دي. د دې مقام معلومات په ۱۸۶۲ عيسوي کي معلوم شول. او د دې سنه د اثارقديمه په راپورټ کي د دې ډېر راپورونه موجود دي. دا هغهٔ مقام دی کوم چي په اوسني وختونو کي د بدهـ مذهب پوهنتون درجه تر لاسه کوي.

[64] د دوی نومان دا وو. کونډینه، دپ، بهدري، مهانام او اشوجت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحبت کي شریک نهٔ کړو، بلکې دهٔ ته به د ناستي هم نهٔ وایو. ګوتم دا محسوسه کړه چي دی د دوی په نظر کي د سختی پرېښولو په وجه قابل احترام نهٔ دی، په دې یې دوی مخاطب کړل چي تاسو تر اوسه د مرګ د دام نه نهٔ یاست خلاص شوي؟ غم، ستونزو او تکلیفونو تر اوسه تاسو نهٔ یاست پرېښي؟ لاکن ما داسي لاره موندلې ده چي د ټول عالم خلاصون په کي کولای شم.

دې خام عقیده لرونکو په دې یقین نهٔ کولو، ګوتم هغه وخت دوی په ټوله نظریه پوهه کړل. څرنګه چي بدهـ په دا خپل نوي مذهب باندي شاګردان پوهه کړي وو هغه په "دهم کرتي پوتن سوت" کي موجود دي. او د هغې انګرېزي ژباړه رائس ډېوډس د Buddist Suttras په نامه کړې ده. د دې تفصیل بحث به د بدها په تعلیماتو کي راځي. لاکن د داستان د تسلسل د پاره د منشي امیر احمد علوي صاحب بې مثاله لیک وارئ.

**د وعظ خلاصه (تشریح)**

کوم څیز چي وجود لري هغه د مادې نه جوړ شوی دی. ماده غیر مستقله او فاني ده. په دې په هر وجود لرونکي څیز کي د فنا جراثیم (میکروب، چینجی) موجود وي. انسان حیات وجودي لري او دهٔ ته د فنا نه چاره نشته. غم، کمزورتیا، ناروغي او مرګ د فنا مدارج (رتبه، درجه) دي. تر څو چي ناپاکه خواهشات پاته دي، حرص، فکر او آرزو به ورسره وي. یعني غم او کمزوري به یې نصیب وي. وجود ته ضرر رسول او د خواهش د ختمولو کوشش خطرناک دی. که په دې کار کي ژوند ختم شو نو دا مرګ به ډېر ناقراره وي او د آواګون نه به نجات نهٔ مومي. په کوم څیز چي انسان د مادي نړۍ سره تعلق لري هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړهٔ بدوالی دی. تر څو چې زره مقدار بد پاته وي، نری نه به ترون پاتي وي. د زړهٔ د بدو سره د نېکو اعمالو هیڅ فائده نشته. په دې چې د نېکۍ مېوه خو به ترلاسه شي لاکن د بدۍ په وجه به د دویم ځل زېږېدنه او د مرګ مصیبت پر ځان تېروي. او په دې دوزخ کي هیڅ نهٔ ده معلومه چې د نېکۍ توفیق به وي او که نهٔ؟ په دې، بغیر د وجود ي سختۍ خپل خواهشات لېري کول، زړهٔ د تمامو عیبو څخه پاکول د خلاصون د پاره ضروري دی. د عدم وجود خواهش هم دومره خطرناک دی لکه د وجود. لهذا نېکه عقیده، نېک نیت، نېکه خبره، نېک فعل، نېک ژوند، نېکه هڅه، نېک خیال او د نېکي مراقبې نه نروان (فنا) تر لاسه کول دي. یعني ټول اعضا د وجود دي بې حسه کړل شي. او ځان دي د مړي په شان جوړ کړل شي.

مندرجه بالا دا اتهٔ نېکۍ په عمل کي راوستل او د نروان و بام ته د ختلو د پاره څلور پایې دي.

لو مړۍ پایه د زړهٔ بیداري ده، یعني د غم او د بنادۍ د راز طلب، کله چې په لټون کي د حق، مرشد کامل ته رسېدل پوره شي نو دا درجه تر سره شوه.

دویمه پایه د ناپاکو، غلیظو شهوتو پرېښودل او د خپلو لو خیال د زړهٔ څخه ایستل دي. کله چې پر دې عمل ثابت قدمه شوې نو دا درجه هم تر سره شوه.

درېیمه پایه جهالت، شک، غصه، حرص او ټول کمینه خصلتونه لېري کول دي. کله چې د دې نقائصو نه پاک شوې نو د زړهٔ لوح به پاک شي او درېیمه درجه تر سره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخري پايه عشق و محبت په سينه کي چي کينه نهٔ وي نقش کول دي. لکه څرنګه چي مور خپل ځان په خطر کي واچوي او د خپل يوازني زوی پالنه او څارنه کوي، هم داسي د خلاصون طالب دي د هر جاندار د پاره ځان قربانۍ ته تيار ساتي. کوم دښمن باندي چي لومړی غلبه تر لاسه کول ده هغه د نفس خواهشات دي او اخري مهم د عالمګير عشق و الفت په ويښه او په خوب کي دهيان ساتل دي. نهٔ د قربانۍ ضرورت شته او نهٔ د برهمنو د کومک. د هر انسان خلاصون د دهٔ په خپل لاس کي دی.

تر پنځو ورځو پوري دا بيان جاري ؤ. د شاګردانو شک لېري شو. هغو پر ګوتم ايمان راوړو او هغوی په حلقه عقيدت کي د ګډېدون باقاعده خواهش ظاهر کړی. بدهـ ګهوش د دوی خواهش يا درخواست ومنلی، يو ورکوټی رسم ادا شو او باقاعده هغوی په سنګهـ (انجمن) کي داخل کړل شو. او په دې کي د داخلېدو پر وخت هر يو کس به دا وايي چي " زهٔ په بدهـ کي پناه اخلم، زهٔ په شريعت کي پناه اخلم، زهٔ په سنګهـ کي پناه اخلم.

ګوتم په دې دشت غزالا کي درې مياشتي قيام وکړ او دهٔ د هري ورځي ژوند په خپل تفسير کي داسي بيان کړی دی.

**د هري ورځي ژوند**

" ګوتم سحار وختي (تقريباً پنځه بجې) پاڅېدو، او خپل ذاتي خدمت ګارانو ته به يې تکليف نهٔ ورکوو. خپله به يې لاس، مخ مينځلو او جامې به يې بدلولې. د خير غوښتني د دورې له مخه به هغهٔ يو ځای په تنهائي کي کښېنستی او مراقبه به يې کوله. کله چي به بيا هغه وخت راغی نو بيا به درو سرو خپلي مخصوصي جامې (کومي چي به په اولس کي د سنګهـ هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



فـرد اغوسـتې) واغوسـتې. او د خیـر غوښـتو کاسـه (د کچکـول پـه شـان) کلـه یـوائې او کلـه د شـاګردانو سـره د نـزدې کلـي تـه د خیـر غوښتلو یـا کرامـات ښـکاره کولـو د پـاره یـا دغسـي بـه تلـی. پـه لاره کـي بـه یـخ یـخ شـمال د دهٔ لاره صـفا کولـه، د اوبـو ځـاڅکي بـه د اسمان نـه د دهٔ څخـه د ګرد د لېـري کېـدو د پـاره ورېـدل، وریځـو بـه د دهٔ پـر سـر سـوری جـوړ کـړی ؤ، ګـوا دی بـه یـې د لمـر د ګرمـۍ څخـه د کیـږدی پـه څیـر بـچ کـوی. نـورو بـادونو بـه د اسـمان نـه د دهٔ پـه لار کـي ګـلان شـیندل چـي قـدم پـر نـرم ځـای کښـېږدي او دی پـر نـازکو ګلانـو قـدم روان وي او کلـه چـي بـه هغـه د کورونـو ور تـه ودرېـدی نـو بـه یـې د وجـود نـه شـپږ قسـمه رنګـین "نـور" خارجېـدو. د کـوم نـه چـي بـه یـو زریـن او شـوخ رنـګ د کورونـو، دالانونـه او چهجـې بـه رونښـانه شـول. مرغیـو او نـورو حېوانـاتو بـه پـر خپلـو خپلـو ځـایو پـه نـرم او شـیرین غـږ کـي د دهٔ هـر کلـی کولـو. اسـماني نغمـه بـه پـه فضـا کـي خـوره شـوه او د انسـانانو پـه وجـود چـي بـه کـوم زیـورات وو خپلـه شـړنګېدو. کلـه چـي بـه دا علامتونـه ظاهرېـدو نـو خلـګ بـه پوهـه شـول چـي نـن مبـارک او بـزرګ بدهـ خپلـه د خیـر غوښـتو د پـاره راغلـی دی. نـو بیـا بـه هغـوی خپلـي شـوخي، بهترینـي، رنګینـي جـامې واغوسـتې او پـه لاسـو کـي بـه یـې ګلدسـتې او هارونـه اخستي پـه کوڅـو کـي راووتـل. هغـه بـه یـې و بدهـ تـه پېښ کـړل او د یوبـل نـه بـه یـې سبقت وړلـو کـي داسـي ویـل چـي "سرکار! نـن لـه مـوږ سـره ډوډۍ وخـوره، مـوږ سـتا د لسـو ملګـرو یـا شـلو ملګـرو یـا سـلو ملګـرو د ډوډۍ بندوبسـت بـه وکـړو." د دې ویلـو سـره بـه یـې د دهٔ د خیـر غوښـتلو کاسـه ځینـي واخسـته، د دهٔ او د دهٔ د ملګـرو د پـاره بـه یـې د مـزرو چتهایـاني اواري کـړې او تـر هغـو بـه ورتـه ولاړ وو چـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی بـه ډوډۍ نـه وه ختمـه کـړې. د ډوډۍ خوړلـو وروسـته بدهـ بـه د دوی د پـوهي او عقـل د لحـاظ پـه خـاطر داسـي بيـان وکـړی چـي بعضـي خلکـو تـه بـه د بدهـ مـذهب اختيـارولو ماسـوا بلـه لار نـه وه.لاکـن ډيـرو بـه پـر سـيدها لاري د تللـو صـلاحيت پيـدا کـړو او لـوړو مرتبـو تـه بـه ورسيدو. او هغـه بـه پـه دالان کـي تـر هغـه وختـه ناستۀ تـر څـو چـي د دۀ ملګـري ډوډۍ نـه کـړي ختمـه. نـو کلـه چـي بـه دوی ډوډۍ ختمـه کـړه نـو بـه يـو حاشيه بـردار غـږ کـړو چـي ، ټولـو ډوډۍ وخـوړه. نـو دی بـه يـوې خاصـي کـوټې تـه ولاړی. د دې وخـت نـه د غرمـې تـر ډوډۍ پـوري بدهـ پـه تنهـائي کـي وخـت تيـروو. د دې نـه وروسـته هغـه بـه د کـوټې پـه ورکـي ودريـدی او خپلو اخوانو (د سنګهـ ممبرانو) ته به يې داسي نصيحت کاوه.

"زمـا ورونـو ! پـه عمـل کـي هلـي ځلـي او خلـوص ښـکاره کـړئ.د هـيڅ يـوه بدهـ سـره پـه دې دنيـا کـي ملاقـات مشـکل دی، انسـان جوړيـدل هـم مشـکل دی. يـو خـاص صـحيح وخـت مونـدل هـم مشـکل دی. د دنيـا پرېښـول (تـرک دنيـا) هـم مشـکل دی او د رښتيا اوريدو موقع موندل هم ډېر مشکل دی."

بيـا د شـاګردانو لـه خـوا بـه دا خواسـت وشـو چـي داسـي موضـوع دي راوښـودل شـي چـي د دوی د غـورو فکـر د پـاره مـوزو وي او هغـۀ بـه د هـر يـوه صـلاحيت مطـابق هغـه تـه موضـوع ورښـودله او د مراقبـې د پـاره بـه ګوشـه نشـين کيـدو ځـايو تـه ولاړل او پـر موضـوع بـه يـې غـور او فکـر کـاوه. ګـوتم بـه لـه دې وروسـته خپلـي خاصـي کـوټې تـه چـي پـه کـي ګـلان او اورول پـه اطمينـان او سـکون بـه د لمـر او د لمـر د تـپش نـه د بـچ کيـدو د پـاره لـږ سـات ارام کـوی. نـو چـي کلـه بـه د دۀ ارام پـوره شـو نـو د خپـل کـټ نـه بـه را پورتـه شـو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګېرچاپېره خلګو پر حالاتو به يې غور کاوه چې دوی په کومه توګه د دهٔ سره ښهٔ کوی شي. د زوال پر وخت به د شاوخوا کليو ډېر خلګ به د نزر د پاره په لاسو کې ګلان نيولي ورته راغلل او جمع کېدل به. هغه به د بيان کولو والا هال (لويه کوټه، جرګه هال) کې د موقع په مناسبت او د خلګو د مجمع په حساب د اعتقاد حق تبليغ کولو، بيا چې به دهٔ وکتل چې اوس مناسب وخت دی نو به يې دا خلګ رخصت کړل او هغوی به دهٔ ته د سلام کولو وروسته بېرته خپلو خپلو کورو ته ستېندل. په دې توګه به دهٔ د ماسپښين وخت تېرولو.

د ورځې په پای کې چې به يې محسوس کړو نو به يې ولامبل او په دې منځ کې به کرئي سنګهي (خدمت ګار) به د دهٔ د کوټې پر کټ د ګلونو سيج اوار کړو [65] او د ورځې په پای کې به يې د لږ ساعت د پاره جامې اغوستې او مراقبه به يې پيل کړه. تر دې انده چې ټولو شاګردانو به خپله خپله مراقبه پای ته ورسوله او بېرته به راستون شول. نو بيا به په دوی کې يو کس داسې پوښتني کولې چې د دهٔ په ذهن کې به هغه نهٔ راتلل. چا به د مراقبې حال بيانولو، چا به د شريعت د احکام د تلقين په هکله فرمائش کولو. په دې توګه به د شپې اوله برخه تېره شو. نو چې ګوتم به د هر يوه ځواب ورکړو نو شاګردان به يو يو رخصتېدل. بيا به د شپې پاته برخه دهٔ به د کوټې و مخته په ورو ورو تګ او

[65] دا يقيني غلط دی چې د دهٔ د پاره د ګلونو سيج جوړ کړل شوی ؤ. کله چې هغه د سنګهـ د خلګو د پاره خوشبو، لاړ (هار) او تيل استعمالول ښه نهٔ بلل نو خپله به يې ولي استعمالولو؟ د بدهـ غوندي د قدر وړ شخصيت نه د داسي قول او فعل اميد نهٔ شي کېدای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غور او فکر کولو تېروله. یوه حصه به یې په اطمینان، سکون او په پرېوتو تېروله. څنګه چې به سحار نږدې کېدو، دی به په کټ کې بیداره کښېنستی. خپل په ذهن کې به یې د ټول عالم د خلګو تصور کاوه، کوم چې د هغوی په تېر ژوند (جنم)[66] کې وو. او دۀ به دا سوچ کاوه چې هغه څنګه د دوی د ارزوګانو د پوره کولو مدد کولای شي."

د ګوتم د حقانیت او تبلیغ دا اثر وشو چې په لږو ورځو کې د دې علاقې علاوه په دې ځنګله کې د معتقیدنو تعداد شپېتو ته ورسېدی. یوه ورځ ګوتم دا ټول خلګ را جمع کړل او دا حکم یې ورکړو چې د شش[67] ماسوا ټول شاګردان دې نورو سیمو ته ولاړ شي او د دې مذهب تبلیغ دې وکړي. ظاهره ده چې د ګوتم د دې حکم سره دی بېرته د "ګیا" خوا ته وګرځېدی.

اوس چې د کوم کرامت ذکر په ګوته کېږي هغه د " اراول" د ځنګله واقعه ده. په دې ځنګله کې د "سینا" په نوم یو کلی ؤ چېرې چې درو ورونهو[68] د علم او فضل شهرت درلود او مذهباً آتش پرست وو. ګوتم د دوی د آتش کدې په عمارت کې د یوې شپې تېرولو اجازه وغوښتله، لاکن "کشپ" چې په دې ورونهو کې مشر ؤ ته دا خبره ښه نۀ وایسېدله. هغۀ وویل چې د آتش کدې سره یو زهریلا

---

[66] جنم: د هندو مت په عقیده چې انسان او وه واره زېږېدنه کوي. یعني دی پیدا کېږي او مري، پیدا کېږي او مري، دا رنګه دی اووه واره پوره کوي. که په تېرو جنمو کې یې ښه کارونه کړي وو نو به په راحت کې به وي او که یې بد کارونه کړي وو نو به په ډېر تکلیف او پرېشانۍ کې به دا خپل اووم یعني اخري ژوند تېروي.

[67] کوم څوک چې د یوې شتمني کورنۍ نۀ ؤ او د ګوتم په خوا راتښتېدلی ؤ.

[68] امیر احمد علوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـار اوسـي کـوم چـي د شـپې راوځـي او ویـده خلـک چیچـي. پـر ګـوتم بانـدي د عشـق حقیقـي زار خورېـدلي وو هغـهٔ چېـري د مـار نـه ډارېـدو. خپـل پـه خبـره ټینـګ ولاړ ؤ ، اخـر کشـپ هـم د دې مسـافر مېلمـه خـاطر پر ځای کړو او اجازت یې ورکړو.

شپه شـوه، مـار د هـري شـپې پـه څیـر د خپلـي څـوړي راووت ،لاکـن ګـوتم تـه یـې هـیڅ نـهٔ وویـل. کلـه چـي سـحار شـو او ګـوتم ژونـدی ژانـدی پـه آتـش کـده کـي موجـود ؤ نـو یـې د کرامـت شـور جـوړ شـو. اتفاقاًپـه دې ورځـي پـه دې کلـي کـي یـوه غټـه مېلـه کېـدونکې وه، پـه کـوم کـي چـي د شـاو خـوا مریـدان راتلـل او د کشـپ تقریـر بـه یـې اورېـدو. اوس کشـپ تـه دا وېـره ورپېښـه شـوه چـي کـه چېـري دې مجمـوعې ګـوتم ولیـدو نـو د آتـش پرسـتۍ بـازار بـه ټـپ ودرېـږي، لاکـن مېلمـه د کـوره ایسـتل داسـي اخلاقـي جـرم ګڼل کېدو چي دی د دې جوګه نهٔ شو کېدای.

ګـوتم تـه د دې خطـرې احـوال وشـو او هغـهٔ چـا تـه د اطـلاع ورکولـو بغیـر پـه دې ورځ د دې کلـي نـه دبانـدي ووتـو او د مېلـې خوا تـه نـهٔ راغـی. کلـه چـي مابښـام بېرتـه راسـتون شـو نـو کشـپ تپـوس ځیني وکړو چي ټوله ورځ چېري وې؟

ځـواب یـې ورکـړو چـي سـتا د فکـر د لېـري کولـو د پـاره پـټ شـوی وم. کشـپ د دهٔ پـه پښـو کـي وغورځېـدی او د ټـول جماعـت سره یې ایمان راوړی.

**یو بل بیان**

هـم پـه دغـه ځـای کـي د قیـام پـر وخـت یـوه ورځ ګـوتم د خپلـو نـوو شـاګردانو سـره ناسـت ؤ چـي مخـامخ د غونـډۍ پـه څـوکي اور ولګېـدی. ګـوتم دغـه اور موضـوع جـوړ کـړو او یـو لـوی بیـان یـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړو. کوم چې په پټک د "روت پري پائ سوت" کې موجود دی. د دې خلاصه دا ده چې ګوتم وویل چې ! تر کومه چې په خلکو کې جهالت موجود وي تر هغه وخته پوري به داسي اورونه لګېږي. دا هغه اور دی چې د انسان دننه لګېدلی دی او کوم چې د دباندي څیزونه په بطن کې روښانه کوي. دا خارجي څیزونه د حواس خمسه او زړۀ په ذریعه اثر کوي لګیا وي. د مثال په توګه سترګه مشاهده کوي او د دې نه دننه یو رنګه حس پیدا کېږي د کوم نه چې غم یا خوشحالي جوړېږي او دا غم یا خوشحالي شهوت، غصه، جهالت، زوکړه، فکر او اضمحلال (سستي، کمزوري) قوي او د مرګ اورته وده ورکوي. دغه حالت د هغه ټولو احساساتو دی کوم چې د دویم حواس په ذریعه پیدا کېږي. لاکن هغه خلک چې څوک د بدهـ د ضبط نفس په اصول عمل کونکي دي یعني د سیدها لاري څلور سره منزل یې تر سره کړي دي د کوم ابتداء چې د پاکۍ نه کېږي او انتها یې پر مینه باندي ده نو په دۀ کې عقل راغلی وي. خارجي احساسات د دۀ دننني اور نۀ شي تېزولای، په دې چې د دوی سره د شهوت اور پاتي نۀ وي. رښتوني شاګردان د دې نۀ مړېدونکي اور نه خلاصون تر لاسه کړي، کوم چې د بدو بېخ دی. هغه پوهه یا زدکړه کومه چې دۀ تر لاسه کړې ده یوه ورځ دی و کمال ته ورسوي. دی د هغه تکلیفونو نه هم ازاد وي کوم چې د تېر ژوند نتیجه وي. او په دې ژوند کې دی د قوم قربانۍ او نورو مراسمو او قوانینو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



راهنمائي ضرورت نور ورته پاتي نۀ شي، هغه په دې چي د دۀ ذات تر هر څه بالاتر شي.[69]

**د بمبسار راجا بدهـ مذهب خپلول**

دی ځای نه بدهـ د خپل نوي شاګرد کشپ سره راج ګړهـ ته ولاړی. دا هغه ځای دی چي د وولس کاله د مخه دی د کوره د حق په لټون کي راتښتېدلی ؤ. دا ښار د مګدهـ راج سلطنت ؤ او بمبسار د دې ځای راجا ؤ. دا راجا د خپل رعب، دبدبه او ویر سلطنت په هکله ډېر مشهور ؤ. کله چي دۀ دا واورېدل چي کشپ او ګوتم دواړه راروان دي نو د ښه راغلي د پاره مخته ورا ووتی، او ټول ښار د دواړو بزرګانو د دید د پاره را مات شو. په عام طور دا خیال ؤ چي ګوتم هم آتش پرسته شوی دی او د کشپ شاګرد جوړ شوی دی، نو چي کله نیازمن شاګرد (کشپ) د ګوتم مخي ته خپل سر په تعظیم کي ښکته کړو نو د راج ګړهـ د خلګو حیراني د کتلو وړ وه. راجا په ډېر درب د دې درویشانو دعوت وکړ. او د "ویلوانا" نومي د بانسو په باغ کي يې د دۀ د استوګني بندوبست وکړ او هغه يې ودۀ ته وقف کړ. په دې تاریخي باغ کي ګوتم د ژوند ډېر سپرلیان تېر کړل. او دا قائده يې جوړه کړه چي په اوړي او د مني په موسم کي به يې د نورو سیمو دورې کولې او د پشکال د اوړي په بارانو کي به يې په دې باغ کي استوګنه کوله. د لېري لېري نه به خلک راتلل او د دې بزرګ پاني (بدهي) مذهب نه به يې د خپلو مسائلو د حل د پاره خبري اتري کولې.

[69] رائس ډیوډس

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لـومړي سـپرلي نـه وروسـته د کپـل وسـتو (د ګـوتم آبـائي کلـی) نـه هـم خلـک راغلـل او د ځـان سـره يـې د شـدودهن پيغـام هـم راوړی، چـې د سـپين ږيـري پـلار د مـرګ نـه مـخ کـې يـو وار خپلـه څهره ښکاره کړي.

**د شدودهن سره ملاقات**

"د مـور پـلار د حکـم[70] اطاعـت د نېکـو خلکـو فـرض وي. ګـوتم سـم د لاسـه د سـفر تيـاري ونيولـه. د پلويـانو يـو لـوی لښـکر ورسـره روان شـو او دا کـاروان پـر هرمنـزل د هـدايت طالبـان يـې فـيض يـاب کـول او کپـل وسـتو تـه نـږدې ورسېدی. د ډېـري مـودې وروسـته د هماليـه د غـرۀ لمنـه ، د نيپـال خونـک بـاد ، زړۀ ښـکونکي غونـډيانې او د راج محـل ښائسـته منظـره چـې يـې پـه سـترګو شـوه نـو د ګـوتم پـر زړۀ بـه څـه تېـر شـوي وي؟[71]. د دې کېفيـت دې هغـه څـوک بيـان کـړي چـې د بـوډې دتـال( د بـاران نـه وروسـتو پـه اسـمان کـې شـين، زېـړ او سـرۀ ښـکلي رنګونـه) صـحيح عکاسـي کـولای شي. د وطـن ځـوزان (اغـزي) د پـردي وطـن د ګـلاب نـه هـم بهتـر وي او د کنعـان ملنګـي د مصـر پـر بـاچهي ښـه بلـل کېـږي. لاکـن ګـوتم خپـل جـوړ کـړی اصـول پـه دې وخـت کـې هـم نـۀ مـاتولو. و ښـار تـه د ننوتـو پـر ځـای نـږدې د يـوه کلـي پـه بـاغ کـې يـې واړولـه. پـه دغـه ځـای يـې شـپه تېـره کـړه او پـه دا بلـه ورځ يـې د خيرغوښـتنې کچکـول پـه لاس کـې پـه کپـل وسـتو کـې يـې قـدم کښېښـودی. دسـتور دا ؤ چـې د

[70] امير احمد علوي

[71] زۀ د مهاتمه لفظ د ګوتم د پاره په استعمالولو کې په دې ډډه کوم ، ولې چې بقول دکني بودهيانو چې دی د روح قائل نۀ ؤ. دلته خو د علوي صاحب قول، منقول دی او نقل راچه عقل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیرغوښتونکو دا مجموعـه د امـراء څخـه بـه خیـر نـهٔ غـوا ړي بلکـې د غریبـانو پـر دروازهٔ بـه لاهـم چپـه خُلـه ولاړ وو، او پـه ژبـه بـه یـې سـوال نـهٔ کولـو. کـه څـه هـم ورتـه ورکـړل شـو نـو ښـه، ګنـې مختـه بـه روان شـول. د دې رسـم د پـاره پـه کپـل وسـتو کـې هـم دهٔ راج محـل پرېښـودو او د غریبـانو و کیږدیـو تـه یـې د ګـدائي د پـاره مخـه وکـړه. کلـه چې راجا تـه خبر وشـو نـو د حکومـت دبدبـه یې پرېښـوده او پـه بې تـابۍ یې ځـان و خپـل زوی تـه ورسـاوه او ګیلـه یـې ورتـه وکـړه چې د رعایا نـه خیر غوښتلو پـر وخت دا نـهٔ شـو درپـه یـاد چې د پـلار پـه تنـدي دي د بـدنامۍ ټیکـه ولګولـه. ګـوتم پـه ځـواب کـې ورتـه وویـل چې "مهـارج! تاسـو او ستاسـو کـورنۍ د سـلطنت سـره تعلـق لـري او د راجاګـانو اولاد یاسـت، او زهٔ د راتلـونکي وخـت رشـیانو (هنـدي عالمـانو) او دانـش منـدانو وارث یـم. سـتا د پـاره پـه محلونـو کـې اوسـېدل ښـایسته دي او مـا تـه هغـه مناسـب دي چـې انبیـاء سـلف یـې لـه وختـه کـوي را روان دي. د راج د نعمتونـو سـره زمـا څـهٔ کـار؟ زمـا مورثي پېشـه خـو خیـر غوښـتنه ده، او هغـهٔ خـوړل دي."

پـلار دا منطـق نـهٔ ومنلـو او زوی یـې پـه زوره د شـاهي محـل خـوا تـه روان کـړو. څنګـه چې یې پـه کـور کې قـدم کېښـودو د خپلوانـو یـوه مجموعـه بانـدي راټولـه شـوه، او ټولـه کـلا پـه دې کوټـه کي راجمع شوه چېرې چې د ګوتم پښې راغلي وې.

د دیـدار جمـال او د خیریـت د پوښـتنې د پـاره ټـول راغلـل لاکـن غـم نصـیبه یشـودهرا د خپـل ځـای نـه هـم نـهٔ وخوځېـده. هغـهٔ د قیامـت شـپه او هغـهٔ د خوشـحالۍ ورځـې کلـه چې پـر دې د مصـیبت غـر ونړېدی او تـر ځانـه تېـر خاونـد بغیـر د څـه خطـا ښـوولي یـوې خـوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ځیني ولاړی، دې ته نن هم په یاد ؤ. کله چي چنا بګی وان دا خبر راوړه چي ښځښتن جوګ (ترک دنیا) اختیار کړو نو د دنیا عیش و عشرت د دې د پاره ختم شول. سینګار ځیني پاته شو، ژوند یې بې له خاونده(سهاګه) اوږد شو، دا د لېونی غوندي پر ځمکه پرېوته، د پاڼو ګري غوندي به یې کفن اغوستو، او د کونډې غوندي به یې یوه یوه ګوله ډوډۍ خوړله. د ګلاب ګل مړاوی شوی ؤ، سرۀ زر، مس شوي ؤ او پر بلور[72] زنګ پرېوتی ؤ. نن خپل او پردي د شهزاده د پاره منډې راوهلې. لاکن د فراق دړد خوړلې په خپله کوټه کي سر په ځنګون ناسته وه، او خپل ناقرار زړۀ یې داسي قرارولو چي "زما خوږ خاوند زۀ په ځوانۍ کي پرېښودم او نن د دوولس، دیارلسو کلو وروسته خپل ګډ وډ شکل راښکاره کول او د هغۀ په مخ کي ذلیله کېدل ضروري دی؟"

د بې کسو فریاد یې په یاد شو او په مات زړۀ یې د رحم او به توی شوې. و ګوتم ته یشودهرا په یاد راغله او د خپلوانو په مجموعه کي یې سترګو یو ځوک لټول. چي کله یې په سترګو نۀ شوه برابره نو یې تپوس وکړو چي یشودهرا ژوندۍ ده؟ ځواب ورته ورکړل شو چي ژوندۍ خو ده لاکن د مړي نه بد تره ده. په زړۀ یې وخوړله او د حال د پوښتني د پاره خپله د هغې و کوټې ته ورغی. د ځان او ایمان خاوند یې نابیره مخي ته راغی، یشودهرا بې قابو شوه او سم د لاسه یې پښو ته ولوېده او د خاوند پر پښو یې خپلي سترګي کښېښودې او په چیغو چیغو په ژړا شوه. بیا یې سوچ وکړو چي خاوند خو مي ترک دنیا شوی دی او دۀ ته د ښځي و وجود ته لمس (لاس وروړل) ورکول جائز نۀ دی.

---

[72] بلور: د اوسپني یا اسټیل په شان یوه تیږه ده چي زنګ یې نۀ وهي. یوه ځرکېدلې معدني تیږه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان یې په وېره وېره کې سره راټول کړو او بلې خوا ته ودرېده. راجا د نږور سفارش وکړی او د هغې د نفس کشۍ حال یې بیان کړی. ګوتم دا خبري پر زړهٔ وخوړې خو د خپل عهدوپیمان څخه مجبور ؤ، بس که څهٔ یې ورته وویل نو هغه دا چې د صبر کولو تلقین یې ورته وکړو. معشوقې په وېره وېره دا آرزو وکړه چې هغهٔ هم پخپلو پلویانو کې شامله کړي، لاکن عرض قبول نهٔ شو، او ورته وویل شو چې د فقیرانو په لښکر کې ښځه د ځان سره کول خطرناک دی. ستم وهلې ښځه مایوسه شوه او ګوتم د محل نه رخصت شو.

دویمه ورځ د ګوتم د ناسکه ورور د وادهٔ ورځ وه، د عیش نشاط مجلس جوړ ؤ، چې ګوتم د ې محفل ته تشریف راوړی او هیڅ نهٔ شو معلوم چې انند ته یې په غوږ کې په کراره څهٔ وویل چې هغهٔ د وادهٔ جامې څري کړې او کچکول یې په لاس کې واخست او د نګروده باغ په خوا روان شو کوم چې د دې جوګیانو (فقیرانو) استوګن ځای ؤ. اوس د ګوتم د هري ورځې دا معمول جوړ شو او دی به محل ته د خوراک د پاره راتلی او لېري په محل کې د خپلو پلویانو سره به یې خوراک کاوه او بیا به بېرته د خرود ګاه (د محل نه دباندې د ګوتم استوګن ځای) ته ستنېدی. یوه ورځ حسب دستور دوډۍ یې خوړله، د دید تږې یشودهرا د لېري نه د جمالِ جهان د دید زیارت کوی چې د دې زوی "راهل" مخې ته راغی. مور دهٔ ته ښکلې جامې ورپه غاړه کړې چې ورشه د پلار مخې ته او د خپل میراث دعوه وکړه. هلک د څو ساعتو وو چې پلار پرېښودو، نیکه یې پالنه وکړه او دهٔ هغهٔ خپل پلار ګڼی. مور په اشاره دهٔ ته وروښودل چې ستا بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وفا پلار هغه جوګي دی کوم چي د فقیرانو په ټولۍ کي د لمر غوندي ځلیږي.[73]

ساده هلک په خوشحالۍ خوشحالۍ پلار ته ورغی او ګوتم ته یې عرض وکړ چي ! زۀ ستا زوی یم او خپل میراث غوښتلو ته راغلی یم. ګوتم دۀ ته په کراره دعا وکړه خو ځواب یې نۀ کړو ور. هغه میراث میراث چیغې وهلې او د پلار سره د نګرووده باغ ته ورسېدی. هلته دولت ورکړل شو یعني دی یې په سنګه کي شامل کړو.

کله چي د راجا شدودهن نابالغه لمسی هم تارک الدنیا شو نو دۀ ته ډېره صدمه ورسېده. لاکن غشی د لېندۍ نه وتی ؤ، او د دۀ بېرته راتلل محال ؤ. خو د ګوتم نه دا لوظ واخستل شو چي په ائینده کي به یو نابالغه هلک به هم د موریا پلار د اجازت بغیر د ترک الدنیا خوا ته نۀ شي مائل کولای. ګوتم دا شرط ټول عمر تر سره ورساوه او د کپل وستو نه راج ګړهـ ته ستون شو. سوانح نګاران لیکي چي دا وخت د ګوتم د حصولِ کمال اتلس میاشتي وتي وې.

**څه مخصوصه پلویان**

څو ورځي وروسته ګوتم د دې ځای نه روان شو او د دریائې انوما د غاړي په باغ کي یې استوګنځای جوړ کړو چېري چي دی په وړومبي ځل د محل نه دلته د دمي د پاره ودرېدلی ؤ او چنا یې بېرته محل ته لېږلی ؤ. دلته په دې مقام د دۀ ډېر عزیزان

[73] رائس ډیوډس دا واقعه غلطه ګڼي. د دۀ په نزد د دې واقعې منل د یشودهرا سپکاوی دی. لاکن دا ولي نۀ منل کېږي چي یشودهرا هم دغه غوښتل چي راهل ته د پلار د دولت، بصیرت میراث ورسېږي. او دۀ ته هم د نروان (فنا) ریاست تر لاسه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلل او په سنګهـ کي شامل شول. په دې خلګو کي انند، دیودت، اپالي او انو رادها په خاصه توګه قابل ذکر دي.

انند د دهٔ د ماما زوی ؤ، او د دهٔ تر ټولو زړهٔ ته نژدې مرید جوړ شو. دیودت د دهٔ تربور ؤ، لاکن وروسته بیا دهٔ د ګوتم بدهـ نه بغاوت وکړو او په مقابل کي یې ودرېدی. اپالي بیا له ذاته نایي ؤ لاکن د خپل محنت او اخلاص په وجه په سنګهـ کي یې ځانګړې حېثیت ومونده. انو رادها د بدهـ مذهب تر ټولو لوی فلسفي د مابعد الطبیعاتي (الهیات، فوق الفطرت) ستونزو د حل کولو والا جوړ شو.

د دې ځای نه ګوتم بېرته راج ګړهـ ته ستون شو او هلته یې د پشکال[74] په بارانو کي د قیام وروسته سراوستي ته[75] ولاړی، کوم چي د بنارس د غومره لېري په قطب کي دی، څومره چي راج ګړهـ په ختیځ کي دی.

دا هغه وخت د کوشل راج دارالحکومت ؤ، او د دې ځای راجا پرسناجیت ؤ. د سراوستي یو تاجر ګوتم مېلمه کړی ؤ، او د دهٔ د استوګني د پاره یې د ښار تر څنګه یو باغ نظر کړی ؤ. هغه به ټول عمر د تبلیغ په سلسله کي دلته راتلی او ارام به یې کولو.

---

[74] د بدهـ مت کال د پشکال د باراني موسم (برسات) نهٔ پیل کېږي. وجه یې دا ده چي ګوتم به په کال کي اتهٔ میاشتي تبلیغ کاوه او د پشکال په باراني موسم (څلور میاشتي) به یې په یو مقام تېرولې. د پشکال باراني موسم ته په پالي ژبه کي "داس" ویل کېږي. کوم چي غالباً د سنسکرت لفظ "ورشا" خراب شکل څرګندېږي. په لنکا کي نن هم د بدهـ مذهب منونکي د پشکال د باراني موسم د پاره د "داس" لفظ کاروي او د کال پیل هم د دې موسم نه کوي.

[75] د جنرل کنکهم خیال دی چي دا هغه مقام دی چي په اوسني وخت کي د ساهت ماهت په نامه په اودهـ کي موجود دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وړومبـي درې کالــه:** د حصـول کمـال د درو کـالو حـالات چـي تـر اوسـه بيـان شـول دا پـه جاتـک تفسـيراتو او چيني تصـنيفاتو کـي ليـدل کېـږي. وروسـته د درو کـالو حـالاتو تفصـيلات هـيڅ يـو ځـاى نشـته. د متفـرق او منتشـر کرامتـو ذکـر پـه "دهـم پـارا" کـي شـته. يـا پـه هغـه کتـابونو کـي کـوم چـي بګينـډت او سـپنس هـارډي راټـول کـړي دي. د غـو دوو مؤرخينـو کلنـي واقعـات بيـان کـړي دي کـوم چـي پـه زيـل کـي ليکـل شـوي دي. دلتـه دا د يـاد وړ خبـره ده چـي لـومړى د پشـکال بـاراني موسـم دۀ د بنـارس نـزدې پـه دشـت غـزالا کـي تېـر کـړو. دويـم او درېيم يـې پـه راج ګړهـ کښـې، پـه دې توګـه اوس د څلورم پشکال باراني موسم حال پيل کېږي.

**څلـورم کـال:** ګـوتم اکاسـين نـټ پـه سنګهـ کـي شـامل کـړو، او د ګنګـا دريـاب نـه واوښـتو د وسـالي سـلطنت پـه مهـاون بـاغ کـي يـې استوګنه وکـړه او هلتـه يـې د پشـکال بـاراني موسـم تېـر کـړو. هـم د دې ځـاى نـه دى پـه هـوا کـي والـوت او سـاکهيه او کـولين قبـايلو تـه ورسېدو، او د هغوى د منځنى دښمنۍ په ودرولو کي بريالى شو.

**پـنځم کـال:** د پشـکال پـه بـاراني موسـم کـي دۀ تـه د خپـل پـلار شـدودهن د نـاروغۍ حـال ورسـېدو نـو يـې زرتـر زره د کپـل وسـتو لاره خپلـه کـړه. د پـلار آخـري ديـدار ،د هغـه کريـا کـرم (سـوځولو) او خپلـو خپلوانـو تـه د صـبر تلقـين کولـو وروسـته بېرتـه کـل ګړهـ دهـار کـوم چـي پـه مهـاوت بـاغ کـي ؤ راغـى. هـم دلتـه د دۀ خالــه (تــرور) ميــره پراجپتــي او کــور ودانــه يشــودهرا او نــوري ښـځي راغلـې. د هغـو پـه اصـرار ګـوتم بدهـد ښـځينه سنګهــ و خلاصـولو تـه مجبـور شـو او د هغـو د پـاره يـې قائـده او قـوانين جـوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل. دې کار نه وروستو دی الـه اباد سره متصل سمبهي تـه نـزدې یوې غونډۍ ته ولاړی.

**شپږم کـال:** د پشـکال بـاراني موسـم یـې هلتـه پـه غـرۀ کـي تېـر کـړو او بېرتـه راج ګړهـ تـه راغـی،او د بمبسـار کورودانـه "چهمـا" تـه یـې پـه ښـځینه سنګهـ کـي د داخلېـدو اجـازه ورکـړه. دلتـه د یـوه مرید د کرامت نمائي نـه خفـه شـو او د کرامت نـۀ ښـودلو پرېکـړه یـې وکـړه. لاکـن خلګـو چي کلـه لغازونـه وویـل نـو بېرتـه مجبور شـو او کرامتونـه ښـکاره کـول یـې پیـل کـړل او د هغـه ځـای نـه و اسـمان تـه والوتـو او د مـور سـره یـې ملاقـات پـه دې وکـړو چـي هغـې تـه د مـذهب تلقـین وکـړي دا پـه دې چـي هغـۀ د دۀ د زوکـړي پـه اوومه مړۀ شوې وه او د دې نعمت نه محرومه وه.

**اووم کـال:** پـه سراوسـتي کـي جتـاون وهـار تـه ولاړی. دلتـه د دۀ مخـالفینو د "چنچـا" پـه نامـه ښـځه یـې د دۀ خـلاف پـه دې خبـره راضـي کـړه چـي دا دي ووايـي چـي بدهـ زمـا عصـمت دري کـړې دۀ[76]. لاکـن د دې دا تـور داسـي معلـوم شـو او داسـي مخـي تـه راغـی چـي بدهـ بـې قصـوره ثابـت شـو. هغـه داسـي چـي دې ښـځي چـي کـوم لرګـی پـر خپـل نـس د قمـیض لانـدي پـټ کـړی ؤ، هغـه لانـدي وغورځېدو. او د دې پړسېدلی نس بېرته پر خپل حالت برابر شو.

**اتـم کـال:** د پشـکال بـاراني موسـم یـې کپـل وسـتو تـه نـزدې د غـرۀ پـه یـوه فرشـه (تیـږه) تېـر کـړو. دلتـه یـې د "نکـل" او "مګـالي" مـور او پـلار نـه هـم بدهـ جـوړ کـړو. بیـا کوسـمبهي الـه ابـاد تـه نـزدې ستون شو.

---

[76] دا واقعه د یوسفؑ او د زلېخا د واقعې سره ورته والی لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نهم کال:** مګالي خلک د بدهـ په خلاف کړل او په سنګهـ کې انتشار جوړ شو. چې کله د ګوتم په پوهولو هم د جګړې خاتمه نهٔ وشوه نو دی خفه شو او پاري لیاک ته نږدې ځنګله ته ولاړی.

**لسم کال:** دلته کلیوالو د دهٔ د پاره سم د لاسه یوه کیږدۍ تیاره کړه او هغهٔ د پشکال باراني موسم دلته تېر کړو. پښېمان پلویان دلته پسې راغلل او د دهٔ په خدمت کې حاضر شول. ګوتم د دوی قصورونه معاف کړو او هغوی یې د ځان سره کړل. اول سراوستي ته ولاړی او بیا مګدهته ورسېدی.

**یوولسم کال:** راج ګرهـ ته نږدې په یوه کلي کې "بهاردواج" نومي برهمن نه یې بدهـ جوړ کړو او د پشکال د باران نه وروستو په کوسل کې سیتابیا نومي یو کلي ته ولاړی.

**دوولسم کال:** د دې ځای نه ویرنج ته ستون شو او د پشکال باران یې هلته تېر کړو. بیا د هغه ځای نه یې د خپل عمر تر ټولو اوږد سفر اوکړو ، د دکن نه تر سنتال پوري ولاړی، بیا بنارس، وسالي او د وسالي نه بېرته سراوستي ته راغی. دلته د رارسېدو وروسته دهٔ خپل زوی راهل ته هغه نصیحتونه وکړل چې وروسته د " مها راهل سوت " په نامه ونومول شو.

**دیارلسم کال:** ګوتم په چالیه کې د پشکال باراني موسم تېر کړو، او بېرته سراوستي ته ستون شو.

**څوارلسم کال:** د سراوستي په جتاون وهار کې یې راهل باقاعده خپل خاص بهکشو (مرید خاص) جوړ کړو او هغه وعظ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې ورته ورکړو چې ورته "راهل سوت"[77] ویل کېږي. د دې واقعې نه وروسته کپل وستو ته ستون شو.

**پنځلسم کال:** دا پشکالي باراني موسم یې په نګرودهـ کې تېر کړو. هم دلته ګوتم خپل تربور ته خپل خیالات بیان کړل، څوک چې دا وخت د دهٔ د پلار پر ځای د ساکهیه راج راجا ؤ. د هغهٔ نوم "مهانام" ؤ او هغهٔ د ګوتم په معتقدینو کې ؤ. د کولي راجا سپرا بدهـ د یشودهرا پلار په عامه مجموعه کې د خپل لور د پرېښولو په هکله و ګوتم ته بد رد وویل، ځمکه وچاوده او هغهٔ په کې غرق شو.[78]

ګوتم د هغه ځایه بېرته جتاون وهار ته راغی او هلته یې دا خبره وکړه چې پر مذهب تلل د خیر ورکولو نه ډېر بهتر دی.

**شپاړسم کال:** هغهٔ دې ځای نه الاوي ته ولاړی او هلته یې یو داسي دیو[79] (دېب) نه بدهـ جوړ کړو کوم چې به ماشومان خوړل.

**اوولسم کال:** دا اوولسم پشکال باراني موسم یې په راج ګړهـ کې تېر کړ. هم دلته یې د یوې فاحشې ښځې "سرستي" پر مرګ وعظ وکړ. بیا د هغه ځای نه سراوستي او بیا پسې الاوي ته ولاړی. هلته یې په دې خبره اصرار وکړو چې تر څو یو انسان وږی وي سړی ته ډوډۍ نهٔ وي ورکړې زهٔ تر هغو وعظ نهٔ ورته کوم.[80]

---

[77] د دې د یوې حصې ژباړه په انګرېزي ژبه کې سرکانوسوامي د "سوت تپات" په نامه کړې ده.
[78] د قارون د واقعې سره ورته والی لري.
[79] غالباً په وحشي قومونو کې یو آدم خور به ؤ.
[80] د دې نه د لوږې احساس ظاهرېږي، او د فاقې نه ممانعت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اتلسم کال:** په چالیه کې یې د پشکال باراني موسم تېر کړو او هلته یې ویوې کوري (قاتلي مور) ته د تسکین وعظ وکړو. چا چې په غلطۍ کې خپله لور وژلې وه. بیا راج ګړه ته ستون شو.

**نولسم کال:** په دیودنا ویهار کې د پشکال د باراني موسم تېرولو وروسته د مګدهـ راج په کلي کې یې تبلیغ وکړو او بیا بېرته سراوستي ته روان شو.

**شلم کال:** د پشکال باراني موسم یې هم هلته تېر کړو، انند ته یې د فقر تهوکرۍ په لاس ورکړه او د ځان سره یې د تګ د پاره روان کړو او ځنګله ته ولاړی. هلته یې د یوه غلهٔ (ډاکو) "رنګو مال" سره ملاقات وکړو او هغه یې په خپلې خوږې ژبې داسي قانع کړو چې هغه هم بدهـ جوړ شو.

**ځیني مهم واقعات**

د دې څه وروسته هیڅ متوقع واقعه نهٔ تر لاسه کېږي. په دې د کال پسې کال واقعات نهٔ شي بیانېدلای. البته څه مهم واقعات د بیانېدلو شته. هغه به په نمبر سره بیان کړل شي. لاکن په نمبر کې پس و پېش کېدای شي، دا دي نهٔ ګڼي چې دا واقعات د یو د بل پسې، پسې دي. په دې کې خو ځیني داسي شته چې د هغې زماني دي او ځیني د هغې نه وروستو زماني دي. د یوه تاریخي ثبوت له کبله دې واقعاتو ته ترتیب نهٔ شي ورکول کېدای، صرف دا په وثوق سره ویل کېدای شي چې دا واقعات داسي دي چې د دې په وجه د دې مذهب او د دې مذهب په منونکو یې ډېر اثر وکړ، دا واقعات حسب ذیل دي.

(1) په سراوستي کې یوه مالداره ښځه "ویسیا کها" نومي بدهـ جوړه شوه او دې د سنګهـ د پاره یو باغ وقف کړی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلتـه یـې یـو ویهـار جـوړ کړو کـوم چـې پوبـا رام (پـوربي (ختیځ) بـاغ) ونومـول شـو. د دې بـاغ او ویهـار نـه بدهـ مـذهب تـه پـه پېـل کـې ډېـره ګټـه رسـېده. لاکـن وروسـته د دې بـاغونو پـه وجـه بهکشـو (پلویان) آرام پسنده شول.

(2) د ګـوتم زړۀ تـه نـزدې ملګـری "دیـودت" د کوسـمبهي د خلګـو خفـه شـو او راج ګړهـ تـه ولاړی. او هلتـه د بمبسـار زوی "اجـات سـترو" د هغـه د پـاره یـو بـاغ ولګـوی، پـه کـوم کـې چـې بـه هغـۀ اسـتوګن ؤ. څـو ورځـې وروسـته ګـوتم د خپـل معمـول پـه دوره راج ګړهـ تـه راغـی نـو دیـودت دا خـواهش وکـړو چـې د دۀ پـه مشـرۍ کـې دې دلتـه د یـوه نـوي سنګهـ بنسـټ د ایښـولو دۀ تـه اجـازه ورکـړي. بدهـ دا خـواهش مسـترد کـړو. دیـودت پـه دې خبـره خفـه شـو او د بدهـ د سنګهـ نـه بېـل شـو. پـه دې زمانـه کـې دۀ د بمبسـار زوی اجـات سـترو د خپـل پـلار خـلاف کـړو او هغـه یـې پـه مـړ کـړو.[81] هـم پـه دې سـازش دۀ د نـورو خلګـو پـه ذریعـه د ګـوتم د قتـل درې واره هڅـه وکـړه. لاکـن څـوک چـې خـدای سـاتي هغـۀ څـوک وژلای شـي؟ هغـه خلـګ ناکامـه شـول او بیـا دیـودت د ګـوتم و مختـه د سنګهـ پـه هکله دا سي شرطونه کېښېښول.

(۱) بهکشـو دې پـه میـداني علاقـو کـې اسـتوګنه کـوي او ښار ته دې نۀ داخلېږي.

(۲) د نورو خلګو غورځولي څري جامې دي اغوندي.

[81] دا واقعه بقول مهاونس بیګنډت او هارډي د بدهد تبلیغ د مشن په ۳۷م کال کې وشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) همېشــــه دي پــــر دروازې ، دروازې بانـــــدي خيـــر غــواړي او خــوري دې او داســي خــوراک دي نــهٔ خــوري چــي د دوی و آرام ګاه ته راستول شوی وي.

(۴) د غوښو خوړل دي قطعي منع کړل شي.

ګـوتم پـه ځـواب کـي ورتـه وويـل چـي دا رنګـه سـخت قـانون بـلا وجـه او بـلا سـبب نـهٔ شـي جوړېـدای. کـه بهکشـو پـه دې خبـرو خپلـه عمـل کـوي نـو ښـه خبـره ده ګنـې نـو د شـريعت لـه خـوا هـيڅ سـختي نشـته. غوښـه وي کـه نـور د خـوراک څيـز، بهکشـو تـه د هغـه د خوړولـو اجـازت دی کـوم چـي پـه دې هېـواد کـي پـه عامـه توګـه خـــوړل کېـــږي. صـــرف دو مـــره شـــرط دی چـــي کـــوم څيـــز دي د خونـدوري ذائقـې پـه وجـه نـهٔ خـوري. هغـهٔ وويـل چـي "د ونـي لانـدي هـم، پـه کـور کـي دننـه هـم، غوښـه خـوړل هـم او د غوښـو خوړلـو ماسـوا هـم. پـاک صـفا او سـپېدل او د شـريعت پابنـدي ممکنـه ده". د يــو قســم قــانون جــوړول د دې خلګوپــه لاره کــي خنــډ اچــول دی. څـوک چـي روحـاني علـوم تـر لاسـه کـول غـواړي زمـا پـه نـزد بايـد چـي زهٔ و هغو ته دا لاره وښايم.[82]

ديــودت پــه دې خفــه شــو او ځينــي ولاړی. هغــه د اجــادت سـترو پـه مرسـته يـو نـوی سنګهـ جـوړ کـړی، لاکـن ديـودت تـر ډېـرو ورځـو ژونـدی نـهٔ شـو پاتـه. د ديـودت د مـرګ نـه وروسـته اجـادت سـترو بظـاهره د بدهـ پېروکـار شـو، لاکـن هغـه د ګـوتم پـه ژونـد کـي د خپـل سـلطنت د وسـعت پـه نيـت کپـل وسـتو بربـاده او لـوټې لـوټې کړه او د بدهـ مذهب پر مرکز سراوستي باندي يې قبضه وکړه.

[82] رائس ډيوډس

(c) ketabton.com: The Digital Library



(3) د سراوستي ښار ته نږدې د انتهپنډ په باغ کې ګوتم استوګن ؤ. د دۀ زړۀ ته نږدې ملګری انند ښار ته د خیر غوښتنې د پاره تللی ؤ. کله چې هغۀ تندي پر سر واخستو نو د اوبو و یوه څاه ته ورغی. یوې چنډلې (د لاندې ذات) پېغلې چې نوم یې "پراکرتي" ؤ د څاه څخه اوبه را ایستلې. انند د هغې نه اوبه وغوښتې، جینۍ ځواب ورکړو چې هغه چنډله ده. د دې د لاس اوبه هیڅوک نۀ څیښي. انند ورته وویل چې خوري! زۀ له تا ستا ذات نۀ پوښتم، که اوبه راکولای شې نو را یې کړه. جینۍ په دې ځواب مئینه شوه، دې انند ته اوبه ورکړې او په دې هڅه شوه چې څرنګه به د دۀ سره استوګنه په نصیب شي. دې انند په خپل دام کې د راګېرولو ډېره هڅه وکړه خو ناکامه شوه. یوه ورځ دې د انند پسې څار وکړواو ورپسې روانه شوه، په تلوتلو کې تر ګوتم پورې ورسېده، په خبرو خبرو کې یې زړۀ له دنیا مات شو او دا هم په ښځینه سنګهـ کې شامله شوه.[8]

د چنډالي جینۍ په سنګهـ کې د شاملېدو په وجه برهمنو ته ډېره بده وایسېده. ولې چې د دې حکم نه د ذات په هکله قید پای ته ورسېدی، او هغوی و ګوتم ته د ضرر رسولو په هکله فکر پیل کړی، لاکن د خدای کول ؤ د دوی هره بده پر ښۀ بدلېده او کوم راجا چې دوی د ګوتم خلاف کولو هغه به د ګوتم مرید جوړ شو.

**آخرنۍ درې میاشتې**

---

[83] په دې واقعې د لوړ ذات بهکشو (پلویانو) ډېره خوابده کړه. لاکن بدهـ دوی ته هیڅ اهمیت نۀ دی ورکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګـوتم رومبـي ځـل کپـل وسـتو تـه تلـل او د دې ښـار د بربـادۍ حـالات چـي کـوم بيـان شـول دا ټـولي پـر کيسـو بانـدي ولاړي دي، لاکـن د دهٔ د مـرګ نـه درې مياشـتي مـخ کـي واقعـات د پټـک پـه هغه حصه کي چي "مها پري بنان" بلل کېږي ترلاسه کېدای شي.

د دې مطـابق ګـوتم ځلـور څلوېښـتم د پشـکال بـاراني موسـم پـه جتـاون ويهـار سراوسـتي کـي تېـر کـړو. او د هغـه ځـای نـه د راج ګړهـ پـه نـاوه کـي د ګدهـ ځـوکي تـه راغـی. اجـادت سترو دا وخـت پـر وجـين قبيلـې بانـدي د حملـه کولـو تيـاري نيـولې وه. ګـوتم د ګنګـا دريـاب نـه پـه هغـه ځـای واوښـتو کومـه چـي دا وخـت "پټنـه" بلـل کېږي او هغـه وخـت اجـات سترو هلتـه يـوه کـلا جوړولـه. دغـه کـلا وروسـته بيا د مګدهـ د باچاهانو درالسلطنت پاټلي پتر جوړه شوه.

ګـوتم د هغـه ځـای نـه امبـا پـالي[84] تـه سـتون شـو. د هغـه ځـای مشـهوري جسـم فروشـي چـي نـوم يـې " وجـين روسـا " ؤ ، دهٔ تـه دعـوت وکـړو. وجـين روسـا تـه خيـال هـم نـهٔ ؤ چـي ګـوتم بـه د هغـې دعـوت قبـول کـړي. لهـذا يـارانو د دې کـوچنۍ خُلـه غټـه خبـره وکـړه، ډېـر خـه يـې ورتـه وويـل. هغـهٔ ډېره غمزده او پـه زړهٔ ماتـه شوه او چُپ خُلـه پـه ژړا کښېنسـته. نـابيره ګـوتم د دې کورتـه راغـی او بغيـر د څـه عـزر نـه يـې ډوډۍ وخـوړه. نتيجـه دا شـوه چـي هغـهٔ پـه هغـه وخـت تائبـه شـوه او پـه ښـځينه سنګهـ کـي يـې شـموليت اختيـار کـړ. ګـوتم تـر دې ځـای نـه تـر پيلوګـا پـوري ولاړی او تـر پشـکال د بـاراني موسـم پـوري هلتـه اسـتوګن شـو. پـه دې ځـای هغـهٔ دومـره ناروغـه شـو چـي د ژونـده مايوسـه شـو. او دا ويـل يـې پيـل کـړو چـي زهٔ زياتـه

---

[84] امير احمد علوي صاحب په غلطۍ سره امبا پالي د "جسم فروشي ښځي" په نوم بللې وه. دا د مقام نوم ؤ، دا کلی پټنه ته نږدې اوس هم موجود دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځي نور ژوند نهٔ شم کولای، لاکن د پشکال د باراني موسم د ختمېدو سره دی په دغهٔ حالت کي ولاړ شو او په بېلو بېلو کليو کي یې وعظ پيل کړو او هم دغسي یې خپل پلويان او راهبان راټول کړل او هغو ته یې د اتفاق، استقلال او د پاکۍ هدايت وکړو او د هغه ځای نه یې د کوسي نګر خوا ته مخه وکړه. دا مقام هغهٔ وخت په "کسيا" نامه مشهور ؤ، او د ګورکهپور په ضلع کي د يوه تحصيل صدر مقام دی. په هغه زمانه کي دلته د "مـلا" قام راج ؤ او د دوی د يو ښاخ دارالسلطنت کوسي نګر او دويم پاوا ؤ.[85]

دې مقام ته ګوتم د پنځه سوه پلويانو سره ورسېدو، او د چندا سنار په باغ کي یې دېرې واچولې. د دې ځای مشرانو دلته يو نوی سنت کور "سنت ګهر" يا اولسي جرګه هال جوړ کړی ؤ. د دوی په وېنا ګوتم په خپلو لاسو د دې پرانسته وکړه. دې نه وروسته ګوتم ښه پُراثر وعظ وکړو. په دويمه ورځ چندا سنار دعوت ورته وکړو او پلويانو ته یې وريځي او کمبهي[86] د جرړي ترکاري ورباندي وخوړه[87]. د دوی خوړلو وروستو ګوتم د لـږ

---

[85] د پاوا متعلق دا خيال دی چي هغه په اوسني دور کي پاوا پوري دی. لاکن پاوا پوري د پټنه په ضلع کي و بهار شريف ته نزدې دی او د هغه ځای نه کيسا تقريباً ۶۰ ميله لېري دی. په دې ناممکنه دی چي ګوتم دومره اوږد سفر په يوه ورځ کي هغه هم ناروغه ترسره کړو. عقل دا وايي چي هغهٔ پاوا د کوم چي په دې سلسله کي ذکر راغلی دی او چېري چي ګوتم د چندا دعوت وخوړو هغه کيسا ته نزدې يو مقام کېدای شي.

[86] کمبهي: خرېړي ته ويل کېږي.

[87] په اصل پالي کي "سکر مرود" لفظ راځي. لوېديځ ژباړونکي د دې ژباړه د خنځير (سور) د غوښي کړې ده، لاکن دا صحيح نهٔ ده. سکر مرود معنا ده کمبهي، نهٔ چي د خنځير (سور) غوښه. (وګورئ ضميمه ،۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



سات د پاره ارام وکړ او ماسپښین یې د کوسي نګر (کسیا) په خوا مخه وکړه. لږ لېري تللی ؤ چي په نس کي یې مروړ پیدا شو او د پېچش اثار ښکاره شو. نږدې د کوکشتا ویاله بهېدله، هلته دمه شو او په انند یې اوبه راوغوښتې او هغه یې وڅښلې، ولامبېدی او په دغه ورځ په ډېر مشکله کوسي نګر ته دباندي یوه باغ ته ورسېدی. دغه یې اخري ارام ګاه وه. د کوکشتا ویالې غاړي ته ګوتم په دې پوهه شو چي دی اوس د څو ساعتو مېلمه دی. هر وخت دا فکر ورسره ؤ چي داسي نۀ چي خلک چندا ته دا الزام ورنۀ کړي، ولي چي هغۀ ګوتم ته داسي څیز په خوراک کي ورکړو چي د ګوتم و ژوند ته خطره شوه یا تمام شو. په دې د خپل زړۀ ته نږدې خاص مرید انند ته وویل چي "چندا ته وو ایه چي په دویم جنم (ژوند) کي به هغۀ ته ډېر انعامات ورکړل شي په دې چي د دۀ راکړي خوراک په وجه زۀ د دې دنیا نه رخصتېږم". او هغۀ ته وو ایه چي تا دا خبره زما د خُلې اورېدلې ده. دوه هدیې به تر ټولو زیاته مبارکي وي، یوه هغۀ چي ماته د بودهي ونې لاندي د بدهـ جوړېدو نه مخ کي تر لاسه شو او دویمه د چندا دا تحفه کومه چي زما د مرګ نه مخ کي ماته راکړل شوه.

د دې وروسته یې انند ته د خپل تجهیز و تکفین په هکله وویل او د بدهـ مذهب د شریعت په هکله یې اخري هدایات ورکول پیل کړل. نو چي کله انند ته دا یقین شو چي د شفیق مشر اخري وخت دی نو په چیغو شو، ګوتم دۀ ته داسي تسلي ورکړه. "انند ! مۀ پرېشانه کېږه، ژړا مۀ کوه، آیا ماتا ته دا نۀ ؤ ویلي چي موږ به دا هر څه پرېږدو، د کومو سره چي موږ مینه کوو، یا د کومو په وجه چي موږ خوشحاله کېږو. هیڅ یو شی که هغه هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګـه پیـدا شـوی یـا جـوړ شـوی وي د زوال نـه نـهٔ شـي بـچ کېـدی. کوم چي د دهٔ په ترکیب او ترتیب کي شامل دی.

اننـد ! تـهٔ خپـل نېـک کـردار ، اقـوال او د خیـالاتو پـه وجـه د یـوې اوږدې مـودې نـه راسـره ملګـری یـې ، او تـهٔ همېشـه کامیابـه او سـېدلی یـې. د استقلال نـه کـار واخلـه نـو بیـا بـه تـهٔ هـم د ژونـد د تندي او د جهالت د ځنځیرونو نه به ځان ازاد کړې".

دې نصـیحت نـه وروسـته یـې پـر پلویـانو بانـدي د اننـد فضـیلت ښـکاره کـړو او تاکیـد یـې ورتـه وکـړو چـي هغـوی دې د دهٔ هر وخت قدر و منزلت کوي.

**اخري وعظ (بيان)**

د شـپې سـوبهدرا بـرهمن د څـو پوښـتنو د پـاره راغـی. ګـوتم دا وخـت د نـیم بـې هوشـۍ پـه حالـت کـي ؤ. اننـد هغـهٔ منـع کـړو خـو ګـوتم د هغـهٔ غـږ واورېـدو نـو یـې سـترګي خلاصـي کـړې او څنـګ تـه یـې را وغوښـتو. هغـهٔ څـه د مابعـد الطبیعـاتي مسـئلو پـه هکلـه پوښـتنه ځینـي کولـه. ګـوتم بدهـ ورتـه وویـل چـي پـه مـا کـي دومـره طاقـت نشـته چـي سـتا د پوښـتنو ځواب درکړمـه ، البتـه پـه خپـل مسـلک دي پوهـولی شـم. نـو پـه دې عـالم نـزع کـي یـې خپـل اصـول داسي ورته بیان کړل چي سوبهدارا ایمان راوړو او بدهـ جوړ شو.

بیـا یـې بهکشـوان خپـل ځـان تـه نـزدې راوغوښـتل او هغـو ته یې نصیحتونه او هدایتونه وکړل. د دهٔ اخري الفاظ دا وو.

بهکشـوانو (پلویـانو) ! زهٔ تاسـوته پـه پـوره قـوت سـره وایـم پـه هـر مرکـب څیـز کـي زوال پزیـري پـه خلقـي (فطـري) توګـه موجـوده وي. د خپـل خلاصـون د پـاره هـر وخـت تیـار اوسـئ. د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبري سره دی بې هوشه شو. او هم په دې حالت کې یې له دې دنیا سترګې پټې کړې.

دا واقعه په ۴۸۸ ق، م کې پېښه شوه.[88]

**تجهیز و تکفین**

د پلویانو تر منځ تر ډېره پر دې خبره بحث روان ؤ چې تجهیز و تکفین څرنګه او په کوم عنوان تر سره شي. بالاخر د انند فېصله و منل شوه او مړی یې په بنهٔ ساز و هلو د "مکتا بندهن" و مندر ته یوړو او د چکروتي راجاګانو په څیر یې وسوځوی او د دهٔ پر چتا[89] یې د کیوړې (کېړې) او ګلاب هوار کړي وو. "یا یې د دهٔ سوځلي هډونه را جمع کړو او د کسیاسنت ګهر[90] ته یې راوړو، چېرې چې یې د سیخانو د جالی او غشو په حصار کې کېښېښودو. ډېر راجاګانو[91] په دې مقدسه کار کې برخه غوښتله لاکن هغهٔ متبرک هډونه صرف راجګان پاوا او کوسي نګلا ته تقسیم[92] کړل شول کوم چې عالیشاني ګنبدي (ستهوپونه) په خپلو خپلو حصو تعمیري

[88] د سونډرس او امیر احمد علوي صاحب دا خیال دی چې بدھ په ۳۸۰ق،م کې مړ شو. او رائس ډیوډس بیا ۳۱۲ق،م لیکلی دی. شیونا رائن شمیم بیا ۵۲۴ق،م لیکلی. لاکن په او سني دور کې د اشوک د دوریوه کتبه موندل شوې ده په کوم کې چې لیکلي دي چې د ۲۵۶ کلونو وروسته د ګوتم د مرګ او ۳۸ کاله وروسته د تخت نشینۍ د اشوک لګول شوی دی.

پروفېسر مکرجي دا ثابته کړې ده چې د اشوک د تخت نشینۍ ۲۷۰ق،م په عمل کې راوړل شو، په دې توګه د ګوتم مرګ 38- 270+256 کې وشو یعني ۴۸۸ ق،م.

د اشوک د تاج پوشۍ کال لیدلو د پاره وګورئ " اشوک " مصنفه ر،ک، مکرجي

[89] چتا: دلرګو ورکوټی امبار یا پیړۍ چې مړی پرې سوځوي.

[90] ټاؤن هال

[91] امیر احمد علوي

[92] صحیح لفظ کوسي نګر دی. د چیني مؤرخینو چپه تلفظ دا کوسي لنګا جوړ کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې. پـه دې کـې یـوه ګنبـده (سـتوپ) پـه اوسـني وخـت کـې د کسـیا سـره نـږدې دریافـت کړل شـوه او هغـهٔ سـنګینه کتبـه تـر لاس کړل شـوه د کـوم نـه چـې دا ثـابتیږي چـې کوسـي نګـلا (کوسـي نګـر) دی. لاکـن د پـا وا پـه هکلـه د هنـوز تحقیق غیر مکمل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باب ۳،

## د بدهـ تعلیمات

لکـه چـې مـوږ مـخ کـې وویـل چـې د ګـوتم بدهـ پـه دور کـې کتابونــه نــهٔ لیکــل کېــدل، مهــم مــذهبي تعلیمــات د جــامع و مــانع لفظونـو کـې د نظـم پـه شـکل کـې پـه یـاد بـه ور ایـزده کـول کېـدل، او هغـو تـه بـه " سـوتر "ویـل کېـدو. د دې حفـظ کـول بـه ډېـر مقـدس فـرض ګڼـل کېـدی. هـم پـه دې تو ګـه تـر درې سـوه کـالو پـوري د بدهــ تعلیمـات پـه ضـبط تحریـر کـې راوسـتل ضـروري نـهٔ ګڼـل کېـدل. د شهنشــاه اشــوک د حکمرانــۍ پــه اتلســم کــال کــې یــو کــانفرنس ۲۵۲ق،م وشــو. دهٔ لــو مړي ځــل دې معتقــدا تو تــه کتــابي شــکل ورکولــو پرېکــړه وکــړه. دا کتابونــه د تــري پټـک (درې ټـوکرۍ) پـه نامـه ونومـول شـول او هغـه د هغـهٔ وخـت پـه اولسـي ژبـه بهـاري ، پـالي کـې ولیکـل شـول. هغـه درې پټـک چـې پـه پټنـه کـې تیـار کـړل شـول دا وخـت معـدوم دي. لاکـن د دې یـو نقـل "مېهنـد" لـه ځـان سـره لنکـا تـه یــوړو. پــه دې وجــه د هغــې ژبــاړه د هغــه ځــای پــه ســنګالي ژبــه کــې وشـوه. بیـا تـر پنځمـه صـدۍ عیسـوي پـوري یعنـي اووه سـوه کالـه دا مقـدس کتابونـه پـه سـنګالي ژبـه کـې وو او د پـالي تـري پټـک معـدوم شـول. پـه ۲۴۰ هـ کـې بدهـ ګـوش نـومي د "ګیـا" اوسېدونکی راهـب لنکـا تـه ولاړی او دهٔ د سـنګالي ژبـې نـه بېرتـه دا مقدسـه کتابونـه پـه پـالي ژبـه کـې وژبـاړل. یعنـي د بدهـ ګـوش ژبـاړل شـوی تـري پټـک تـر ټولـو زیـات لرغـوني او مسـتند ګڼـل کېـږي. هـم پـه دې بانـدي د دکنـي بودهیـانو یعنـي هنیـان فرقـې خلـک عقیـده لـري. او دا د دې مـذهب تـر ټولـو زاړه کتابونـه دي. د حـافظې د کمـزورۍ پـه وجـه او د ژبـاړې د تېـر راتېـر نـه وروسـته د ګـوتم بدهـ تعلیمـات تـر کومـه ځایـه صـحیح

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـر مـوږ رارسېدلي دي د دې پـه هکلـه هـیڅ نـهٔ شـو ویـلای. بیـا مـوږ پـر دې هــم یقــین نــهٔ شــو کــولای چــې لوېــدیځ ژبــاړونکو (یــورپي مؤرخینـو) چـې کومـه ژبـاړه د پـالي نـه انګرېـزي تـه کـړې ده هغـهٔ دي بالکل صحیح او درسته وي.

**خدای او روح**

بهرحـال د اوسني تحقیـق لـه رویـه چـې د ګـوتم د تعلیمـاتو پـه هکلـه پـه اتفـاق سره منـل کېـږي هغـه پـه دې بـاب کـې پـه تفصـیل سـره بـه بیـانېږي. لاکـن د هغـو د بیـان نـه مـخ کـې د دې امـر واضـح کـول ضـروري دی چـې د دې تعلیمـاتو نـه دا ظـاهرېږي چـې ګـوتم چې هر څه پېش کړل هغه یې د یوه مذهبي[93] باني په حیث نهٔ بلکې د یـو مصلح اخـلاق یـا د یـو فلسـفي پـه حېـث پـېش کـړه. د ده ټـول زور پــر اخلاقــو او عمــل بانــدي دی. هغــهٔ انســان پــه مابعــد الطبیعـاتي جګـړو او سـتونزو کـې را ګېـرول او هغـو تـه پـه ګوتـه کشـمیرنهٔ جـوړوو ، بلکـې د دوی ژونـد یـې ځمکنـی جنـت جـوړول غوښـت. هغـهٔ د خـدای پـه هکلـه هـیڅ واضـح او صـفا خبـره نـهٔ ده کـړې. د دهٔ خیـال ؤ چـې د هغـهٔ پـه هکلـه غـور او فکـر د دهٔ د ژونـد د پـاره ګټـور نـهٔ دی. هغـهٔ د دې دنیـا نـه عـلاوه د ډېـرو دنیـاؤ منـونکی ؤ. لاکــن هغــه د یــو بــل عــالم منــونکی نــهٔ ؤ. هغــه د دې دنیــا د جوړښت او علل په هکله هم څه خاص رڼا نهٔ ده اچولې. د دهٔ ټوله فلسـفه هـم د دې ژونـد او د هغـه اخلاقـي نتـائجو پـه هکلـه ده. ولـي چـې دهٔ پـه داسـي مـاحول کـې سـترګي غـوړولي وې کومـه چـې پـر تناسخ[94] سخته ولاړ ؤ. هـم پـه دې سوب دهٔ پـه خپلـي فلسـفې کـې دې

[93] رائس ډیوډس

[94] تناسخ: د یو صورت نه بل صورت اختیارول

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظریې ته ځای ورکړی او هغه یې د اخلاقي اصلاح د اهمیت په هکله خاص آله جوړه کړه. هغهٔ د روح منونکی نهٔ ؤ او نهٔ یې د وجود نه بېل څیز بلله.

**فلسفه**

هغه په دې خبره ډېر ټینګار کاوه چې په کائنات کې چې څومره څیزونه دي هغه ټول د اسباب و علل ماتحت راځي او هر څیز په هره ګړۍ کې په غیر محسوس او نامعلومه طریقه باندي بدلېږي را بدلېږي. یعنې هر څیز د قانون تغیر و تبدل او د علت (سبب، عیب) تابع دی.

هغه زموږ غوندې د جنت او دوزخ منونکی نهٔ ؤ، لاکن دا به یې هم تسلیمول چې داسي دنیاوي شته چېري چې دیوتاګان (فرشتې، بزرګان) اوسېږي. لاکن د هغه په خیال چې د دې دیوتاګانو ژوند هم تر دې حده مادي یا غیر مادي کېدلای شي تر کومه حده چې هغوی په تېر ژوند (جنم) کې څومره نېکیاني کړي وې. هغه به ویل چې دیوتاګان هم د انسانانو په شان مړهٔ شي او د هغوی دنیاوي هم د هغوی په شان ختمې شي. هغه به ویل چې داسي تکلیف رسونکي ځایونه هم شته چېري چې د انسانانو او دیوتاګانو په بد عملیو په هغه ځای کې مفهوم (ارادتاً) او مهجور (جدا، بېل) ذاتونه پیدا شي. لاکن کله چې د لومړي ژوند (جنم) د بدیو اثر ځي نو هغه دنیاوي هم غائبي شي. په دې ټولو دنیاؤ کې برابر تبدیلیاني کېږي، بدلونونه پکښې راځي، او د دې د جوړېدو او ورانېدو دور مسلسل روان وي. د کوم د ابتداء او انتها د انسان د علم نه بهر ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ترکيب او تحليل[95] قانون عام دی. د دې نه که انسان دی که ديوتا هيڅوک خلاصون نهٔ لري. هغه عناصر د کوم په ترکيب سره چې يو زي مِس وجود جوړ شوی دی د دې تحليل به يو نه يو ورځ ضرور کېږي او د ا د انسان جهالت او خود فريبي ده او هغهٔ دا خيال کوي چې هغهٔ په ټول عالم کې د هر ځيز نه بېل دی او هغهٔ موجود بالذات[96] دی.

ماشوم چې کله ورو ورو غټېږي نو د دهٔ په دماغ کې يو په ګرد لړلې آئينه کې د شاوخوا دنيا عکس لوېږي او هغه په يو غير شعوري توګه ځان د دې ګرد لړلې دنيا مرکز بولي. بيا په کراره کراره دا دائره غټېږي. لاکن تر ځوانۍ پوري د رسېدو پر وخت هم انسان د ځان په هکله په دهوکه کې وي. هغه خپل ژوند په خواهشاتو او فکرو کې تېروي او د داسې ځيزونو د حاصلېدو هڅه کوي چې هغه تر لاسه هم کړي نو خوشحال نهٔ وي، بلکې د دويم او نوي خواهشاتو سبب جوړ شي او په دې توګه هغه د يو نه يو خواهش په پوره کولو پسې لګيا وي هڅې کوي. د اکثرو خلګو دا خواهشات ډېر مردار او ذليل وي. لاکن دا اقليت چې ارزوګاني يې په هوا وي خود نمائش او خود غرضه وي او په نتيجه کي ځان غمزده او په رنځ کي مبتلا کړي.

## د ځيزونو عناصري ترکيب

مور د دې وجې نه مجبور يو چې پر خود نمائش او نورو اسبابو نظر وکړو. د ګوتم د نظريې مطابق انسان د بېلا بېلو اغراضو او صفاتو مرکب دی او دا ټول ځيزونه مادي دي يا خود

---

[95] Composition and de composition
[96] Self existen

(c) ketabton.com: The Digital Library



مــادي نتيجــه. پــه دې توګــه دۀ د انســاني مرکــب د اجــزاؤ ترکيــب داسي بيان کړی دی.

(1) مادي صفات و خصوصيات يا شکل ۲۸ دي.

(الــف) عناصــر اربعــه (ثلــور عناصــره): خــاوره، اور، اوبه او هوا

(ب) حــواس خمســه (پنځــه حواســه): ســترګي، پــزه، غوږونه، ژبه او وجود.

(د لمس د پاره)

(ج) د مادي پنځه خواصه: کړۀ وړۀ، غږ، بوی، خوند او جوهر

(د) جنس: نر او ښځه.

(ر) درې مهــم حالتونــه: خيــال، قــوت حيــات[97]، مکــان و زمان[98]

(س) د اطلاع دوې زرائع: خبري اتري او اشاره.

(ش) د ژونــدي وجــود اووه صــفات: د بحالېــدو صــلاحيت، د مجتمع (جمــع کــړل شــوي) کېــدلو صــلاحيت، د تصــرف صــلاحيت، اســتداد (بېرته اخســتل)، انحطاط (کمېــدل، تنزل)، تغير او لچک.

(2) احساســات (ايمــان) پــه شــپږ قســمه دي. پنځــه خــو هغــه چــي د پنځــو حصــو پــه ذريعــه پيــدا کېــږي او شــپږم هغــه چــي د حــافظې، د ذهــن پــه ذريعــه پيــدا کېــږي. پــه دوی کــي د هــر يــوه درې قسمه دي.

---

97 Vitolity
98 Space

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱، مقبول. ۲، غیر مقبول. ۳، معتدل، یعني هغه چي نهٔ مقبول وي او نهٔ غیر مقبول.

(3) تصورات مجرد و مشزع(سینا)[99] شپږ قسمونه دي. دا ټول د احساساتو سره تعلق لري. د بېلګي په توګه رنګ، مرغی، ونه وغیره د تصور باصره سره تعلق لري. د خوړوالي تعلق د څک سره او د خوشبو تعلق د شامه (بوی) سره وغیره وغیره.

(4) قوت او د رجحان (سنګهارا)[100]، ۵۲ قسمونه دي. دا قسمونه یو د بل مانع (منع کول) نهٔ دي، او په دوی کي بعضي مذکور الصدر مدات هم وي. لاکن د دې (سنګهارا) تر منځه به دا فرق وي چي تر او سه څو مره شیان ذکر شوي دي د هغې تعلق د خارجیت سره دی. لاکن اوس چي کوم بیانېږي هغه ټول داخلي دي.

(۱) پهاسا: التصال

(۲) دوان: یعني د التصال په وخت احساس

(۳) د سامان احساسات نتیجه، متنزع خیالات یا تصورات

(۴) چشنا: خیالات یعني د تصوراتو جوړښت

(۵) مناسیکار: غور او فکر کول، د خیالاتو راګرځول، اخوا دې خوا کول

(۶) ستي: حافظه،

(۷) جیونندریه: قوت حیات

(۸) اکاګانا: شخصیت

---

[99] شیو نرائن شمیم د دې ژباړه تفهیم کړې ده.

[100] ډېر خلک د دې ژباړه تحت الشعور کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۹)ونک: توجه
(۱۰) ويکار: تفتيش، پلټنه
(۱۱) ويريه: سعي
(۱۲)ادهيموکه: استواري
(۱۳)پتي: خوشحالي
(۱۴)چند: تشويش و تحريک
(۱۵) مجهتنا: بې اعتنائي
(۱۶،۱۷)تهين او بدهـ: نوم او بې حسي
(۱۸،۱۹)موه او پنا: ذهانت او کند ذهني
(۲۰،۲۱)اوبهـ او الوبهـ: حرص او قناعت
(۲۲،۲۳) اتپ او انوتپ: وېره او غصه
(۲۴،۲۵)هري او اهريک: حيا او بې حيائي
(۲۶،۲۷)دس او ادوس: نفرت او مينه
(۲۸،۲۹،۳۰) وسيکچا، سدها، وتهي: شک، اعتقاد او توهم.
(۳۱،۳۲)پسدهي: سکون وجودي يا دماغي.
(۳۳،۳۴)لهونا: دماغي يا وجودي چستي و بيداري
(۳۵،۳۶)مدونا: وجودي يا دماغي لچک يا نرمي
(۳۷،۳۸)کم‌نتا: وجودي يا دماغي تصرف[101]، پزيري و اثر پزيري[102].
(۳۹،۴۰)پګوناتا: چالاکي يا مهارت وجودي يا دماغي

---

[101] Pliany
[102] Adoplablity

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴۱،۴۲) احلوکاتا: استقامت، وجودي يا دماغي
(۴۳ ، ۴۵) ستما: تقرير، عمل يا د ژوند په مناسبت و معقوليت
(۴۶) کرونا: د پردو د غم د پاره غم کول، دردمندي
(۴۷) مورنا: د پردو په خوشحالو کي خوشحال اوسېدل، مسرت، اخوت
(۴۸) افتا: د پردو په خوشحالو غمزده کېدل، رشک
(۴۹) مچاريه: په خپلو خوشحالو کي د نورو خلګو ګډون نهٔ خوښول، خودغرضي
(۵۰) کوککه: تريو تندی
(۵۱) اودهکه: خودبيني
(۵۲) مانو: غرور.
(5) ونان: خيال و شعور، دا اخري سکندهـ دی، د دې ځای[103] زړهٔ دی او د دې نهه اتيا ۸۹ قسمونه دي. او د دې تقسيم پر ښو او بدو شوی دی.

د انسان وجود او دماغ هم د دې پنځو مرکباتو دی، لهذا بدهـ د يو تمثيل په ذريعه دا مسئله داسي را ښودلې ده. "لومړی، د ګروه (استاد) د مادي صفاتو مثال د يو ځګ غوندي دی کوم چي په کراره کراره سره يو ځای کېږي او بيا بېرته ورک شي. د نورو ګروګانو (استادانو) د احساساتو مثال د اوبو د کوبۍ په شان دی کوم چي د اوبو پر سر اتڼ کوي. د درېيم ګرو

[103] ګوګرلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثال د سراب[104] دی، کوم چي د لمر په ګرمۍ کي ښکاري . د ځلورم ګرو د دماغي او اخلاقي رجحاناتو مثال د ونې د ډډ غوندي دی، کوم چي نهٔ سخت دی او نهٔ وچ. او د آخري ګرو د خیالاتو مثال د بهترین خیال یا جادو (سحر، کوډي) په شان وي، په دې کي و یوه ته هم روح نهٔ شو ویلای. وجود همېشه بدلېږي، په دې توګه د دهٔ کارونه او صلاحیتونه هم بدلېږي. انسان په هره دویمه لمحه کي هغهٔ انسان نهٔ پاتي کېږي کوم چي د دې له مخه وي. دا د دهٔ جهالت دی چي دی ځان غیر متغیر وګڼي او په ځان کي دننه یوه روح ګڼي. لهذا د بدهـ مذهب د منونکو دا خاص فرض جوړېږي چي هغوی دي د شخصیت او روح د خیال ځخه پرهېز وکړي. په دې چي پر روح اعتقاد (ایمان) منجمله او د اسبابو یو خاص سبب دی. زوکړه او زوال، مرګ او غم او افسوس و رنځ. د بدهد خُلې نه د روح پر مسئله حسب ذیل[105] بیان منقول دی.

**عدم روح**

"بهکشوانو (پلویانو)! د روح په هکله بېلابېل معلمین او برهمن چي کوم نظریه وړاندي کوي هغه هم دغه ده یا خو د پنځه واړو سکندهو (صفاتو) مجموعه ده یا له دې نه یو سکندهـ (صفت) دی. په دې بهکشوانو! جاهل او غیرمتشرع (پابند مذهب بدهـ) هغهٔ دي څوک چي نهٔ خو د متشرع خلګو په صحبت کي اوسي او نهٔ د دوی پر شریعت (بدهـ مذهب) پوهېږي، او نهٔ د هغه په څیر ژوند تېروي. داسي سړی د

[104] سراب: په صحرا کي پر ځمکه د اوبو په شان د لېري نه ښکاري، خو چي څومره ورنزدې کېږي هغومره لېري کېږي.

[105] اسپنس هارډي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



روح پـه هکلـه دا خیـال کـوي چـي یـا خـو هغـه روپ (مـادي خصوصیت) دی یا پـه روپ کـي شـامل دی یـا پـه روپ کـي اوسـي. یـا هغـهٔ دا خیـال کـوي چـي ویـدان (احساسـات ) شـته، یـا پـه ویـدان کـي اوسي یـا ویـدان لـري یـا پـه ویـدان کـي شـامل دي. هـم پـه دا تـوګـه نـور درې واړه سـکندهو (تصـورات، رجحانـات او عقـل) پـه هکلـه هـم داسـي سـوچ کـوي. نـو هـم پـه دې تـوګـه د روح پـه هکلـه پـه دې ډولـو طریقـو کـي پـه یـوه یقـین کـول داسـي دی لکـه دهٔ تـه چـي " زهٔ " پـه خیـال کـي پیـدا شـي. پـه دې کـي پنځـه واړه حواسـه ، ذهنـي صـفات او جهالـت سـره ګـډ شـي. د دې احساسـاتو نـه چـي د جهالـت او اتصـال کومـه وجـه پیـدا کېـږي حسـیاتي (پابنـد مـذهب بدهـ) غیـر متشـرع سـړی پـه دې مغـالطې کـي راګیـر شـي چـي" زهٔ یـم، زمـا وجـود شـته، زهٔ بـه یـم، زهٔ بـه نـهٔ یـم،زهٔ بـه د مـادي صـفاتو لرونکـی یـم ، یـا نـهٔ یـم. لاکـن بهکشـو ! متشـرع مریـد بـاوجود د حـواس خمسـه لرلـو د دې جهالـت نـه ازادي تـر لاسـه کـړه، او هغـهٔ تـه پوهـه راغلـه. هـم پـه دې وجـه دهٔ تـه د " زهٔ " سـوچونه اوس نـهٔ راځـي". غـرض د روح نـه انکـار د بدهـ مـذهب یـو مهـم جـز (هنیـان یـا دکنـي بودهیـانو مطابق) دی.

اوس بـه دد ې مسـئلې حـل ډېـر ضـروري ؤ چـي روح یـو ځیـز نـهٔ دی او تناسـخ (د یـو صـورت نـه بـل صـورت تـه تلـل)[106] یعنـي هـر واره پیـدا کېـدل هـم صـحیح دی نـو هغـه کـوم انسـاني ځیـز پـاتي شـي چـي دی هروار هروار پیدا کېږي؟

[106] برنوف.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تناسخ او کرم

ګـوتم چـونکې پـه هندوسـتان کـي زوکـړی ؤ او د دې ځـای د فلسـفې مطالعـه یـې کـړې وه، پـه دې دهٔ د تناسـخ نـه انکـار نـهٔ شـو کـولای. هغـهٔ د انسـان هـر وار پیـدا کېـدل او جـنم اخسـتل ومنـل، لاکـن هغـهٔ د روح قائـل نـهٔ ؤ او هغـه یـې د وجـود نـه بېـل څیـز ګڼلـو څخـه انکـار کـړی ؤ. پـه دې دهٔ تـه د مـذکور الصـدر سـوال تسـکین بخشـه ځـواب ورکـول ؤ. هغـهٔ د دې حـل د "کـرم" د نظریـې پـه صـورت کـي را مختـه کـړو، او هغـه تـه یـې راز او معمـه وویلـو او سائل یې د نورو پوښتنو څخه را وګرځوو.

د نظریـه کـرم مطـابق څنګـه چـي یـو ځنـاور (انسـان، حېوان، دیوتـا) مـړ شـي د دهٔ د پـاره یـو نـوی ژونـد کـم و بـیش پـه ارام سـره پیـل شـي. دا ژونـد خوشـحاله یـا غمجـن پـه دا حېثیـت کېـدای شي پـه کـوم تناسب چي دهٔ ښـه یـا بـد افعـال او اعمـال کـړي وي. هغـه سـبب چـي د نـوي ژونـد باعـث جـوړېږي هغـه "تـر شـنا" (تشـنګي) ده یـا "اپـاوان" (د نیولـو هڅـه) ده، ییـا د حـواس د ظـاهري دنیـا سـره اتصـال وشـي او احساسـات پیـل شـي. د دې احساسـاتو نـه ییـا د ضـروریاتو تنـده یعنـي خواهشـات پـوره کـول پیـدا شـي. د دې تنـدي نتیجـه دا شـي چـي د دې خواهشـات پـه قـابو کـي راوسـتلو فکـر (اپـاوان) کـي شـدت راشـي. دا فکـر د هغـه نـوي فـرد پـه وجـود کـي راوسـتلو، د هغـه نـوي فـرد مـاحول، فطـرت، مسـتقبل هغـه "کـرم" تر سره کوي کوم چي د دهٔ د لومړي ژوند (جنم) مېوه وي.

د "کـرم" د دغـي نظریـې د دوو حـدودو پـه مـنځ کـي یـو اعتـدال پیـدا کـړی دی. پـر یـو حـد خـو هغـهٔ خلـګ دي چـي د روح منونکي دي، او هغهٔ یو غیر فاني څیز ګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دویم حد هغهٔ خلک دي څوک چي اخلاقي انصاف او د حساب اخرت منکر دي. د بدهـ مذهب منونکي د روح منونکي نهٔ دي، لاکن هغوی په دې باندي ټینګار کوي چي د اعمالو نتیجه به ضرور رسي. نو په دې توګه دا د انسان اخلاقي فرض دی چي هغه دي نېک کارونه او عمل صالح وکړي.

لاکن سوال دا پیدا کېږي چي که روح نشته نو د اعمالو نتیجه د څهٔ؟ بدهـ مذهب وایي چي روح نشته لاکن کرم پاته وي. یعني د هر وګړي اعمال، وېناوي او د خیالاتو نتائج پاته وي او دا کرم نهٔ فنا کېږي. دغه کرم د یوه مړي شخصیت اجزا یوځای سره راټول کړي او د یوه نوي وجود او یو نوي فرد صورت اختیار کړي. لکه څرنګه چي یو ختمېدونکی نسل خپل ټول ښهٔ او بد راتلونکي نسل ته په میراث کي پرېږدي، هم دغسي هر وګړی چي کله فنا کېږي نو هغه خپل ټول ښهٔ او بد و دې نوي وګړي ته ورکړي. په دې توګه که د دې دور د تسلسل نه خلاصون غواړئ او د هر واره زېږېدو (جنم اخستو) د مصیبت نه ځان خلاصول غواړئ نو انسان ته پکار دی چي د ګوتم په ښودلي لار روان شي. کومه چي خوشحالي، اطمینان، عقل، نېکي، راحت، سکون او د نروان (فنا) پوري یې رسوي.

**سیدهالار**

دا سیدهالار پر څلورو حقائقو باندي منحصره ده. غم، سبب د غم، انسدادغم او فنائې غم. د دې اجمالو تفصیل داسي دی.

۱) د سړي په ژوند کي هغه واقعات کوم چي د زوکړي احساسات انحطاط (کمېدل، تنزل) و علالت (ناروغي) او د مرګ متعلق دي، او هغه چي د څیزونو نه یې جدا کوي یا یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوابدیا سره اشنا کوي یا د ملکیت د ناشکره خواهش سره تعلق لري، په دې ټولو صورتونو کي هغه حالات پېښ راځي کوم چي د غم و الم نه ډک وي.

۲) د احساساتو نه وروسته چي کومه تنده یا خواهش پیدا کېږي، د کوم نه چي د خپل شخصیت بېلوالی یا د ځانګړي فکر غلط فهمي پیدا کېږي چي بیا د زیاتوب په وجه په هوس بدلېږي کوم چي د راتلونکي سبا وون غوښتونکی یا د موجوده دنیا سره د تړون(میني) باعث وي د ټولو غمو جرړ دی.

۳) په دې که موږ دا تنده، دا خواهش او دا هوس ووژنو نو به موږ له هره غمه خلاصون ومومو.

۴) د دې مقصد د تر لاسه کولو یوازنۍ لاره "سیدها لاره" (صراط مستقیم) یا د بدهـ ښودلې تګ لار ده. دا لاره څه کړکېچنه نهٔ ده. دا یې د پیمائش پر بنیاد په اتهٔ برخو تقسیم کړې ده، هغه اتهٔ برخې دا دي.(۱)صحیح نظریه (۲)صحیح مقصد (۳)صحیح الفاظ (۴)صحیح کردار (۵)صحیح طریقه معاش (۶)صحیح هڅه (کوشش) (۷)صحیح احتیاط (۸)صحیح فکر و سکون.

څلور منازله حسب زیل دي.

۱) د مذهب تبدیلي. دا پر څلورو شیانو اړه لري.

(الف) د نېکو خلګو سره ناسته.

(ب) د بدهـ مذهب شریعت.

(ج) پر دې شریعت غور او فکر.

(د) نیک اعمال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــر دې لــومړي منــزل د بدهــ منــونکی نــهٔ خــود روح منــونکی وي او نــهٔ د رســم و رواج. او یــا هغــه د ګــوتم بدهــ پــر تعلیماتو د شک پرته کامل یقین لرونکی شي.

(۲) صـرف یـو وار پـه دې دنیـا کـې زېږېـدل، کـوم څـوک چــې خپــل مــذهب تبــدیل کــړی وي نــو هغــه د شــک، وهــم او د انفرادیـت څخـه ازادي تـر لاسـه کـړي. نفـرت او وهـم د کـم نـه هـم کـم کـړي، نـو پـه دې توګـه بـه دی یـو وار لا بیاژونـدی کېـږي چـې دا ټـول څیزونـه فنـا کـړي. پـه دې توګـه د دهٔ یـو کـرم بـه هـم پاتـه نـهٔ شـي (سالک دویم منزل ته ورسېدی)

(۳) دې دنیـا تـه بـه بیـا نـهٔ راګرځـي. کلـه چـې هـوس او نفـرت داسـې ختم کـړل شـي چـې خپـل یـو خـواهش یـا د نـورو دپـاره څـه بـده جذبـه یـا خیـال نـهٔ شـي پیـدا نـو بیـا د دویـم وار زېږېـدنې ضـرورت نهٔ پاتې کېږي. (سالک دریم منزل پای ته ورسوو)

(۴) ارهـــت: دا هغـــه منـــزل دی چېـــري چـــې د علـــم او بصـيرت چينــې بهېـږي، د جهالـت خـودبيني او غـرور نـوم نـهٔ پـاتي کېـږي او د مـادي او غيـر مـادي هـيڅ يـو ژونـد خـواهش نـهٔ پـاتي کېږي (دا اخر منزل دی)

**ځنځیرونه**

د دې منــازلو تــر ســره کولــو وروســته ســالک دغــه لــس ځنځيرونــه ښــکوي چــې هغــه دادي. (۱) د شخصــيت وهــم (۲) پــر بدهــ شــک (۳) پــر رســمونو یقــین (۴) نفــس پرســتي او هــوس پرســتي (۵) نفــرت (۶) پــه دې دنیــا کــې د ژونــد خــواهش (۷) د جنــت خــواهش (۸) غــرور (۹) ځــان ښــهٔ او رښــتونی بلــل (۱۰) جهالت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بدهـ مذهب پابند چي کله لو مړي پنځه ځنځيرونه وشکوي نو به هغه "ارهت" شي. چي کله لس سره ځنځيرونه وشکوي نو دهٔ ته به د دهٔ مرتبه ترلاسه شي او د دې مرتبې ترلاسه کولو نوم "نروان" دی. د لفظ نروان لفظي معنا "فنا" کېده ده، لاکن دا فنا د روح مفروضه نهٔ ده، بلکې دا هغه ذهني او وجودي رجحان دی کوم چي د کرم د نظريې مطابق ځانګړې زېږېدنه (جنم) په وار وار منځ ته راوړي. دا رجحان هغه وخت فنا کېدای شي چي کله موږ د دې خلاف (متضاد) رجحانات خپل کړو. چي کله دا خلاف رجحانات خپل حدِ کمال ته ورسي يعني چي مکمله نېکي، عقل او اطمينان حاصل شي نو دا نروان (فنا کېده) دی.

د نروان ترلاسه کولو وروسته نهٔ خو به فکر وي او نهٔ غم، نهٔ خواهش نهٔ ځانګړتيا، نهٔ کرم او نهٔ دويم ځل زېږېدنه. انسان به له دې ټولو ستونزو نه خلاصون ترلاسه کړي او د دې ژوند په ختمېدو به بيا په وجود کي نهٔ راځي[107]. لاکن د بدهـ مذهب

[107] مفکرين دې سوال ته له ډېره وخته فکرمند دي چي بېلابېل خلګ له عېبو سره ولي پيدا شي، او په ژوند کي داسي اختلاف ولي دی چي يو راجا دی او بل پرجا (رعايا) څوک امير دی څوک غريب، څوک په محلونو کي اوسي او څوک په کيږديو کښي. د دې سوال ځواب په دوو قسمونو دی.

يوه ډله د اهل مذاهب د قسمت يا نصيب (تقدير) منونکې ده. د دوی په خيال چي د خلګو څه نا څه احوال مخ کي هم تېر شوي دي. هم دغه د دهٔ قسمت يا نصيب دی. اوس چي هر څه په علم الهي کي راغلي دي هغه غلط نهٔ شي کېدای. په دې هر سړی به هغه ژوند تېروي چي د دهٔ په قسمت کي وي. په دې توګه په قسمت باندي يقين لرونکي خلګ د خپلي ناکامۍ ټول الزام پر قسمت واچوي او خپله ځان د افعالو او کردارو د ذمه وارۍ نه بچ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیـروي صـرف د کـرم او جـنم د لانجـو څـه خلاصـون نـۀ دی بلکـې پـه ژونـد کـي نـروان[108] تـر لاسـه کولـو پـه ذریعـه اطمینـان، نېکـي، عقـل، د نفـس پـاکوالی تـر لاسـه کـول دي کـوم چـي دا دنیـا د انسـان د پـاره جنت جوړولای شي.

**اخلاقي احکام**

د دې اصـولي تعلیمـاتو ماسـوا اخلاقـي احکـام هـم شـته. او دا احکـام صـرف د مـذهبي ژونـد د تېرولـو یـا بهکشـو (پلویـانو)

---

دویمه ډله په کوم کي چي هند فلسفي او څه یوناني حکماء لکه فیثا غورث او افلاطون وغیره د تناسخ قائل دي، د دوی په فکر انسان په وار وار زېږدي. کله د انسان په شکل کښي، کله د ځناور (حیوان) په شکل کي او کله یيا د نباتاتو په شکل کښي. هم دې ته زېږېدنه وایي.

هر موجوده ژوند د تېر ژوند پر اعمالو روان وي. که تېر ژوند څومره خوړ یا بد تېر شوی وي هم هغسي به روان ژوند خوشحاله په راحت یا په رنځ او تکلیف کي تېرېږي. که موږ نېک کردار وو نو زموږ روح به د ژوندانه د بېلابېلو ادوارو نه تېرېږي او هغه به په لویي روح کي جذب کېږي. کوم ته چي خدای یا برهما ویل کېږي.

که موږ مسلسل بد عملونه کوو نو موږ ته به اوږده اوږده ژوندونه په نصیب کېږي. تر دې انده چي د ژوند د ستونزو په تېرولو کي موږ و ښو کارو ته مجبوره شو او په دا طریقه پاک او سپېڅلي تر برهما پوري به بېرته رسو. د دواړو نظریو منونکي روح د وجود نه بېل څیز بولي او دې ته غیر فاني وایي.

[108] پروفېسر میکس ملر، پروفېسر چلډرس او رائس ډیوډس په ټول پټکو او بېلابېلو بودهي کتابونو کي د لفظ " نروان " پسې ګرځېدلي دي او په هر مقام یې د دې د استعمال په نتیجه کي دا څرګنده کړې ده چي د دې معنا مرګ نۀ دی کوم چي د کرم او جنم نه خالي وي. د دې خاص مفهوم د پاره " پارلي نروان " او " انوپارلي سیشها " استعمالېدل. د نروان صحیح معنا د دنیاوي جنت ده، یعني داسي ژوند چي له فکره او خواهشه څخه خالي وي او د اطمینان او عقل څخه ډکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پـاره نـهٔ دي بلکـې عـام دي. او د هـر رنګـه خلګـو د پـاره د دې حکم ورکول شوی دی.

۱) غصـه، شـراب څښـل، ضـد، تعصـب، دهوکـا، حسـد، پـر ځـان سـختي تېـرول، د نـورو بـد ويـل، غـرور او بـد ګفتـاري غليـزه دي، د غوښو خوړل (غليزه) نهٔ دی.

د ماهي (کـب) او غوښـو نـه پرهېـز، لـڅ او سـېدل، وېښـته خـرول، د ځـان نـه ځيـر جـوړول، پنـډ رخـت اغوسـتل، د اور ديـوي (اګنـي ديـوي) تـه قربـاني ورکـول، هيڅـوک هـم لـه توهماتو نـه نـهٔ شي پاکولای.

د ويـدونو تـلاوت، برهمنـو تـه خيـر ورکـول، د ديوتـا ګـانو مـخ تـه قربـاني ورکـول، پـر ځـان پـه يـخ يـا ګرمـی کـي سـختی تېـرول، هـم دغسـي نـور عبـادات کـوم چـي د بقـائې دوام د پـاره کېـږي، دا خبـري هيڅوک هم نهٔ شي پاکولای او نهٔ دا توهمات لېري کولای شي.

۲) مسـتقل مـزاج اوسـه، کـټ کـټ خنـدا پرېـږده، د باچاهـانو بـې هـوده کيسـې مـهٔ بيـانوئ، ژړل او دهوکـا ورکـول پرېږدئ، او بغيـر د څـه لالـچ، حسـد، تشـدد او جهالـت نـه بغيـر ژونـد تېر کړئ.

۳) اتـهٔ احکامـه ورکـړل شـوي دي چـي اتـهٔ علـوم يـا اپوستهـ بلل کېږي.

ژونـد مـهٔ ازاروی، چـي تاسـو تـه نـهٔ درکـول کېـږي هغـه مـهٔ اخلـئ، درواغ مـهٔ وايـاسـت، نشـه لرونکـي څيـز مـهٔ څښـئ، ناجـائز جنسـي تعلق مهٔ جوړوئ ولي چي دا بې انتها ټيټ حرکت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماخوستن ډېره مهٔ خورئ، ګلونو مهٔ اچوئ او خوشبو (عطر) مهٔ لګوئ، پر ځمکه صرف یوه پوزۍ (چټائي، نرۍ درۍ) اچوئ او پرپرېوزئ.

په دې اتو احکاماتو کي لومړي پنځه فرض او وروستني درې مستحب دي.

۴) د دین دارانو د پاره دا هم ښه ده چي هغهٔ دي د قمري میاشتي اوله، اتمه، څوارلسمه او پنځلسمي ورځي روژه (اپوسعتو) نیسي.

۵) په درېیم زیل کي د اتو احکاماتو علاوه دوه نور دي (۱) اتڼ، سندري، ساز(موسیقي) او تمثیل نګاري (ډرامه ښودنه، نمائش کول) نه پرهېز کول.(۲) د سپینو او سرو زرو نه ډډه کول.

دا لس اخلاقي قانون " دس سیلا " بلل کېږي.

۶) لس ګناهوي یې هم راښودلي دي. درې وجودي (جسماني) دي لکه، مړی کول، غلا کول، او ناجائز جنسي تعلق جوړول. څلور د وېنا سره تعلق لري. یعني درواغ ویل، شیطانت کول، بدنامول، شکنځل کول، او فضول خبري کول. درې دماغي دي. لالچ، حسد او شک(یعني د بدهـ په تعلیماتو کي شک کول)

۷) ګوتم په یوه بیان کي د دنیا شپږ اطرافه ښودلي دي. لوېدیځ(مغرب)، ختیځ(مشرق)، سهېل(جنوب)، قطب (شمال) ځمکه او اسمان. هغهٔ ویلي دي چي "هر سړي ته پکار دی چي د شپږو اطرافو، د نېکیو په ذریعه حفاظت وکړي. خپل مور او پلار ختیځ وبولي. ښځه او ماشومان لوېدیځ وبولي. استادان سهېل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپــل ملګــري او خپلــوان دي قطــب. مــذهبي خلګ(کــه هغــه بــرهمن وي کــه بدهــ) اســمان. غلامــان او مینځــي دي ځمکــه وبــولي. دغــه حکم یې په نور تفصیل سره داسي بیان کړی دی.

(۱) **مور او پلار او اولاد:** پر مور او پلار فرض دی چي

(الف) خپل ماشومان له بدو را وګرځوي.

(ب) هغو ته د نېکۍ تعلیم ورکړي.

(ج) هغو ته د علوم فنون تعلیم ورکړي.

(د) د هغو د پاره مناسب خاوند یا ښځه دي وګوري.

(س) د هغو د پاره دي میراث پرېږدي.

پر اولاد فرض دی چي

(الــف) زهٔ بــه د هغــو خلګــو پالنــه کــوم څــوک چــي زما پالونکي وو (یعني مور او پلار)

(ب) زهٔ بــه د هغــه کــورنۍ چــارې تــر ســره کــوم کــومي چــي پردوی وې.

(ج) زهٔ بــه د هغــو د ملکیــت حفاظــت کــوم، زهٔ بــه د هغــو د جانشین جوړېدو هڅه کوم.

(د) د دوی د مــړهٔ کېــدو وروســته بــه زهٔ دوی پــه عــزت ســره یادوم.

(۲) **شــاګرد او اســتاد:** شــاګرد دي د اســتاد عــزت داســي وکړي.

(الف) په ولاړي دي د استاد تعظیم وکړي.

(ب) د هغه خدمت دي وکړي.

(ج) د هغه حکم دي مني.

(د) د هغه ضرورتونه دي ورپوره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ر) د هغه وینا دي په غور سره اوري.
استاد دي پر خپلو شاګردانو داسي مینه کوي.
(الف) هغو ته دي هغهٔ خبري وروښودلي شي چي هغه ښې دي.
(ب) هغو ته دي دا ور ایزده کړي چي کله علم حاصل کړي نو نهٔ دي یې هېروي.
(ج) هغو ته دي مذهبي کیسې او سائنس ور وښودل شي.
(ه) د دهٔ و ملګرو ته دي د دهٔ تعریف کوي.
(ر) هغوی دي له خطرو بچ کړي.
(۳) **خاوند او ښځه:** خاوند باید له خپلي ښځي سره داسي مینه وکړي.
(الف) د هغې دي عزت وکړي.
(ب) د هغې سره دي نېکي کوي.
(ج) د هغې سره دي وفاداري کوي، یعني د خپلي ښځي ماسوا بلي ښځي سره دي تعلق نهٔ جوړوي.
(د) په نورو کي دي د دې عزت وکړي.
(ر) هغې ته دي مناسبي جامې او زېور ورکړي.
ښځه دي د خپل خاوند سره داسي تعلق وساتي.
(الف) هغهٔ دي د دهٔ د کور ښه نظم جوړ کړي.
(ب) د دهٔ د خپلوانو او ملګرو دي خدمت وکړي.
(ج) په پرده (عزت) سره دي اوسي.
(ه) فضول خرڅه دي نهٔ کوي.
(ر) کار دي ښهٔ په هنرمندۍ او بیدارۍ سره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴) **د ملګـــرو ســـره**: باعزتـــه ســـړی دي د ملګـــرو ســـره داســـي رویه وکړي.

(۱) ســـوغات دي ورکـــړي (۲) خبـــري دي پـــه اخـــلاق ســـره ورســـره کـــوي (۳) د هغـــه د فائـــدې د پـــاره دي هڅـــه کـــوي (۴) د هغـــه ســـره دي پـــه انصـــاف ســـره ســـلوک ســـاتي، یعنـــي داســـي ســـلوک چـــي هغـــه یـــې د ځـــان د پـــاره ښـــهٔ وګڼـــي (۵) پـــه خپـــل دولـــت او امـــارت کـــي دي شریک کړي.

هغهٔ خلګ دي خپل اخلاص له دهٔ سره داسي وکړي.

(۱) هغـــهٔ وخـــت دي د دهٔ ســـاتنه وکـــړي چـــي دی نـــهٔ وي خبـــر. (۲) د هغـــهٔ د ملکیـــت دي هغـــه وخـــت ســـاتنه وکـــړي چـــي دی بـــې پـــرواه وي (۳) د خطـــرې پـــر وخـــت دي هغـــه تـــه پنـــاه ورکـــړي (۴) پـــه بدقســـمتۍ کـــي دي د هغـــه ملګـــری شـــي (۵) د هغـــه د خانـــدان ســـره دي ښه په نېکۍ سره تعلق وساتي.

(۵) **ښښـــــتن او غلام (مریـــــی)**: ښښـــــتن دي د خپلـــــو غلامانو (مریانو) سره داسي سلوک وکړي.

(۱) د هغـــه د طاقـــت مطـــابق دي د هغـــو نـــه کـــار اخلـــي (۲) هغـــو تـــه دي ښـــهٔ مناســـب خـــوراک او معـــاش (تنخـــواه) ورکـــوي (۳) پـــه نـــاروغۍ کـــي دي د دوی حـــال پوښـــتي (۴) پـــه عامـــه توګـــه نـــهٔ پخېـــدونکي خوراکـــو کـــي دي دوی شـــریک کـــړل شـــي، کلـــه کلـــه دي دوی ته ناغه ورکوي.

بیا دي غلام (مریی) داسي د اخلاص اظهار وکړي.

(۱) د هغـــه تعظـــیم دي کـــوي (۲) د هغـــې نـــه وروســـته دي خـــوب او ارام تـــه ځـــي (۳) څـــه چـــي ورکـــول کېـــږي پـــر هغـــه دي قناعـــت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي(۴) کار دي ښهٔ په اخلاص سره کوي (۵) د هغه سره دي په ادب سره خبري کوي او پشایي دي د هغه تعریف کوي.

(۶) **عام (معمولي) بدهـ او مذهبي بدهـ :** نر دین دار بهکشو او د برهمنو دي داسي خدمت وکړي.

(۱) د زړهٔ نه دي مینه ورسره وکړي (۲) په ژبه دي مینه ورسره وکړي (۳) په خیال کي دي مینه ورسره وکړي (۴) د هغو دي په خوشحالۍ سره هر کلی وکړي (۵) او د هغوی دنیاوي ضرورتونه دي ورپوره کړي.

مذهبي خلګ دي له خپل کوربه سره داسي تعلق وساتي.

(۱) هغوی دي له بدو راوګرځوي (۲) د نېکۍ خوا ته دي یې وبولي (۳) هغو ته دي د مذهب تعلیم ورکړي (۴) د هغو شک دي لېري کړي او هغو ته دي د نروان لاره وروښایي.

**منع کړل شوي کارونه**

(۱) وسله خرڅول (۲) مینځه خرڅول (۳) غوښه خرڅول (۴) شراب جوړول او خرڅول (۵) زار خرڅول.

په دغو احکامو او هدایاتو باندي عمل کولو والا سړی ربښتوني خوشحالي تر لاسه کولای شي او که بدهـ په دې عمل وکړي نو هغه به د "ارهت" و درجې ته ورسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باب، ۴

## سنګهـ یا د خیر غوښتونکو جماعت

د دې مـذهب ابتـداء د ګـوتم د تـارک الـدنیا د ورځـي نـه وشوه. څنګـه څنګـه چې د منونکـو او معتقـدینو پـه بدهـ کـي زیـاتوب کېـدی، هغسـي دا ډلـي هـم وده کولـه. لاکـن مـذهب تـر دې خیـر غوښـتونکو پـوري محـدوده نـهٔ ؤ ، دا مـذهب هغـه خلګـو هـم منلـو یـا یې منـونکي وو چـا چي کـورنی ژونـد کـاوه. او هغـه چـا هـم چي تجـارت ، کښـت او پـه نـورو بیلو کـارونو بوخت وو. داسي خلـک هـم وو چي هـر څـه یې پرېښي وو او راهبانـه (عابدانـه) ژونـد یې خپـل کـړی ؤ. داسـي هـم وو چـي صـرف عقیـدتاً د شـریعت بدهـ منـونکي وو، او د دنیـا نـور کسب او روزګار به یې هم ورسره کاوه.

پـه فطـري تو ګـه هغـه خلـک چي بـه یې هـر څـه ورتـه پرېښي وو ډېـر قابـل احتـرام وو. د ګـوتم پـه دور کـي د داسـي خلګـو یـو انجمـن غونـدي جـوړ شـو، هـم دې تـه یـې سنګهـ ویلـو. تـر ټولـو وړومبي پـه دې سنګهـ کي هغـه خلـک داخـل شـول کـوم چـا چي ګـوتم پرېښـي ؤ او "د شـت غـزالا" تـه راغلـي وو. کـرار کـرار نـور خلـک هـم پـه دې کـي داخـل شـول. پـه پیـل کـي پـر داخلـې هیـڅ قسـم رسـم نـهٔ ؤ او نـهٔ قـوانین ورتـه جـوړ کـړل شـوي وو. وروسـتو بیـا د دې د پـاره قواعد جوړ کړل شول او منظم حېثیت یې اختیار کړو.

ولـي چـي صـرف رومـن کیتهولـک مـذهب نـه عـلاوه د دنیـا پـه یـوه مـذهب کـي هـم د سنګهـ غونـدي پـر مـذهبي پیشـواؤ مشـتمل مـنظم جماعـت نـهٔ ؤ. هـم پـه دې توګـه پـه دې کـي د داخلـې اصـول او پـه دې کـي شـامل د راهبـانو ورځنـی ژونـد او د دې علـم د دلچسـپی نـه نـهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي خالي کېدای. په دې لړ تفصیل وړاندې کوو کوم څوک چې په سنګهه کې داخلېږي هغهٔ تر ټولو له مخه داسې اقرار کوي.

**شرائط و طريقه داخله**

(۱) دی د[109]، چهوت[110] په ناروغۍ کې نهٔ دی اخته، نهٔ نری رنځ (دق) نهٔ توره غاړه او نهٔ د میرګي ناروغي لري.

(۲) هغه نهٔ مریی[111] دی، نهٔ قرض دار او نهٔ عسکر.

(۳) هغه خپل ذمه وار خپله دی، هغه په خوښه داخله غواړي.

(۴) دهٔ د خپل مور او پلار[112] نه اجازه اخستې ده.

کله چې درخواست کننده د دې خبرو اقرار وکړي نو به د هغه سر وخرول شي. هغه به پنډې جامې په غاړه کړي، او یو خوا به ګوشه نشین شي او بیا به د تعلیم او عمل په ذریعه دی دا هڅه کوي چې دی به د "ارهت" درجې ته رسېږي.

په پیل کې به د سنګهه ټول غړي برابر ګڼل کېدل، هیڅ مشر کشر نهٔ ؤ، د هیچا هم څه خاص عهده نهٔ وه. لاکن په وروستنی زمانه کې په کراره کراره په دې کې بېلابېل منزلونه

---

109 لومړی قاعده د صحت د روغتیا اصول ده.

110 چهوت: هغه جلدي ناروغي چې د بل انسان د لاس وروړلو سره پر هغه هم لګېږي، د طاعون په شان جلدي ناروغي

111 د دویمي ضابطې نه څرګندېږي چې (الف) په هغه دور کي مریی توب ؤ، او مریی د څښتن ملکیت ګڼل کېدو.(ب) دا ویدي قانون جاري ؤ چې قرض خوا ، قرض دار خرڅولی شي، په دې توګه هغه مریی د دهٔ ملکیت ؤ.(ج) دا هم څرګندېږي چې بدهـ مذهب د حکومت سره تصادم ته نهٔ ؤ تیار.

112 دا قاعده ګوتم بدهـ د راهل په سنګهه کي د شاملېدو پر وخت د شدودهن پر احتجاج جوړه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتاکـل شـول او بېلابېلـي عهـدې جـوړي کـړل شـوې. تـر دې انـده چـي پـه تبت کـي دا وخـت يـوه منظمـه سلسـله کومـه چـي د "دالائـي لامـا" پـوري رسـېږي . پـه لنکـا 4 کـي چـي کومـه طريقـه رائـج ده غـالبـاً تـر ټولـو لرغـوني ده. پـه دې چـي پـه تـري پټـک کـي هـم داسـي ذکـر شـوی دی، د دې خلاصه دا ده.

کـوم د مالـدار سـړی چـي پـه سنګهـ کـي داخلېـدل غـواړي نـو هغـه وخـت بايـد چـي د هغـهٔ عمـرکم از کـم اتـهٔ کالـه وي. لاکـن باقاعـده داخلـه بـه هغـه وخـت ورکـول کېـږي چـي دی د شـلو کلـو شـي. د داخلـې پـر وخـت بـه تقريبـاً د لسـو راهبـانو کومېټـه کښـېني. د دې کــومېټې صــدارت (مشــرتابه) بــه داســي ســړی کــوي چــي تقريبـاً د لسـو کلـو نـه د سنګهـ غـړی وي. د دې کـومېټې د غونـډې د پـاره بـه دوې پـوزی (چټايـاني) يـو بـل تـه مخـامخ اوارېـږي، غـړي بـه پـر دې پـوزو کښـېني او صـدر مجلـس بـه د دې دواړو پـوزو پـه سرکښـي پـر يـوه پـوزه کښـېني. اميـدوار بـه پـه سـاده جامـه کـي "ګردادسـتر" (د پنـډو جـامو غوټـه) پـه لاس کـي داخلېـږي. د دهٔ پـه مـخ کـي بـه يـو داسـي راهـب وي چـي د اميـدوارنـوم بـه پـه سنګهـ کـي د داخلېـدو د پـاره اخلـي. اميـدوار چـي څنګـه صـدر مجلـس ووينـي نـو بـه سـلام ورتـه کـوي، او يـو څـه هديـه (شـکرانه) بـه ورکـوي. بيـا بـه هغـه درې واره د خپلـي داخلـې د پـاره داسـي الفـاظ ادا کـوي او درخواست به کوي چي

" محترمـه ! پـر مـا رحـم وکـړه، لـه مـا څخـه دا جـامې واخلـه او مـا پـه سنګهـ کـي داخـل کـړه چـي زهٔ د غـم نـه خلاصـون ومـومم او نروان (فنا) تر لاسه کړم".

(c) ketabton.com: The Digital Library



صـدر مجلـس بـه د امیـدوار نـه د پنـډو جـامو غوټـه واخلـي او څـه خـاص کلمـات د انسـاني وجـود د فنـا کېـدو د پـاره پـر خُلـه جـاري کـړي او هغـه غوټـه بـه د امیـدوار پـه غـاړه کـي وروا چـوي. امیـدوار بـه یـوې خـوا تـه ګوشـه شـي او خپلـي جـامې بـه وباسـي او هغه پنـډي جـامې بـه پـه غـاړه کـړي. د جـامو د اغوسـتلو پـر وخـت بـه هغـهٔ څـو مخصوصـه فقـرې تکـراروي چـې د هغـه مطلـب بـه دا وي چـې هغـه جـامې صـرف د حیـا او د شـرم د پـاره اغونـدي، پـه دې چـې د یـخ او ګرمـي نـه بـچ شـي. د پنـډو جـامو اغوسـتلو وروسـته امیـدوار بېرتـه د صـدر مجلـس مـخ تـه حاضـر شـي او "درې مـامن[113] او "لـس احکامه" درې درې واره تکراروي.

**درې مامن دغه دي.**

(۱) زهٔ په بدهـ کي پناه اخلم.

(۲) زهٔ په قانون (شریعت بدهـ) کي پناه اخلم.

(۳) زهٔ په سنګهـ کي پناه اخلم.

**لس احکامه دادي.**

(۱) زهٔ قسم خورم چي زهٔ به هیڅ یو جاندار نهٔ وژنم.

(۲) زهٔ قسم خورم چي زهٔ به غلا نهٔ کوم.

(۳) زهٔ قسم خورم چي زهٔ به د ناپاکۍ نه پرهېز کوم.

(۴) زهٔ قسـم خـورم چـي زهٔ بـه نشـه نـهٔ کـوم، هغـهٔ د ترقـۍ او د نېکۍ په لاره کي خنډ جوړېږي.

(۵) زهٔ قسم خورم چي زهٔ به دروا غ نهٔ وایم.

---

113 مامن: (پناه اخستل) د پناه د اخستو هغه اجازیي اقرارونه چي په سنګهـ کي د داخلېدو پر وخت د کومېټې او صدر مجلس په مخ کي به ادا کېږي. مامن بلل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۶) زۀ قسم خورم چې زۀ به په ممنوع (منع کړل شوي) وختونو کې خوراک نۀ کوم.
(۷) زۀ قسم خورم چې زۀ به د اتڼ، سندرې، ډرامه او ساز نه پرهېز کوم.
(۸) زۀ قسم خورم چې زۀ به لاړ (د ګلونو هار) تیل، او زېور به نۀ استعمالوم.
(۹) زۀ قسم خورم چې زۀ به بنګړي او جګ کټ نۀ استعمالوم.
(۱۰) زۀ قسم خورم چې زۀ به د هیچا نه سرۀ زر او سپین زر نۀ اخلم.

د دې سوګند سره امیدوار ودرېږي، دا به تسلیم کړي بیا به د کوټې نه دباندې ووزي نو به هغۀ باقاعده امیدوار جوړشي. هغۀ د سنګهـ د غړو سره او سېدای شي لاکن هغۀ ته تر اوسه بهکشو نۀ شي ویل کېدای. د بهکشو د جوړېدو د پاره به هغۀ څو ورځې د تېرولو وروسته بیا درخواست کوي. بیا به هغۀ د یوې کومېټې مخې ته حاضرېږي. کله چې امیدوار د کومېټې مخې ته ورشي نو هغه خپلې پنډې جامې وباسي او په ساده جامو کې به بیا هغه ټول رسمونه تر سره کوي کوم چې دۀ له مخه ادا کړي وو. لاکن دې ځلې د مامن او د احکام د اقرار کولو وروسته دباندې نۀ شي وتلې او صدر مجلس ته به درخواست کوي چې هغه دې زما ګرو (استاد) جوړېدل قبول کړي. نو چې کله صدر مجلس اظهار د رضا مندۍ وکړي نو به امیدوار یوې ګوشې ته ولاړ شي، چېرې چې به د دۀ په غاړه کې د خیر غوښتني کچکول (د خاورو غټه پیاله) اچول کېږي. بیا یو راهب کوم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دهٔ د داخلې وکیل وي دی د ځان سره کړي او د کومېټې مخې ته به یې حاضر کړي، او په ناستو راهبانو کې به یو دهٔ ته را پورته شي، اوس به درې سره داسې ولاړ وي چې امیدوار به د دوارو راهبانو په منځ کې وي او دواړه رهبان د دهٔ ښي او کیڼ اړخ ته. اوس به دا دواړه راهبان د دهٔ وکیلان بلل کېږي، هغوی به د دهٔ څخه دا پوښتني کوي.

ستا نوم څهٔ دی؟ ستا د ګرو (استاد) نوم څهٔ دی؟ ستا سره د خیر غوښتني کچکول او د بهکشوانو جامې شته؟ تا ته خو څه ممنوع ناروغي نهٔ ده؟ ستا مور او پلار تا ته د داخلې اجازه درکړې ده؟ تهٔ ازاد یې او په خپله خوښه په سنګهـ کې داخله غواړې؟[114]

کله چې د دې ټولو پوښتنو دوی ته ښه مطمئنه ځوابونه ورکول شي نو هغوی و کومېټې ته اطمینان ورکړي چې دی د دې قابل دی چې په سنګهـ کې داخل کړل شي. کومېټه دهٔ ته په سنګهـ کې د داخلېدو اجازه ورکړي، او امیدوار ورته په ګونډو شي او درې واره دا ووایي چې، بهکشوانو! زهٔ له تاسو نه د داخلې اجازه غواړم، پر ما رحم وکړئ او ما پورته کړئ. وکیلان بیا خپلې پوښتني درې واره په زوره تکرار کړي او درې واره د کومېټې نه پوښتنه کېږي چې د چا خو به د امیدوار پر شاملېدو اعتراض نهٔ وي. نو چې کله د چا اعتراض مخې ته نهٔ شي را نو دوی د صدر مخې ته تعظیماً سر کښته کړي او ووایي چې "

[114] Sacread Book of ast,
Vol; 8.Page;230 to 236

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلانـی یـې پـه سنګهـ کـې داخـل کـړو، فلانـی د دهٔ ګـرو دی، کومېټـه د دې سره اتفاق کوي په دې خو خاموشه ده."

د دې مراسمو پـه پـای کـې یـو غـړی ولاړ شـي او د سنګهـ قواعـد اورول پیـل کـړي او و داخـل شـوي امیـدوار تـه هـدایات ورکـړي چـې پـر دهٔ د دغـه قوانینـو پابنـدي لازمـي ده. نـوی راهـب د نـوي ګـرو سـره اوسـي، د هغـهٔ د حکـم تعمیـل کـوي، او د هغـهٔ هـر قسـمه خـدمت کـوي. ګـرو دهٔ تـه د شـریعت تعلـیم ورکـوي او پـر دهٔ پوره حال احوال کوي.

دغسـي مبتـدي (نـوی راهـب) سـمزه بلـل کېـږي. مکمـل او اعلی ترین درجه د سمرن او بهکشو ده.

د سنګهـ د ټولـو غـړو پـه هکلـه ډېر تفصـیلي احکـام ورکـړل شـوي دي کـوم چـې پـه هـره میاشـت کـې د دوی پـه غونـډه کـې وړانـدي کېـږي. د دې احکـامو پـه هکلـه معلومـات پـه پنځمـه صـدی ق،م کـې کېـږي او د دې د صـحیح یقـین کولـو ډېـر اسـباب دي چـې دا ګـوتم خپلـه مقـرره کړي وو.

د دې مختصر تفصیل داسي دی.

(۱) **خـوراک**: راهـب وچ خـوراک صـرف تـر غرمـې خـوړلی شـي. د غرمـې نـه یـا تـر بلـي ورځـې پـوري صـرف شـودې څښـلی شـي یـا ددې غونـدي او بـه ایـز خـوراک. د نشـې نـه پرهېـز واجـب دی. هغـه صـرف هغـه څیزونـه خـوړلی شـي چـې دهٔ تـه پـه خیـر غوښـتني کـې تـر لاسـه شـوی وي. د خیـر غوښـتني طریقـه بـه داسـي وي چـې دی بـه خپـل د خـاورو پیالـه واخلـي او د هـر کـور پـر دروازه بـه چُپـه خُلـه ودرېـږي. کـه چـا ولیـدو او یـو څـه د خـوراک څیـز یـې د دهٔ پـه پیالـه کـې ورواچـوو نـو دی بـه هغـهٔ تـه دعـا کـوي او مـخ تـه بـه روانېـږي، یـا

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـه چُپـه خُلـه بلـي دروازې تـه ودرېږي، د دې خیـال بـه نـهٔ کـوي چـي د کـور څښتن امیـر دی کـه غریـب، بـرهمن دی کـه بهنګـي. دهٔ تـه چـي هـر څـه تـر لاسـه کېږي هغـه بـه خپـل استوګن ځـای (کټـي) تـه وړي، هلتـه بـه کښېني او دا غوښتلی خـوراک بـه خـوري، او د ځـان سـره بـه دا سـوچ کـوي چـي دا وجـود (جسـم) څـومره ازیـت نـاک دی چـي د دې د پاره خیر غوښتني ته انسان مجبور کېږي.

پـه راهبـانو کـي چـي کـوم خلـګ پـر لـوړو مرتبـو دي د هغـوی د پـاره غوښـه خـوړل، پـه مېلمسـتیا تلـل او نـور داسـي خوراک کول ممنوع دی کوم چي بغیر د خیر غوښتني وي.

(۲) **استوګنه**: د اسـتوګني د پـاره یـې ښـه ځـای ځنګـل ښودلی دی. لاکـن راهبـان بـه پـه زیاتـه پـه بـاغونو کـي اوسېدل. د ګـوتم پـه دور کـي دولـت منـدو او عقیـدت منـدو د دهٔ او د راهبـانو د پـاره داسـي ځایونه (متهـ) جـوړ کـړي وو. داسـي ځایونـه وروسـته بیـا نـور هـم جـوړ شـول. د ګـوتم پـه پېروي کـي څلـور میاشـتي هـم پـه داسـي ځـایونو کـي د استوګني حکـم ؤ، نـوري اتـهٔ میاشـتي بـه پـه تبلیغ کي تېرول لازمي ؤ.

(۳) **جامـه**: د دې پـه هکلـه داسـي هـدایات دي چـي څـومره چـي کېـدای شـي د خلګـو غورځـولي، څـري، زړې جـامې دي اغونـدي. لاکـن د ګـوتم پـه زمانـه کـي د راهبـانو د پـاره پنځـه جـامې متعـین شـوي وې. دا جامـه پـر درو کپـړو مشـتمله ده. لنګـوټ (د چـډې پـه شـان)، تهبنـد (لنګ) او اوږد څـادر چـي د پښـې سـره داسي راچاپېره شي چي بیا هغـه پـر کینـي ورېږي واچـول شـي او ښـې وږه لڅـه ښـکاره وي. دا درې سـره کپـړې پـه خـاص طریقـه پرېکـول

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي او يا ګنډل کېږي چي وروسته بيا دا په نور مصرف کي رانۀ شي او د زينت (ښائست) سبب ونۀ ګرځي.

**(۴) پرهېزګاري او لوړه** : د راهبانو د پاره جنسي تعلق قطعي منع دی. د دې د ګناه درجه د غلا او د قتل برابره ده. که په دې ګناهونو کي څوک د سنګهـ غړی راغی نو هغه به د سنګهـ نه ايستل کېږي. د لوړي په هکله هم ډېر سخت احکامات دي. راهب په يو وخت کي هيڅ کله هم د اتۀ څيزونو نه زيات نۀ شي ايښودلی. يعني درې سراؤ کپړو سره يعني، لنګوټ، تهبند، څادر، يو کمربند، يو د خير غوښتني پیاله، يوه استرا، يوه ستنه او يو چاڼ. دا اخري الذکر په دې ايښوولی شي چي هر د څښلو څيز به په کي چڼي او بيا به يې څښي. داسي نۀ چي يو جاندار د دۀ په معده کي ولاړ شي او داسي نۀ چي يو راهب په ناخبری کي د يوه جاندار د هلاکت باعث جوړ شي.

**(۵) فرمانبرداري (اطاعت)** : اطاعت صرف د شريعت لازمي دی. د يوه بزرګ يا د ځان نه مشر به صرف تعليم او تکريم ورته کافي دی. هيڅ يو نوی اميدوار يو زوړ او لوی راهب خپل د حکم پابند نۀ شي جوړولای. ګني په هغۀ به په دې سلسله کي د حکم عدولي الزام ولګېږي. لکه څرنګه چي د افسر ماتحتي د ملازمانو له خوا کېږي په بدهـ مذهب کي داسي هيڅ نشته.

د يو نوي راهب د ورځني ژوند بيان په " ونيا چرياؤ " کي داسي راغلی دی.

" هغه به د لمر راختو نه مخ کي راپورته کېږي او لامبي به. بيا به په وهار (بدهـ مندر، بدهـ عبادت خانه) کي جارو لګوي. بيا به د بودهي ونې (درختي) د بېخ خاوره (تهالا) صفا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـوي او د ښښلو او بـه بـه ډکـوي، هغـه بـه چېـي او د اسـتعمال قابـل بـه يـې جـوړوي. بيـا بـه پـه يـو تـک تنهـا ځـای کـي کښـېني او پـر احکـام شـريعت بـه غـور کـوي. بيـا بـه د بـاغ نـه ګلونـه شـو کـوي او هغـه بـه پـر دې منـدر اچـوي چېـري چـې د بدهـ يادګـار ښـخ دي. کلـه چـې ګلونـه پـر پاشـي نـو بـه دا سـوچ کـوي چـې ګـوتم بدهـ څـومره جليـل القـدر او عظـيم الامرتبـه انسـان ؤ او دی خپلـه څـومره بـې ايمانـه او ذليـل دی. د هغـې نـه وروسـته بـه دی د خيـر غوښـتني کچکـول اخلـي او د خپـل ګـرو سـره بـه خيـر غوښـتني تـه ځـي. د هغـه ځـي نـه چـې راشـي نـو بـه او بـه راوړي او د خپـل ګـرو پښـې بـه وروميـنځـي او هغـهٔ تـه بـه ډوډۍ ورکـوي. د هغـهٔ د خوړلـو وروسـته بـه دی خپلـه ډوډۍ خـوري او دواړه کچکولونـه بـه مينځـي. بيـا بـه تـر يـو سـاعت پـوري يـو ځـای کښـېني، د بدهـ او د هغـه پـر تعليمـاتو بـه غـور کـوي، بيـا بـه يـو مـذهبي کتـاب راواخلـي د خپـل ګـرو نـه بـه سبق واخلي يـا بـه د دې کتـاب نقـل کولـو تـه کښـېني او هـر وخـت بـه په دې کي ليکلي احکام، معنا او مطلب باندي غور کوي.

**د دهيان قسمونه**

د پلويـانو پـه وجـه بـه د ګـرو ډېـر وخـت بچـت شـي. دا ټـول وخـت به هغه په دهيان کي تېر کړي. د دې دهيان پنځه قسمونه دي.

(۱) پتـا بهاؤنـا (د مينـي دهيـان) : پـه دې دي غـور وکـړل شـي چـي د مصـيبت او سـتونزو څخـه ډک ژونـد نـه خلاصـون او خوشـحالي بـه څنګـه تـر لاسـه کېدای شـي او کـه دا رنګـه خوشـحالي دنيـا تـه ورکـړل شـي نـو هغـه بـه څـومره ښـه وي، يعنـي د دهيـان کولـو والا دي خپـل زړهٔ د خلګـو د مينـي نـه دومـره ډک کـړي چـي وغـواړي نـو بـه ټـول جانـدار د مصـيبت او سـتونزو نـه خـلاص شـي او حسـرت او خوشـحالي بـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومومي. مختصرداچې هغهٔ به د ټول دنيا دميني نه خپل زړهٔ ډک کړي او د ټولو به ښېګړه غواړي.

(۲) کرونا بهاؤنا (د همدردۍ دهيان): د دهيان کولو والا به دا سوچ کوي چې دنيا د غم او وهم نه ډکه ده، او د دې هڅه به کوي چې د ټول عالم مجبوره او مهجوره خلګو تکليف محسوس کړي، او په دې توګه د هغوی د پاره په خپل زړهٔ کې همدردي پيدا کړي.

(۳) مديتا بهاؤنا (د خوشحالۍ دهيان): د نورو خلګو د خوشحالۍ خيال به ساتي، او د هغوی د خوشحالۍ نه به مسرت مومي.

(۴) اسوبهـ بهاؤنا (د نجات ،خلاصون دهيان): په دې به غور کېږي چې وجود څومره خراب څيز دی، او هغه څرنګې د ناروغۍ او مرګ سره مخه کېږي، او د دې د پابنديو نه خلاصون څومري قدر ضروري دی.

(۵) اپکشا بهاؤنا (د دماغي اطمينان دهيان): په دې دهيان کې به درويش يا راهب د ټولي دنيا ښېګړي، بدياني، رنځ، خوشحالۍ، روغتيا، ناروغتيا، دولت، مسکيني وغيره باندي به غور کوي، او دا هڅه به کوي چې د دې ټولو خبرو پر دهٔ باندي څه اثر ونهٔ شي.

**د راهبانو دسره د ګوتم اخري خطبه**

په دې سلسله کې د ګوتم اخري خطبه قابل ذکر ده کومه چې هغهٔ د مرګ نه مخ کې په "کوټا ګاره هال" کې د راهبانو د راجمع کېدو پر وخت کړې وه. موږ د دې خطبې ته د سنګهـ د فرائضو مغز ويلای شو. په "بدهـ سوتر" کې چې د کومو الفاظو نقل شوی دی هغه دا سي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوتم وویل "اې دروېشانو! دغه قانون (شریعت) کوم چې ما پر تاسو ظاهره کړی دی ښه یې په یاد کړئ. په دې عمل وکړئ، دا مکمل کړئ او د دې تبلیغ وکړئ چې زما مذهب په دنیا کې د همدردي، دیوتاګانو او د خلکو د پاره تر ډېرو ورځو پاتې شي. دا قانون (شریعت) څه دی؟ دا څلور مخلصه مراقبې دي، څلور غټې هڅې دي، تر بودهیت پورې څلور واټه (سرکونه) دي، پنځه اخلاقي طاقتونه دي او افضل و اشرف اته اړخیزه لاري دي."

په دې جامع فقرو کې چې څه ویل شوي دي هغه ډېر تفصیل طلب دي، او په دې مختصر کتاب کې د ومره ګنجائش نشته. په دې د دې معناوي په مختصره توګه بیانولو باندې اکتفا کوو.

(۱) اته اړخیزه لار: دا تعلیمات د بدهـ په سلسله کې بیان شوي دي.

(۲) څلور مخلصه مراقبې: (ستهي پتهانا) دا دي.

(الف) د وجود د کثافت (نجاست، پنډوالي) په هکله.

(ب) د هغه ګناهو په هکله چې د احساس په وجه پیدا کېږي.

(ج) د خیالاتو او تصوراتو غیر مستقل او غیر مستحکم کېدو په هکله.

(د) د ژوند د حالاتو او پابندیو په هکله.

(۳) څلور غټې هڅې: (سمبدهانا) دا دي.

(الف) د دې هڅه چې بد صفات نهٔ شي پیدا.

(ب) د پیدا شوو بدو صفاتو نه ډډه کولو هڅه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ج) غیر موجود ښېګړي ېېرته په وجود کې د راوستلو هڅه.

(د) د دې ښېګړو زیاتوب او ترقي کومي چي موجود دي.

(۴) د ولایت څلور لاري (ادهي پدا) یعني د ولایت څلور پایې (زینې، سېړۍ) دي.

(الف) د ولایت تر لاسه کولو مستحکمه اراده.

(ب) د دې تر لاسه کولو هڅه.

(ج) د دې د حصول د پاره د زړۀ پاکي (طهارت).

(د) تلاش حق (د حق لټون).

(۵) پنځه اخلاقي طاقتونه: (پلاني) یا ذهني صلاحیتونه(اندرپالي) دا دي.

(۱) اعتقاد (ایمان، یقین، مذهب)

(۲) سرګرمي

(۳) یاد

(۴) غور

(۵) وجدان

د دې پنځه واړه اخلاقي طاقتونونه د اعتقاد ماسوا څلور نور صفتونه شاملوو. یعني څېړنه (تحقیق) کتب مذهب، مسرت، اطمینان و سکون او وجدان په دې کې ګڼو. دې ته اووه پوهي (بودهي رنګونه) ویل کېږي.

په دې اړه دوې طریقې د راهبانو د وجدان د پاره ښودلي شوي دي او دې ته "جهان" او "سمادهي" ویل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱)**جهان**: دا د پالي ژبې ټکی دی، په سنسکرت کې د دې مترادف ټکی دهیان دی، په عربي کې دې ته استغراق ویل کېږي او په پښتو کې یې معنا د "خدای په یاد کې ورکېدل" دي. د دې جهان څلور منزلونه دي.

۱، لومړی منزل د خوشحالۍ او مسرت هغه حالت دی کوم چې په دې تنهائي کې پیدا شوی دی، کوم چې به په غور او فکر کې تېرېږي.

۲، دویم منزل هغه کېفیت او سرور دی کوم چې د اطمینان او عمیق (ژور، کامل) نه پیدا کېږي، چېري چې د غور او تامل (برداشت) واسطه نشته. په داسې حالت کې په خیال کې اسودګي او انکشاف وي.

۳، درېیم منزل هغه اسودګي ده کومه چې د نفس د خواهشاتو په وژلو پیدا کېږي، په کوم کې چې د مسرت څپې په ټول وجود کې غورځنګ وهي، په کوم کې چې قناعت، یادونه او خوشحالیاني دي.

۴، څلورم منزل هغه دی په کوم کې چې بې اثري لا تعلقي تر دې حده وي چې، نه خو د یو امر خوشحالي وي او نه د کومې خبرې غم. هلته د مسرت، رنځ د دواړو وجود نه وي او نه د دغو څه اثر.

په لومړي جهان کې درویش په یوه دقیق مذهبي نکتې باندې غور کوي، فکر کوي او هر اړخیز نظر پرې اچوي. په کراره کراره د ده د دماغي ستونزې په تلو شي او انکشافي کېفیت پیدا شي. د دې کېفیت د پیدا کېدو سره دویم منزل پیل شي، په دې چې موضوع غور او فکر د ده د ذهن نه غائب شي او د دې پر ځای یوه لویه خوشحالي په ټول وجود کې محسوسېږي. یوه بې خودي خوره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې کېفیت نه درېیم منزل پیل شي. لږ ساتوروسته دا احساس مسرت هم په تلو شي او صرف د هغه یادونه پاتې شي او پر سالک هغه کېفیت خورشي چې نهٔ خویوه خوشحالي پاتې شي او نهٔ یو رنځ. بلکې پر دهٔ بې پروائي او استغنا (بې فکري) خوره شي، او دا تکمیل ریاضت دی. دې ته "ابها" ویل کېږي او دا د ارهت درجه ده.

(۲) **سماهي**: دا هم هغسي په یو رنګه د سمریزم (ورد) ریاضت دی. د کوم په ذریعه چې پر خپل ځان داسي کېفیت را ولي چې هر رنګه احساس په وختي توګه ورک شي او انسان د وجود او وجودیت نه ځان منزه (د عیبو نه پاک) محسوس وګڼي. د دې ریاضت په وجه هغه کېفیت پیدا کولای شي په کوم کې چې یو ژوندی انسان د مړي په څیر معلوم شي او د لږ سات د پاره په دهٔ او په مړي کې هیڅ فرق نهٔ محسوسېږي. د داسي مهارت د ترلاسه کولو په هکله په بدهـ مذهب کې پر وجود باندې تر ټولو لویه فتح بلل کېږي. او "تبت لاما"[115] په دې کې ید طولیٰ (کمال مهارت) لري.

د دې ریاضتونو په هکله دومره ویل ضروري دي چې دا د ګوتم بدهـ نه مخ کې په هندوستان کې وو، او خپله هغهٔ د جپ تپ (پرستش، بندګي) په وخت کې دا ازمایلي وو او بیا یې پرېښي وو. نو یقیناً دا د ګوتم بدهـ نه وروستو د برهمنو په مقابله کې شامل کړل شوي دي، او دا د بدهـ مذهب اصل جز ګڼل غلطي به وي.

[115] لاما: د تبت د بدهـ مذهب پېشواؤ لقب.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باب، ۵

## تبدیلیانی او زیاتوب

په تېرو پاڼو کي د بدهـ د تعلیماتو په هکله بحث وشو چي د دې مذهب تر ټولو لرغونو کتابونو کي موندل کېږي. لکه څنګه چي لیکل شوي دي چي په خپله د ګوتم د زماني هیڅ لیکلي اثار نشته، تر مورږ چي رارسېدلي دي هغه د تري پټک ژباړه پسې ژباړه پسې ژباړه ده، کوم چي درې سوه کاله وروسته د اشوک په دور کي د نظم په شکل کي لیکل شوي ؤ. او د دې منبع (چینه) صرف حفظ ؤ. په دې کي شک نشته چي په آریا قوم او خصوصاً په دې هندوستاني ښاخ کي حفظ کول باقاعده د یو فن په حېث ګرځېدلي ؤ، او پوره پوره کتاب یادول دوی ته هیڅ خبره نۀ وه. بیا هم د ژبې، لهجې، تلفظ او د الفاظو د ردو بدل نه انکار نۀ شي کېدای. او د ژباړي په وخت یوه ساده خبره تر کومه ځایه ورسېږي. د تحریف (بدلولو) او افساني امکان هم شته، او د هنیان[116] او ماهنیان فرقو د تفسیرونو اختلافاتو ګنجائش هم شته.

مورږ تر دې وخته د دې خبري هڅه کړې ده چي هغۀ خبري بیان کړل شي پر کومو چي د ټولو اتفاق دی.

### متفق علیه (د ټولو رائې او خوښه) امور و نتائج

(۱) د دې متفق علیه امورو د مطالعې نه چي کوم امور مخي ته راغلي هغه دا دي چي ګوتم بدهـ د خدای د وجود نه

[116] بدهـ مذهب سلګونو کلونو وروسته په اتلس فرقو کي تقسیم شو. لاکن په دې کي دوې غټې فرقې دي. یوه " هنیان (ورکوټې ګاډی) دویمه ماهنیان(لویه ګاډی)" . د لنکا او برما خلک هنیان دي. د تبت، چین، جاپان او د شمالي بدهـ د ماهنیان منونکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انکار نهٔ دی کړی، لاکن هغهٔ د دې په هکله څه واضح خبره هم نهٔ ده کړې، د کوم په وجه چې د دهٔ و منونکو ته هدایت شوی وای.

(۲) هغه د روح نه انکار خو کړی لاکن د تتائجو منونکی ؤ. دغه مسئله بغیر د روح د وجود د تسلیمولو یو ګام هم مخته نهٔ شو تلی. په دې دهٔ د دې د حل د پاره د کرم نظریه رامخته کړه او دا یې په یوه توګه غیر فاني وګرځوله او ورسره یې په وجود کې د راوستلو باعث وګڼله. لاکن هغهٔ د دې سوال هیڅ ځواب نهٔ وویلو چې انسان وړومبې ځل ولې په وجود کې راغی؟ هغه وخت خو هیڅ کرم نهٔ ؤ، بیا نو هغه څهٔ وجه وه چې بیا عناصر و صفات د رجحاناتو سره جمع کړل شول او یو ژوند یې وبخښی؟

(۳) هغهٔ د دیوي او دیوتاګانو دنیا تسلیمه کړه، لاکن هغهٔ دوی هم د کرم پابند، او د انسان غوندي فاني یې وګرځول. لاکن نهٔ خو هغهٔ د دیوي او دیوتاګانو پر ژوند څه رڼا واچوله او نهٔ یې د انسانانو او د دوی تر منځ څه فرق ښودلو ضرورت محسوس کړو.

(۴) هغهٔ د انسان تر ټولو لویه ترقي نروان (فنا) تر لاسه کول وښودل. یعني په اطمینان او سکون سره ژوند او د تل د پاره فنا. دې څیز د انسان د ترقۍ، د ښهٔ نه ښهٔ جوړیدلو فطري خواهش واخستی. په هندوستان کې چې څومره مذاهب وو هغه د دې منونکي وو چې،

ژباړه

له دریاب نه ؤ راوتی دا ګوهر
بېرته ورک شو په دریاب کې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوی د اسې نروان چې دوی د ابدي پر ځای خاک نشين کړي په هيڅ توګه د سکون جوګه نۀ شي کېدای.

(۵) هغۀ د رسم مخالفت وکړو. د ذات د فرق نه يې انکار وکړو، او په سنګهـ کې يې نائي او بهنګي دواړه داخل کړو. دا د آريائي روايـاتو او مزاج خلاف ؤ. آريا همېشه د نسل د پاکۍ تر حده زياته خيال ساتي. هغوی ځان تر نورو قومونو ښۀ او لوړ ګڼي، او هغوی د دود، کلتور او نخښو ډېر زيات منونکي دي. په دې لـه سره په دې مذهب کې ډېري داسې نيمګړتياوي وې چې په دې کې د تبديلۍ او اضافې بغير پاته نۀ شو.

په پيل کې د جپ تپ (عبادت، بندګي، پرستش) نه ډېر کول او د وجود سختۍ خلاف ؤ، خو وروسته د دۀ د بهکشوانو د ګوتم په ژوند کې چې کومه تنظيمي بڼه خپله کړه په دې کې جپ تپ، وجود آزاري ټول موجود دي. بهکشوان به راهبانه ژوند تېروي. د جنسي خوند نه به محروم وي. خير به غواړي. زړې شـري جامې به اغوندي. پر نرمه بستره به نۀ پرېوزي. خوشبو، عطر، غوړ به نۀ استعمالوي. صرف تر غرمې به وچ خوراک کوي، او بيا به تر ډېره وږي اوسي. دا ټوله د اسانۍ برعکس د وجود ازارۍ صورتونه دي. په دې توګه مختلف جهان جپ تپ دي. لاکن د ګوتم شخصيت، د دۀ عامه همدردي، د راج کمار (شهزاده) اوسېدو باوجود د يوه بهکشو غوندي ژوند تېرول د دۀ د وجاهت او علمي قابليت يوه خاصه غوښتنه درلوده او د دۀ په مخ او ژوند کې د دۀ تعريف يا زيان را ايستل ډېر زړور کار ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د اختلافاتو پیل**

بیـا هـم د دهٔ پـه ژوند کښـي د اختلافـاتو علامـات موجـود وو. د بهنګـي پـه سنګهـ کـي د داخلي پـر وخـت د لـوړ ذات غـړو ډېـره بـده وګڼلـه. "جګـال" د دهٔ خـلاف راهبـان وپـا رول. دیـودت خـو مخـامخ بغـاوت کـړی ؤ. کلـه چـي ګـوتم مـړ شـو نـو پـه تجهیـز او تکفـین کـي جګـړه پیـل شـوه، تـر دا انـده چـي د دهٔ مـرګ سـل کالـه وروسـته د "ویسـالي" پـه مقـام یـو کونسـل وشـو نـو پـه سنګهـ کـي بېخـي پـر وړو وړو خبـرو جګـړې پیـل شـوې. د بېلګـي پـه توګـه چـي د ښـکر پـه لوښـي کـي مالګـه ټولـول جـائز دي کـه نـهٔ. د غرمـې دا وخـت خـوړلی شـې کـه نـهٔ. کلـه چـي لمـر دوې ګـوتي شـاته ولاړ شـي یعنـي د غرمـې نـه د ماسپښـین خـوا تـه نـو مسـتې (ماسـته) خـوړلی شـې کـه نـهٔ. د بهنګـو اسـتعمال جـائز دی کـه ناجـائز. چټـائي یـا ریلـۍ کـه بـې کناره (غـاړه) وي نـو د هغـه د پـاره مقـرره اوږدوالـی جـائز دی کـه نـهٔ. د سرهٔ زرو او سپینو زرو ایښودل جائز دی که نهٔ[117] وغیره.

غـرض نـوي نـوي قـوانین جوړشـول، د ګـوتم الفـاظو نـوي جـامې واغوسـتې. بدهـ مـذهب هـره ورځ یـوه نـوې ځُغـه بدلولـه، او پـه لـږو ورځـو کـي دومـره اضـافې وشـوې چـي د هـر هېـواد بدهـ مذهب د بل هېواد د بدهـ مذهب نه بېل شو.

**د ګوتم نه مخ کي بدهیان**

تـر ټولـو لـه مخـه چـي کومـه خبـره د ګـوتم پـه هکلـه وویـل شـوه هغـه دا وه چـي ګـوتم پخپلـه ویلـي ؤ چـي "زهٔ پـه خپلـو پـښ رو بـدهیانو کـي یـو یـم". چـي معنـا یـې دا شـوه چـي د دهٔ نـه مـخ کـي ډېـر بـدهیان راغلـي وو، او د دهٔ نـه وروسـتو بـه هـم راځـي. نـو پـه دې

[117] لاله لاجپت رائ

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه دا وویل شو چي یو بدهـ په دنیا کي راشي، د حقیقت او رښتونولۍ لاره وښايي. لاکن کله چي دنیا د دهٔ تعلیمات هېر کړي نو بیا بل بدهـ راشي، بیا هغه راهنمائي کوي. په دې توګه بدهیان راځي. د ګوتم په هکله ویل کېږي چي هغهٔ څلرویښتم (۲۴) بدهـ دی. دهٔ نه مخ کي درویښت (۲۳) بدهیان راغلي دي. د ګوتم نه مخ کي چي کوم بدهـ راغلی ؤ د هغه نوم "کسیپ" ؤ او د هغه تعلیمات چي په "سوت پټک" کي دي د ګوتم د تعلیماتو سره ډېر ورته والی لري. نو په دې توګه د کسیپ او د دهٔ پېش رو بدهیان منونکي په هندوستان کي سراوستي ته نږدې تر څلورمي صدۍ عیسوي پوري موجود وو، او فاهیان د دې خلګو ذکر کړی دی. دا خلګو ګوتم بدهـ نهٔ منلو بلکې مرتد یې ګڼلو او د دې منونکي وو چي یو بدهـ به راځي چي نوم به یې "ستر بدهـ یا د رحمت بدهـ"[118] وي.

د ګوتم په هکله دا خبره هم مشهوره وه چي هغهٔ اعلم (لوی عالم، په ډېرو څه خبر) او معصوم ؤ. د دهٔ د زوکړي په هکله داسي کرامتونه او د معجزو یقین خلګو ته وښودل شو کوم چي د برهمنو د خپلو دیوتاګانو په هکله وو او کوم چي د هر

[118] عیسائیانو راتلونکي "متریه بدهـ" ته د مسیحؑ نوم ورکړی دی او هغوی بدهـ مذهب خلګو ته وایي چي حضرت عیسیؑ متریه بدهـ دی. مسلمانان د دې مذهبي پیشګوئي په هکله په ښه انداز ویلای شي. ولي چي د قرآن له رویه د رسول کریمؐ تعریف هم رحمت اللعالمین دی، د متریه بدهـ سره هم معنا دی. هسي هم د مسلمانانو دا عقیده ده چي د نبي کریمؐ د راتللو نه مخ کي ټولو غټو مذهبي کتابونو کي د دهٔ ؐ د راتلو اطلاع موجوده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـذهب د بانیـانو پـه هکلـه د هغـوی پـه مـذهبي کتـابونو کـي بیـان شوي دي.

**ګوتم د اولوهیت پر درجه**

دا خبـره هـم کېدلـه چـي ګـوتم خپلـه د انسـان زوی نـهٔ ؤ .هغـهٔ خپلـه د یـو سـپین فیـل (هـاتهي) پـه شـکل د مـور پـه نـس (رحـم) کـي داخـل شـو. کلـه چـي هغـه وزوکېـدی نـو ځمکـي او اسـمان هغـهٔ تـه سـجده وکـړه، ونـه خپلـه کـږه شـوه او د دهٔپـر مـوریـې سـوری جـوړ کـړو او دیوتاګـانو د دایـانو کـار ترسـره کـړو. ولـي چـي د دهٔ د مـور د نـس نـه د داسـي جلیـل القـدر هسـتي د زوکـړي نـه وروسـته د بـل اولاد زوکـړه مناسـبه نـهٔ وه. پـه دې هغـهٔ د ګـوتم د زوکـړې پـر اوومـه اسـمان تـه پورتـه کـړل شـوه. کلـه چـي هغـهٔ د مـور و نـس (رحـم مـادر) تـه راغـی نـو دودیـرش (۳۲) علامتونـه ظـاهر شـول. لـس زره نـړی (دنیـاوي) د رڼـاؤ نـه ډکـي شـوې، ړنـدو سـترګي ومونـدلې، ګونګیـانو ژبـې، او کڼـو تـه غوږونـه، کـاږه سـیدها شـول، ګـوډ پـر ګرځېـدو شـول او بنـدیان ازاد شـول. ټـول فطـرت پـه مسـکا شـو، د ځمکـي او اسـمان ټـول مخلـوق خوشـحاله شـو. د دوزخ اور سـوړ شـو، د معصـومینو پـه عـذاب کـي کمـی راغـی. هغـهٔ لـس میاشـتي د مـور پـه نـس کـي داسـي چـارزانو ناسـت ؤ چـي د هغـه نـوري مجسـمه صـفا ښـکاره کېدلـه او هغـهٔ پـه دې حالـت کـي دیوتاګـانو تـه تعلیـم ورکولـو او د حق خبره یې ورته کوله.

**معجزات**

د زوکـړي نـه وروسـته هغـهٔ اووه ګامـه روان شـو او پـه لـوړ غـږیـې دا وویـل چـي " زهٔ د ټـول عـالم مختـار او مالـک یـم او دا زمـا اخرنـی ژونـد دی". کلـه چـي د زوکـړي وروسـته د مـذهبي رسـوماتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطابق وړومبي ځل مندر ته د دیوتاګانو مخې ته یې یوړو نو تول بتان د دهٔ په تعظیم کې ولاړ شول او د دهٔ په پښو کې په سجدو پرېوتل. کله چې د دهٔ د تعلیم د پاره د لیرې لیرې نه استادان راوغوښتل شول نو هغوی په وړومبي ورځ دا معلومه کړه چي هغهٔ په هر فن او علم کې د خپل استادانو نه ماهر او کامل دی. په ژوند کې یې هم داسې ډېرې معجزې بیانېږي، د بېلګې په توګه هغهٔ څو واره د یو ځای نه تر بل ځای پورې په الوتو تللی ؤ. تخیل یې تر دا ځای پرواز وکړ چې د تبلیغ په شپږم کال کې هغهٔ په الوتو تر اسمانه ورسېدی چېرې چې هغهٔ په تشنه دیولک[119] کښې خپلې مړې مور ته د شریعت تعلیم ورکړو.[120]

د ګوتم د مړ کېدو نه وروسته کله چې د دهٔ یو مرید " کاسیپ " دا خواهش وکړو چې کشکې دهٔ د ګوتم د پښو یو وار زیارت کړی وای په کوم چې د چکروتي راجاګانو علامات او نخښې موجودې وې نو د ګوتم پښې پخپله د کفن نه راووتې او چې کله هغهٔ خپلې سترګې پر ولګولې نو بېرته داسې په کفن کې دننه شوې چې نهٔ خو یوه غوټه خلاصه شوه او نهٔ یو ځای کفن څیرې شو.

د دې سره سره په هر ځای کې د بدهـ عقیدت مندانو د خپل هېواد برترې ښکاره کولو په خاطر د ګوتم په ژوند کې یې د داسې واقعاتو اضافه کړې ده چې نهٔ خو یې عقل مني او نهٔ څه

[119] تشنه دیولک: د بودهي مذهب مطابق په اسمان کي هغه ځای چېرې چي د مړو ارواح اوسېږي

[120] بهګوان ګوتم بده (هندي) مصنفه جناب بودها نند جي او پنډت چندر کاپرشاد جي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـاريخي ثبـوت لـري. د بېلګـي پـه توګـه د لنکـا خلګـو پخپلـو مـذهبي کتـابونو کـي دا ليکلـي دي چـي ګـوتم درې ځلـي لنکـا تـه راغلـی دی او د هغـهٔ غـابن پـه لنکـا کـي ښخ دی. دوی دا خبـره کـوي چـي د ګـوتم د سـوځولو وروسـته" ارهـات کـتم " د دهٔ غـابن د چتـا (د سـوځولو ځـای) نـه راواخسـتو او دا مقـدس يادګارونـه يـې لنکـا تـه راوړو. د برمـا او د سيام خلـګ هـم د خپلـو هېـوادو پـه هکلـه د داسـي واقعـاتو او يادګـارو مـدعي دي او ښـه مالګـه مصـالحه پـرې لګـوي او فرضي قصې د واقعاتو په حېث بيانوي.

د "ماهنيـان" فرقـې خلـګ کـوم چـي پـه تبـت، نېپـال، چـين، جاپـان او پـه منګوليـا کـي اوسـېږي دې مـذهب تـه يـې داسـي جامـه ورپـه غـاړه کـړې ده کـوم چـي د "هنيـان" فرقـې خلـګ يعنـي د لنکـا او برما بدهيانو د اعتقاداتو نه بالکل بېل ځيز جوړ کړی دی.

**قطبي (شمالي) بدهيان اوګوتم**

د دې شـمالي بـدهيانو پـه نـزد د دهيـان (اسـتغراق، د خـدای پـه يـاد کـي ورکېـدل) پنځـه منزلونـه دي، او د دې دنيـا پورتـه د ديوتاګـانو دنيـا ده. او د هغـې پورتـه د برهمـا شـپاړس دنيـاوي يـا بـرهم لـوک دی. د هـر دهيـان سـره درې بـرهم خلـګ تړلـي دي. کـوم سـړی چـي د اسـتغراق منزلونـه پـه دې دنيـا کـي تـر سـره کـړي هغـه نهـم بـرهم لـوک (عـالم ارواح) تـه ورسـېږي. څـوک چـي څلـور دهيانـه پـوره کـړي هغـه لسـم يـا يوولسـم بـرهم لـوک تـه ورسـېږي. نـور لوکونـه هلتـه پـه دهيـان سـره تـر لاسـه کېـږي. د هـرو درو لوکـو سـردار يـو دهيـاني بدهـ دی او ټـول بـرهم لـوک هـم پـه دغـه پنځـو دهيـاني بـدهوانو بانـدي تقسـيم دي. د هـر دنيـاوي بدهـ يـو همـزاد دهيـاني بدهـ وي. هغـه دنيـاوي بدهـ فـاني دی، لاکـن سـماوي (ابـدي) بدهـ يعنـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهیاني بدهـ پاته وي. پنځه دنیاوي بدهیان هغه دي په کوم کې چې درې د ګوتم نهٔ مخ کې راغلي دي، څلورم ګوتم خپله دی او پنځم " متریه بدهـ " راتلونکی دی. ولې چې د دهیاني بدهیانو تعداد غیر محدود دی. په دې دا سوال پیدا کېږي چې په پنځه بدهیانو کې برهم لوک ولې تقسیم دی؟ د دې ځواب دا ورکول کېږي چې دا دنیا په وار وار ورانېږي او جوړېږي او تر دې میعاده ترڅو چې دا دنیا ده. دې ته کلپ (د خدای یوه ورځ، چې زر کاله ده) ویل کېږي. په کلپ کې صرف پنځه دهیاني بدهیان او د هغوی اوتار (پیغمبران) دنیاوي بدهیان وي. د دې موجود کلپ پنځه بدهیان دي. د تبت او نېپال د بدهیانو د دې نظریې نه هیڅ تسکین ونهٔ شو. هغوی په لسمي صدی عیسوي کې په دې سلسله کې یو واجب الوجود بل زیات کړو چې ورته "ادي بدهـ " ویل کېږي. د دوی عقیده دا ده چې ادي بدهـ کوم چې همېشهٔ او همېشه به یې د پنځه دهیانو په ذریعه پنځه دهیاني بدهیان د ځان نه پیدا کړل (یعني د خپل وجود نه). دې دهیاني بدهیانو د خپل عقل او قوت فکر په ذریعه له خپل ځان نه پنځه بدهستو پیدا کړل. دې بدهستو بیا خپل د عقل و دانش نه کار واخستو او په یو غیر مادي جوهر کې یې یوه مادي دنیا پیدا کړه. زموږ دا موجوده دنیا د څلورم بدهستو تخلیق کرده ده. د کوم نوم چې " اولوکي تسور " دی. او دغه د تبت دلائي لاما په صورت کې ظاهرېږي.

**سرحدي بدهـ:** د سرحدي بدهیانو پردې هم تنده ماته نهٔ شوه.هغوی د مړي کول (قتل کول) عادیان ول او د "شیوجي"

(c) ketabton.com: The Digital Library



پجاريـانو[121]. نـو بيـا چـي کلـه "اسـنګ راهـب" هلتـه پـه شـپږمه صـدۍ عيسـوي کـي بدهـ مـذهب خـور کـړو نـو دۀ دې مـذهب تـه يـو بـل رنـګ ورکـړو. اسـنګ د بـدهو بـرهم لـوک يـو څـه خـاص لـوک سـرحدي ديوتاګـانو تـه ورکـړل او سـرحديانو تـه يـې وويـل چـي دا ديوتاګـان هـم د بدهــ پجاريـان او د "لـوکي تسـور" منـونکي دي. دې سـړي کـوډي (جـادو) منتـر زده کـول هـم د بدهـ مـذهب پـه رياضـت کـي شـامل کـړو. د دې نتيجـه دا وختـه چـي پـه بدهــ منـدرونو کـي د مختلفـو ديوتاګـانو و بتـانو مخـي تـه عبـادت کـول يـو رواج جـوړ شـو او صـرف دغسـي هغسـي رسـمونه د مـذهب جـز نـۀ بلکـې باقاعـده منتـر ويـل او څـه کـوډي ووډي کـول د بدهـ مـذهب خـاص عناصـر جـوړ شوې.

---

[121] په موهنجوداړو کي چي کوم اثار موندل شوي دي، دې نه ثابتېږي چي د شيو د آرياؤ نه مخ کي دراوړ منونکي وو او آريا چي راغلل نو يې خپل کړ.
وګورئ د ډاکټر ايشوري پرشاد (تاريخ هند) مخ ۱۴ او ۶۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



باب، ۶

## د سنګهـ کونسلونه او اختلافات

په دې امورو ځان پوهول چې د دې مذهب خوربدنه ثنګه وشوه، او په خپلو کې یې څهٔ څهٔ اختلافات وو او دې بېل بېل صورتونه ولې خپل کړل؟ د سنګهـ د تاریخ او د دې د کونسلونو د فېصلو په هکله هم علم ضروري دی. په دې باب کې په اختصار سره هم په دغه امورو بیان شوی دی.

### لومړی کونسل

د ګوتم بدهـ د مړینې نه وروسته لومړی کونسل (غونډه) ۴۸۸ ق،م په راج ګهړي کې د راجا اجات سترو په مشرۍ کې وشو. د دې صدارت یو عالي مرتبه مواري "مها کشپ" کړی ؤ. دا کونسل د پشکال په باراني موسم کې پېل شو او برابر اووه میاشتې جاري ؤ. په دې کې پنځه سوه راهبان شریک وو. بقول د کني بدهیان چې په هم دې کونسل کې د بدهـ تعلیمات سوتر " مختصر و جامع نظم " په شکل کې واړول شول او د "ترداد" په نامه په زمزمه سره یاد (حفظ) کړل شول. د دوی دعوه ده چې هم دغه ترداد وروستو د تري پټک په نامه سره ونومول شو. یعني تري پټک په معنا لفظ به لفظ ترداد دی. لوبدیځ[122] مورخین دا دعوه صحیح نهٔ بولي. هغوی وایي په تري پټک کې داسې داخلي ثبوتونه شته چې دا خبره د منلو ده چې د دې ډېري برخې یقیناً د ګوتم بدهـ د مرګ نه وروستو تیار کړل شوي دي. په دې، دې ته خاص ترداد نهٔ شو ویلای. د دې د پاره دا امر قابل لحاظ دی چې په "دیپ ونس" کې چې کومي خبري د

[122] رائس ډیوډس

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـرداد بیـان شـوي دي هغـه د دې برخـو نـه ډېـري بېلـي دي کـوم چـي پـه تـري پټـک کـي يـې ورکـړي دي او د دوارو موضـوعات هـم يـو بـل تـه ورتـه نـهٔ دي. پـه دې معـدوم (نـابود کـړل شـوي) يـا مفروضـه تـرداد تري پټک ګڼل د عقل خلاف خبره ده.

بهرحـال دومـره خـو ټـول منـي چـي پـه لـومړي کونسـل کـي ډېـري پرېکـړي شـوي وې، او مـنظم سـوترونو کـي چـي يـې څـه پـه يـاد کړل د هغه څه نا څه برخه په تري پټک کي ضرور شته.

**دويم کونسل**

د دې نـه وروسـتو تـريـوه صـدۍ پـوري د هـيڅ يـو کونسـل معلومـات نشـته. البتـه تقريبـاً د يـوې صـدۍ وروسـتو د ويسـال پـر مقـام يـو سـتره جلسـه وشـوه. د دې کونسـل وجـه دا وه چـي څـه راهبـانو د سنګهـ د قاعـدې خـلاف ورزي پيـل کـړې وه. لهـذا يـوې ډلـي بـه پـر بلـي ډلـي دا تـور لګـوی چـي هغـه د شـريعت خـلاف ډېـر امـور ترسـره کـوي. نـو پـه دې دا سـوال پورتـه شـو چـي د دې ټولـو امـورو متعلـق يـو قطعـي پرېکـړه وشـي چـي آيـا د دې د کولـو اجـازه شته او که نهٔ.

د اختلافـاتو بنيـادي امـور هغـه وو چـي مـوږ د دې نـه مـخ کـي بيـان کـړل. يعنـي د غرمـې خـوراک د زوال تـر وختـه خـوړلی شـي کـه نـهٔ، پـه دې وخـت کـي مسـتې (ماسـتهٔ) يـا چکـه خـوړلی شـي کـه نـهٔ، سـرهٔ زر، سـپين زر راهـب اخسـتی شـي کـه نـهٔ وغيـره. د ډېـر بحـث نـه وروسـتو دا پرېکـړه وشـوه چـي دا ټـول امـور مثـل سـابق ممنـوع بـه ګڼـل کېـږي. لاکـن جـدت پسـندانو تـه دا خبـره بنـه نـهٔ ولګېـده، او د هغـه وخـت نـه دوې ډلـي (فرقـې) جـوړي شـوې. د دوارو بـه ځـان ځـان تـه کونسـلونه کېـدل، او هـر جماعـت بـه ځـان بنـهٔ او دويـم بـد ګڼلـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هڅه کوله. د منځني اختلاف په وجه قصه دا ځای ته را ورسېده چي بودهي راهبان په اتلسو ډلو کي سره وويشل شول. او هريو[123] د صداقت او حق پرستۍ دعوېدار ؤ.

## درېيم کونسل

درېيم کونسل د اشوک د باچا جوړېدو وروسته په اتلسم کال کي په پاټلي پتر (پټنه) ۲۵۲ ق،م کي وشو. په دې کونسل کي زر کسه بزرګ ترين راهبانو شرکت درلود او د دې صدارت تېسا[124] ولد موګلي وکړی. په دې کونسل کي د بدهـ ښودلي لومړي ځل سوتري او ليکلې بڼه "تري پټک" په نامه سره اختيار کړ. دا احکام، هدايات، قوانين او قاعدې د نظم په شکل کي وليکل شول، او په وار وار په تکرار يې ور حفظ کړل. دا کونسل تر نهه مياشتو پوري جاري ؤ او هم د دې په نامه اشوک هغه پيغامونه ولېږل چي پر غرو باندي کنده[125] (ډبرليکونه) دي. د مګدهـ باچا "پياداسي" (رحم دل) د سنګهـ په هر کلي کي د هغه د خير دعا کوي.

محترمو بزرګانو! تاسو خبر ياست چي زۀ د سنګهـ او د بدهـ شريعت څومره عزت کوم او دا څومره محترم ګڼم. محترمو بزرګانو! بزرګ بدهـ چي څه فرمايلي وو هغه ډېر مناسب وو. که موږ د دۀ شريعت خپل ماخذ جوړ کړو نو به رښتوني قانون (شريعت) تر ډېرو ورځو پوري قائم شي. محترمو بزرګانو! زۀ

[123] مهاونس

[124] tissa

[125] ګيا ته نږدې يوه غونډۍ ده، پروفېسر مکرجي دې ځي ته "بهيرو" او رائس ډيوډس "ببر" وايي. لاکن ډاکټر ايشوري پرشاد دې ته "بارابار" ويلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسب زیل کتابونه د شریعت کوم چي د مقدس بدهـ د خُلې نه الفاظ راوتي دي دغسي ګڼم.

ونې سموکس (د ونې جوهر) الیه وسالي (دنیا د حق پرستان) اناګیت بهیاني (د مستقل وېره) مني ګاتها (د تهلا سندري) مهنه سوت (د عقلا سیرت) اپتسه (د تهول پتر سوالونه) مها راهل سوت (د راهل کو نصائح)

محترمو بزرګانو! زهٔ هیله لرم چي مکرمه راهبه او مکرم راهب به دا د شریعت کتابونه لولي او پر دې به غور کوي او هم دغسي د دوارو وجود معمولي بدهیان به هم دغسي کوي. په دې غرض ما دا کنده (لیک) وکړو، او د خپل خواهش اظهار مي وکړو.[126]

**د اشوک لېږلي مبلغین**

دې کونسل د اشوک په وېنا دغه زیل سیمو ته مبلغین لېږلو پرېکړه وکړه. د دې لړ لیک "دیپ ونس" او "مهاونس" سره د مبلغینو نومونو لیکو.

---

[126] د اشوک د دې کتبې نه دا خبره څرګندېږي چي هغه وخت دا کتابونه موجود وو او هم دغه قابل اعتبار ګڼل کېږي. لاکن په تري پټک کي چي کوم کتابونه شامل دي په هغو کي د دې نوم نشته. ممکنه ده چي دغه کونسل د دې کتابونو نومونه بدل کړي وي. بیا هم د دکني بدهیانو دعوه صحیح نهٔ ګڼل کېږي، چي په تري پټک کي هغه ټولي خبري دي چي د اشوک نه مخ کي راروانې وې. په دې چي د تري پټک په لړ لیک کي د اشوک د دور ډېر کتابونه شامل دي.

د ډیوډس دا خیال دی چي په تري پټک کي " پالي موکهـ "هغه دی کوم ته چي اشوک "سموکس" ویلي ؤ او "تره ګاتها" هغه دی کوم ته چي "سني ګاتها" ویلي ؤ. په دغه توګه د "اناګنابیاني" د موضوع لړ معلومات په "بتوتو" کي شته. د نورو کتابونو هیڅ معلومات نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | سیمه | مبلغ |
|---|---|---|
| ۱ | کشمیر او ګاندهار (کندهار) | "مجهتک" ولېږل شو |
| ۲ | هس (د سلطنت نظام د کني برخه) | "مها دیو" ولېږل شو |
| ۳ | ونواس (د راجپوتانه صحرا) | "اکهیت" ولېږل شو |
| ۴ | اپرننک (سرحد) | "باختري" دهم رکهت ولېږل شو |
| ۵ | مهراستهه (د بمبئ ولایت شمال ختیځ برخه) | "مهادهم رکهت" ولېږل شو |
| ۶ | یون لوک (باختر) | "مهارکهیت" ولېږل شو |
| ۷ | همنونت (منځنی همالیه) | "مجهم" ولېږل شو |
| ۸ | سون بهومي (ملایا) | "سین او اتر" ولېږل شول |
| ۹ | لنکا | "مهندر" وغیره ولېږل شول |

په هم دغه کال اشوک یوه محکمه "دهرم مهاماتر" په نامه جوړه کړه د چا چې فرض ؤ چې د مذهب حقانیت قائم وساتي او د وحشي ، ځنګلي قومونو د پالني او حقوقو خیال وساتي.

**څلورم کونسل**

څلورم کونسل د کنشک[127] غالباً ۱۲۵ څخه تر ۱۴۸ په دور کي وشو. په دې کونسل کي تقریباً پنځه سوه راهبان شریک وو. د دې درې ثبوته مخې ته راځي چې هغه وخت بدهـ مذهب په دوو فرقو (ډلو) "استهرویدوار" او "مهاسامګهیک" کي سره تقسیم وو او دا کونسل د دوی د اختلافاتو د ختمولو د پاره راغوښتل شوی یا جوړ شوی ؤ. د دې کونسل صدارت "وسو بندهو" کړی ؤ. په دې کي مذهبي عقائد له سره مرتب کړل شو. درې تفسیرونه تیار کړل شول په

127 د کنشک د تاج پوشۍ د نېټې په هکله په مؤرخینو کي ډېر اختلاف دی. هیڅ یوه سنه نۀ شي بیانېدلای. دا سنه د "سرنیواس اچاریه" او "رام سوامي آنګر" د تاریخ نه ورکړل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم کې چې "مهادبهاشا" تر ټولو زیات مشهور دی. دا کتاب د بدهیانو د شریعت په هکله ډېره مستنده ذخیره ګڼل کېږي. په دې تفسیرونو کې بقول "هوان سانګ" تر یو لکه پوري اشعار وو. ویل کېږي چې دا تفسیرونه کنشک دِ مسو (تانبې) پر ټوټو ولیکل او بیا یې تر یوه لویه درونه استوپه لاندې ښخ کړل، کوم چې د سري نګر (کشمیر) سره نږدې ؤ. د دې استوپ تر اوسه درک نهٔ دی لګېدلی.

**هنیان او ماهنیان**

د دې کونسل نه څو ورځې وروستو په بدهـ مذهب کې دوې غټې فرقې جوړې شوې، کوم ته چې "هنیان او ماهنیان" ویل کېږي. هنیان هغه دي چې د لرغوني بدهـ مذهب منونکي دي، په لنکا او برما کې استوګن دي. دوی د روح نه انکار کوي او د خدای په هکله دا وایي چې بدهـ د دې په هکله هیڅ نهٔ دي ویلي، او موږ ته د دې د وجود او عدم وجود سره هیڅ کار نشته.

ماهنیان بدهـ په ستو یقین لري. بدهـ یو مافوق الانسان سړی ګڼي. د دیوي او دیوتاګانو منونکي دي. په کوډو (جادو) او منترونو یقین لري. په رسمونو عمل کوي او پر خدای یوائې نهٔ بلکې پر ډېرو خدایانو عقیده لري[128].

د ماهنیان ډلې باني (بنسټ ایښونکی) "ناګارجن" ؤ. دهٔ په بدهـ مذهب کې بهکتي (تعویز ګري، کوډې) او عامه مینه یې داخله کړه، او ورسره یې د خدای او دیوتاګانو نظریه هم شامله کړه چې دا بدهـ مذهب نور هم زړهٔ ښکونکی شو.

د "ونسټ سمتهـ" دا رائې ده چې ماهنیان ډله هندیان، بدهـ، ایراني، رومن او د یوناني مذاهبو یو کیچړی دی، کوم چې

[128] وګورئ د چارلس ایسټ کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوتم یې د یوه ژوندي مثال په توګه پېش کړو او په وچو او بې جان اخلاقي اصولونو کې یې ساه واچوله."

**د زوال اسباب**

دې تفریق او اختلاف چې په کومه طریقه په شمال کې دا مذهب مقبول کړو، هم دغسې د دې اثرات په هندوستان کې ډېر کم شول. د دې اندازه چیني سیلانیان "فاهیان ۴۰۰ عیسوي کې ۵۱۸ عیسوي او "هوان سانګ ۶۳۹ څخه تر ۶۴۸ عیسوي" په بیانونو کې څرګندېږي، چې بدهـ مذهب هم په دې سیمو کې پاتې شوی ؤ د کومو سیمو راجاګانو چې د دې حمایت کوی. هم دغه وجه وه چې د اشوک او کنشکا نه وروستو صرف په پنجاب (د هند پنجاب) کشمیر او بهار کې څو ورځې یې ځان ټینګ کړو. په دکني هندوستان باندې د دې هیڅ اثرات نۀ ولیدل. د دې وجه د برهمنو او راجپوتو راجاګانو سخت مخالفت وو. د بعضو مؤرخینو خو دا خیال دی چې د برهمنو د خطا ایستلو په وجه ډېر خلک عملاً د دې مذهب مخالف شول. او د "کمال بټ"[129] او "شنکر اچاریه"[130] د وینا ؤ په وجه خو بدهیان په ډېر تعداد ووژل شو.

---

[129] "کمارل بهټ" په اوومه صدی عیسوي کې ؤ. هغه د ویدونو عظمت ثابت کړو او د هغۀ بنو دلي رسوماتو په سلسله کې د بدهـ مذهب یې ډېر مخالفت وکړ.

[130] شنکر اچاریه د "کراله" په مقام په ۷۸۸ عیسوي کې وزوکېدی. دی د وید ډېر لوی عالم ؤ، دۀ انپشد، بهګوت ګیتا او د دوانت سوتر تفسیرونه ولیکل. دی د جګت ګرو (استاد) په نامه مشهور شو. دۀ په میسور" دوارکا پوري" او بدري کدار کې متهونه (مذهبي مدرسې) جوړ کړل او په ټول هندوستان کې یې دورې وکړې. د بدهـ مذهب د عالمانو سره یې مناظرې وکړې، هغو ته یې ماته ورکړه او په زرګونو بدهیان یې هندوان کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لهـذا پـه "سارناتهـ" کـي دا نخښـي اوس هـم ليـدل کېـږي چـي هلتـه د هغـه ځـای اسـتوپه او بـدهي مندرونـه يـې پـه وار وار نړولـي او برباد کـړي دي. پـه دې توګـه ماسـوائې پـه لسـمي او يوولسـمي صـدۍ پـوري پـه نېپـال او بهـار کـي د کـوم باچـا "پـال" د دې مـذهب منـونکی ؤ، پـه پاتـه هندوسـتان کـي دا مـذهب پاتـه نـهٔ ؤ. کلـه چـي د پـال سـلطنت خاتمـه اسـلامي فتوحـاتو وکـړه نـو دا مـذهب هـم خپـل د زوکـړي د ټاټوبـه ورک شو.

خپلـه د دې مـذهب پـه راهبـانو او درويشـانو کـي دومـره عياشـي او حـرص، او د وجـود دومـره اسـاني راغلـه چـي اولـس لـه دې مذهبـه بېـزاره او نفـرت يـې ورسـره پيـدا شـو. د بدهـ هغـه تعليمـات چـي د اخلاقـو پـه لوړتيـا کـي يـې ثـاني نـهٔ درلـود، د تـوهم پرسـتۍ، پابنـدۍ، د رسـمونو او راهبـانو د عياشـۍ پـه وجـه بربـاد شـو او بدهـ مـذهب چـي د اخلاقـو د صـحيح کېـدو د پـاره جـوړ شـوی ؤ د بـد اخلاقيـو مجموعـه ځينـي جـوړه شـوه. پـه دې هکلـه دومـره نـور ويـل غـواړم چـي د اشـوک او کنشـکا باچاهـانو د مشـرتابه چـي ځـومره تعريـف وکـړل شـي، لاکـن دا د منلـو خبـره ده، هـم د دې باچاهـانو پـه وجـه خيـر غوښـتونکي بـدهيانو تـه يـې د "دلائـي لامـا" د محلونـو لارورو ښـودله، او پـه دوی کـي يـې داسـي اخلاقـي بـدۍ پيـدا کـړې چـي دوی د برهمنـو او مسـلمانانو پـه کمـزورو حملـو بانـدي سـره وپاشل شول او د خپل ټاټوبي نه ورک شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باب ،۷

## بده مذهب په بېلا بېلو هېوادونو کښې

بدهــ مــذهب ګــوا د خپــل هېوادنــه وشــړل شــو او پــه هندوســتان کــي ماســوا د "سارناتهــ" او "ګیــا" د دې مــذهب منــونکي نــهٔ وو ، لاکــن پــه ټولــه دنیــا کــي د دهٔ د منونکــو تعــداد بــې شــمېره دی. نېپــال، تبــت، چــین، کوریــا ، منګولیــا ، جاپــان، برمــا ، ســیام ،ملایــا ، جــاوا ، ســماټرا او ســري لنکــا کــي د دې مــذهب د تــابعینو کثــرت دی. پــه داســي حــال کــي دا معلومــول بــه د دلچســپی نــه خــالي نــهٔ وي چــي دا مــذهب دې هېوادونــو تــه څنګــه او پــه څــهٔ حــال کي ورسېدی؟ او د دې موجوده بڼه او اثرات څهٔ دي؟

مــوږ د دې هېــوادو اجمــالي حــال بــه کېدای شــي پــه تېــر یــو نــه یــو بــاب کــي پــه تغیــر ســره بیــان کــړی وي ، اوس د دې اجمــال تفصیل حاضر دی.

**لنکا:**

د "ټیســا باچــا" (۲۵۰ څخــه تــر ۲۳۰ق،م پــوري)[131] پــه زمانــه کــي د هندوســتان شهنشــاه اشــوک خپــل زوی "مهنــدر" یــې د بدهــ مــذهب د تبلیــغ پــاره ولېــږی. مهنــدر تــر دا وختــه ۱۲ کالــه د دروېشــۍ ژونــد تېــر کــړی ؤ. د کونســل پــه دویــم کــال مهنــدر لنکــا تــه روان شــو او د ځــان ســره یــې د راهبــانو یــوه ډلــه هــم ملګــرې کــړه. دې خلګــو تــه تــري پټــک او د هغــه تفســیرونه پــه یــاد ایــزده وو کــوم چــي پــه کونســل کــي منظــور شــوي وو. دا تفسیرونه دوی د پالي نه سنګالي ژبي ته واړول.

ټیســا د مهنــدر ډېــر زیــات خــاطر او خــدمت وکــړو. خپلــه یــې بدهــ مــذهب اختیــار کــړو او د هڅــه د اشــاعت امــر یــې وکــړو. دهٔ د

131 سونډرس ــ استهوري آف بدهازم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهندر په وینا په اندودهـ پورکي یو "تهوپارام داګپ" (ستهوپه) هم جوړ کړو چي تر اوسه شته او د کوم په هکله چي دا مشهوره ده چي د دې لاندي د ګوتم د مغزي هډ ښخ دی. د ې ته نږدې یو متهـ (مذهبي مدرسه) یې هم د هندوستانیانو راهبانو د پاره جوړ کړو. او د دې پر اتۀ میله فاصله باندي یې "مهنتل وهار" جوړ کړو چي تر اوسه وجود لري. د "تهوپا رام دا ګپ" د جوړولو وروسته د باچا د کوریو څو ښځو خپلوانو د راهبي جوړېدلو خواهش ظاهر کړو. د دې د پاره مهندر خپله خور "سنګهـ سوترا" ورته راوغوښته کومه چي د دۀ سره په سنګهـ کي داخله شوې وه. هغه د نورو راهبانو سره لنکا ته راغله او د ځان سره یې د بودهي ونې یو ښاخلی هم راوړی. دا ښاخ په اندودهـ پورکي د "روانولي دا ګپ" سره ولګول شو او د دې تاریخي ثبوت دا دی په لنکا کي چي کومه بودهي ونه ده هغۀ د دې ښاخ ده. نن دا د نړۍ تر ټولو لرغوني مذهبي ونه ده چي په ډېر اهتمام سره یې ساتنه کېږي. دې ونې یا د دې ونې و جرړو ته اوبه رسول دا د هر بودهي د پاره د سعادت کار دی.

ټیسا د شلو کالو د حکومت کولو وروسته مړ شو او مهندر هم د څو ورځو وروسته پسې مړ شو. د دوی دواړو د مرګ نه څو ورځي وروسته "تامل" قوم لنکا فتح کړه. لاکن ۱۶۴ ق، م کي هغه خلک وایستل شو او فاتح "دشت ګامني" هم د خپل نیکه ټیسا غوندي بدهـ مذهب خپل کړو او د هغه مشر تابه یې پیل کړه. دۀ ډېر تعمیرات جوړ کړل په کوموکي چي د "مهاتهوپ" او د "پتیل والا" غټ متهـ ډېر مشهور دي. په دې متهـ کي سو اسله (۱۲۵) کمبې (پایې) دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دهٔ د مـرګ نـه وروسـته دراوړ قـوم پیـا حملـه وکـړه، لاکـن دوی وتاګـامني پـه ۸۸ ق،م کـې د هېـواد نـه وشـړل. دې باچـا پـه لنکـا کـي تـر ټولـو لـوړ "دا ګـپ ابهیـا ګـري" جـوړ کـړو او هـم د دهٔ پـه دور کـي درې سـره پټـک د حـافظې نـه د پـاڼي پـر مـخ منتقـل شـول او د محقیقنـو پـه رائـې چـې اصـل تعلیمـات پـه دې کـې تـر ډېـره حـده کېـدای شـي او څـومره کتابونـه چـې د دې مـذهب پـه شـمالي هنـد ، نېپـال، چـین او تبـت کـي تـر لاسـه شـوي دي او د دې نـه وروسـتو لیکل شوي دي دومره مستند نهٔ دي.

دې نـه عـلاوه د بدهـ مـذهب پـه هکلـه کـوم کـار چـې پـه لنکـا کـي وشـو هغـه پـه پنځمـه صدۍ کـي وشـو. ۴۳۰ عیسـوي تـه نـزدې د بدهـ مـذهب یـو مشـهور راهـب " بدهـ ګـوش " لنکـا تـه راغـی. دا سـړی ډېـر لـوی فلسـفي او عـالم وُ. دهٔ د بدهـ مـذهب یـوه انسـائیکلو پیـډیا د " سـدهي مـاګ " پـه نامـه تیـاره کـړه او د پټـک ټـول تفسـیرات یـې د سـنګالي نـه پـالي تـه وژبـاړل. دا تفسـیرونه دومـره مشـهوره شـو چـي بقـول ډیـوډس چـي اوس یـو تفسـیر هـم پـه سـنګالي ژبه کي په لنکا کي نشته. هغهٔ تفسیرونه چي په پالي ژبه کي په لنکا کي موجود دي په مقدمه کي یې لړلیک ورکولی شوی دی.

**برما:**

دلتـه د بدهـ مـذهب د ابتـدا پـه هکلـه بېـل بېـل بیانونـه دي. د برمـا خلـک وایـي چـي ګـوتم خپلـه دلتـه تشـریف راوړی دی، لاکـن دا د دوی خـوش عقیـده ده. پـه تـاریخي اعتبـار بدهـ مـذهب پـه لـومړي ځـل دلتـه د اشـوک د مبلغینـو پـه ذریعـه خورشـو، خـو پـه اصـل کـي ترقـي یـې پـه پنځمـه صدۍ کـي وشـوه. کلـه چـي بدهـ ګهـوش لنکـا تـه ۴۵۰ عیسـوي دلتـه راغـی نـو بدهـ کېـدل پـه هغـه وخـت کـي داسـي رواج نیـولی وُ چـي نـن پـه برمـا کـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړېدل د هغـه ځـای پـه رسمونو کـې شـامل شـوی دی. د دې تتيجـه دا شـوه چـې پـه هـر کلـي کـې پګـوړا (بدهـ منـدر) دی. او تـر ۷۵ زره زيـات مـذهبي خيـر غوښـتونکي (فقيـران) دي. د بدهـ و بتـانو تـه سـجده کـول، د مـذهبي عالمـانو عـزت، بېـل بېـل ارواح خبيثـه بانـدې يقـين لـرل، د دوی مـخ تـه د مـذهب يـو جز ګرځېدلی دی. يـو معمـولي کليـوال د يـوې ونـې مېـوه تـر هغـه وختـه نـه شـي خوړلای، يا د يـوه پټـي رېبـل نـه شـي تـر سـره کېدلای تـر څو چـې يـې نټ (بـازيګر، شـعبده بـاز) تـه قربـاني نـه وي کـړې. کـوم چـې د ده پـه خيـال پـه دې ونـې يـا پـه دې ځـای قـابض دی. بدهـ مـذهب هلتـه اوس داسـې مـات ګـوډ خـور شـوی دی چـې ګـوتم دا ښـودلي دي چـې هـر سـړی د خپـل نېـک اعمـالو پـه وجـه يـو "ديـو" يـا "وړوکـی ديوتـا" جوړېـدای شـي او د بـد اعمـالو پـه سـوب يـو "يـک" يـا "پريـت" کېـدای شـي او دا ديوتـا يـا پريـت د يـوې لـوېې ارواح ماتحـت دي کـوم تـه چـې "نـټ" ويـل کېـږي. د دې تټـو شمېر ۳۸ دی. پـه دوی کـې چې کـوم يـو تـر ټولـو لـوی دی د هغـه نـوم "بهـګ مـن" دی. نـو پـه دې وجـه د دې تټـو د خوشـحالی د پـاره د ځنـاورو قربـانی کېـږي او شـراب څښـل کېـږي، کـوم چـې د ګـوتم د قـانون بالکـل خـلاف دي. هغـوی د خپلـو اخترونـو پـر موقـع ښـه خوشـحالياني کـوي، اتڼونـه کـوي، سـندري وايـي او خيراتونـه کـوي. هغـوی ګـلان، د ګلونـو هـار او نـور د نـذر څيزونـه د ځـان سـره اخلـي او بدهـ منـدر تـه ځـي. هلتـه پـه ګـوډو شـي او د بدهـ ښـودلي الفـاظ لـولي. "انيـک" "دکهـ" "اناتهـ" (ټـول فـاني دي) ټـول د حوسـائي نـه خـالي او ټـول غيـر حقيقـي دي. د خيـر ورکولـو (منـت ورکولـو) وروسـته ټولـه شـپه پـه اتـڼ او ننـدارتون (تهيټر، سـينما) کـې تېـروي. د غـه ننـدارې هـم د غـه منـدر پـه دالان کـې کېـږي او څـوک د دولـت څښـتن (رئيس) د دې خرڅ پر ځان اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اخترونو ماسوا د خوشحالۍ يوه بله خاص موقع، د يوه مذهبي راهب د مرګ ورځ وي. د چندي لړ ليک خلاص شي او يو غټ رقم جمع کړل شي. د چتا (د سوځولو ځای) شاوخوا يو عمارت جوړ کړل شي. ډېري نخښې ولګول شي او قسما قسم رنګين بيروغونه ولګول شي. لوبي تماشې او اتڼونه کيږي. په منځ کي مړی په شاتو (شهدو) او پر طلا (زربلخ) کي وپيچل شي. چي کله يې د سوځلو ورځ راشي نو يې په يوه داسي غونډۍ کښېږدي چي بيا يې په يوه رسۍ وتړي. دوې ډلې جوړې شي او د دواړو تر منځ رسه کشي پيل شي. کوم ځوک چي دا رسه کشي وګټي هغه د ټولو اخراجاتو ذمه واره شي.

حقيقت خو دا دی چي دا خلک ځان ته بدهـ وايي، لاکن په دوی کي اکثره پر خدای او روح يقين لري او پرته له نروانه د يوه جنت منونکي دي. چېري چي صالح او ښهٔ خلک ولاړ شي او د ديوتا ګانو سره ښهٔ په خوشحالۍ ژوند تېروي. عيسائي مشين ښهٔ په قوت سره خپل کار ته دوام بخښلی دی، او تر اوسه تقريباً په سوا کروړ اولس کي يې په مشکل سره يوې برخي عيسائي مذهب خپل کړی دی. لاکن د دې ډېر اميد کيږي چي آخرالذکر د مذهب فروغ (خوربدنه) به مخي ته راشي.

(**نوټ:** بايد دا ياد وساتو چي دا ليک په ۱۹۴۲ کي ليکل شوی دی)

**تبت:**

په دې هېواد کي بدهـ مذهب څه خو د اشوک مبلغينو خور کړو او څه د کنشکا په دور کي. لاکن حقيقت دا دی چي دلته د دې مذهب خوربدنه باقاعده په اوو مه صدۍ عيسوي کي وشوه، چي هلته د هغهٔ ځای باچا دوه ودونه وکړل. يوه چينايي او يوه نيپالۍ شهزادګۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه. او دا دواړي د بدهـ مـذهب منـونكي وختلـي. د دې شـهزادګيانو پـه وجـه د بدهـ مذهب خورېدنه پـه تبت كـي پـه دومـره تېزه وشـوه چـي د سلو كـالو وروسـته د دې ځـاى راجـا باقاعـده خلـګ هندوسـتان تـه ولېـږل او بهكشـو يـې راوغوښـتل، او دا بدهـ مـذهب دې هېـواد تـه راورسـېدو. دلتـه يـې هغـه وخـت د دې مـذهب منـونكي او هغـوى يـې د ځـان كولـو پـه هكلـه ډېـري انسـاني قربـانۍ ښـه پـه زوروو وې، هلتـه د اولـس پـه خيـال پـه غونـډيانو كـي ګـام پـر ګـام ارواح خبيثـه خپـل استوګن ځايونـه جـوړ كـړي وو. او يـو كـار هـم د دوى د خوشحاله كولـو پرتـه نـۀ شـو كېدلاى. نـو پـه دې توګـه مـذهبي پېشـواؤ د دې موقـع نـه ګټـه ترلاسـه كـړه او بدهـ مـذهب تـه يـې يوه مخصوصه جامه ورپه غاړه كړه. د دې خلګو عقيدې اوس دا دي.

د ګـوتم نـه عـلاوه نـور بدهـ هـم شـته. لاكـن پـه هغـو كـي مخصوصـه پنځــه دي. ګــوتم د دوى د رېـيم پـېش رو او راتلـونكى "مهتريــه (متر) بدهــ" (رحمتـي بدهـ) او پـه دوى كـي د هـريـوه بدهـ درې څهـرې وي. دوه اسـماني او يــو ځمكنـــۍ. اســماني بدهــ خــو دهيــاني بدهــا او بدهســتو بلــل كېــږي او ځمكنـــى صــرف بدهــ بلــل كېــږي. پــه دې توګــه د موجــوده كلــپ د پــاره د پنځلسو بدهيانو لړليک وشو چي په اصل كي پنځه دي.

دهيــاني فكــري بدهــ، بدهــهســتو (د فكــري بــدهيانو دويمــه څهره) او منشي (انساني) بدهـ.

| منشي | بدهستو | دهياني |
|---|---|---|
| كركوچند | سمانت بهدر | دروچن |
| كنګ مني | وجرپاني | اكشوهيه |
| كيسيپ | رتن پاني | رتن تهمبو |
| ګوتم | پدم پاني يا اولوكشيور | رېتابهـ |
| متربدهـ | وسوپاني | اموګ سدهـ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه اولو کشیور چي د ګوتم په شکل کي راغلی ؤ د "دلائي لاما" یا تبت د صدر مذهب بڼه به خپلوي. دلائي لاما څه معمولي انسان نهٔ دی بلکې د هغه درجه د "ادي بدهـ یا د خدای" وروستو ده.

دې نه علاوه تبتي بدهـ یو ازلي یو ابدي یو نور مجسم یو قادر مطلق یو د عقل کل، یو د بخت کامل، یقین هم لري او په دوی کي و هر یوه ته بېل بېل خدای ویل کېږي. بیا نو دلته "دیویاني" هم دي کوم ته چي "نار" ویل کېږي. یوه ناره خو د کشیور کورودانه ده او دې د هغو دواړو شهزادګیانو بڼه خپله کړې وه کومي چي تر ټولو له مخه بدهـ باچا د تبت نه را وادهٔ کړي وې.

یوه دویمه ناره ډېره بد رنګې څهره لري. د دې درې شکلونه او اتهٔ لاسونه دي. په دې کي د یوې څهره بالکل د سور (خنځیر) غوندي ده. د منګولیانو دا یقین دی چي دا د "زار روس" په شکل کي هم په دوی کي د یوې زېږېدنه شوې ده.

دې نه علاوه څه پریت (پېري) هم شته چي تر ډېره حده بد رنګي او وېرونکي شکلونه لري. په دې وجه د دوی ماتحتین د شیطانانو نه وېرېږي. د دې پریتونو هم د دوی په شکل کي ښځې دي او دا ټول تر ډېره حده وېرونکي او ظالمان دي.

بیا د دنیا په څلورو کونجونو څلور عنفریت باچاهان دي، او دوی هم خوشحاله کول ضروري دی. هیڅ یو کار پرته له دې باچاهانو د خوشحاله کولو چېري چي وي نهٔ تر سره کېږي. بیا د جهنم ملک "یم" هم شته. د چا زېرنګراني چي اتهٔ اورونه او اتهٔ زمهریري (یخ، سوړ) دوزخونه دي. د یم د کوروادني نوم "لهامو" دی. دا دواړه خوشحاله کول تر ډېره حده ضروري دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوی ماتحت یا په زرګونو په بېلا بېلو جنسونو کې د بیان او پریت دي، او د هر یوه خوا بدي کولو باندي مصیبتونه زیاتېږي.

د تولو په آخر کې په سلګونو بودهي پیران دي او په دوی کې د هر یوه بت (مجسمه) ایښودل او د دوی عبادت کول د ثواب کار دی. د مذهبي خلکو بېل اقسامونه دي. د تولو نه لوړه درجه د "لاما" ده. دا په دوه قسمه دي. یو زېړي خولۍ او دویم سرې خولۍ والا دي. د زېړو خولیو والا واده نهٔ شي کولای، سرې خولۍ والا وادهٔ کولای شي. دې نه علاوه د راهبانو بې شمېره تعداد وي. دوی خپل وجود په ډېرو سختیو او مصیبتو برداشت کولو باندي اموخته کړي. یو اځې د واوري په دروکي، په څاهانو کې پراته وي. خوراک، څښاک، جامې او هر څیز نه بې پرواه وي.

**دلائي لاما:**

د دلائي لاما د مرګ نه نهه میاشتي وروستو څومره چي معشومان زېږي په دوی کې نوی دلائي لاما منتخب کېږي. د انتخاب طریقه یې ډېره دلچسپه ده. ټول معشومان په یو ځای کې جمع کړل شي، د مړي دلائي لاما مختلف څیزونه یو ځای کړل شي او په دې کې نور ډېر څیزونه ګډ کړل شي. کوم معشوم چي د دلائي لاما څیزونه خوښ کړي او نور شامل کړل شوي څیزونه نهٔ کړي خوښ، هغهٔ دلائي لاما ګڼل کېږي یا منل کېږي. فکر دا کېږي چي هر څوک خپل څیز خوښوي یا مینه ورسره لري، په دې توګه په دې معشومانو کې د کوم په صورت کې چي دلائي لاما دویم جنم اخستی وي ، خپل څیزونه پېژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دلائي لاما وروسته "لامه اعظم تش لمپو" وي. او د دهٔ ماتحت یا ډېر لامه اعظم او یوه "راهبه اعظمه" وي. بیا د دوی ماتحت ډېر لاما او راهبات وي. نو په دې وجه په تبت کې د لاماؤ ډېر کثرت دی. او په دې غرهٔ ایزه سیمه کې تر درې زره زیات صومعې (عبادت خانې) دي.

د دې لاماؤ او مذهبي پېشواؤ پر اولس ډېر زیات اثر رسوخ دی. هغوی د دې مذهبي خلګو هر کار په اخلاص بلکې د مرّیانو په شان تر سره کوي. د دې اثر وجه یوه خو دا ده چې د دې بدهي تعلیماتو او د پېشواؤ د نفس کشۍ سِکه د دوی پر زړو پرته ده. بل دوی دا ګڼي چې لاما د دوی او د اَرواح خبیثه تر منځ د یو دېوال حېثیت لري. که دی د دوی حفاظت ونهٔ کړي نو پریت به دوی ژوندي پرې نږدي.

**چین :**

ویل کېږي چې بدهـ مذهب په دویمه صدۍ ق،م کې چین ته ورسېدی. لاکن په تاریخي اعتبار په وړومبۍ صدۍ ق،م کې هیڅ یو درک نهٔ معلومېږي. په دې صدۍ کې شهنشاه چین "مینګسائي" یو خوب اولیدو، د کوم په موجب دهٔ په خپل سلطنت کې د هندوستان نه د دې مذهب مبلغین راوغوښتل. لاکن د شهنشاه د هڅو باوجود دې بودهي مذهب تر دروسوو کالو پورې هیڅ خاص اثر نهٔ کړو قائم. د دې وجه دا وه چې په چین کې دوه فلسفیانه مذاهب موجود وو، د کوم په وجه هلته یو نوې او نابلده مذهب زر پښې نهٔ شوې ټینګولای.

لومړی مذهب "تاوي" دی او دویم مذهب "کنفوشي".
تاوي مذهب د کوډو او جادو په وجه او کنفوشي د اخلاقیاتو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



درس په وجه د بدهـ مذهب په نسبت په اولس کي کم کشش نهٔ درلود. يیا هم بدهـ مذهب ورو ورو خور شو. لا اوس هم د دې حالت داسي دی چي يوه چيني ته هم خالص نهٔ شو ويلای. چينايان چي په هر مذهب کي خپل د خوښی نکات رااېلوي، هم دغسي دوی بدهـ مذهب د خپلو لو سره سم د څه نه څه جوړ کړو.

په دريمه صدی عيسوي کي د دې مذهب څه لږ اشاعت وشو او په څلورمه صدی عيسوي کي چي کله " شي هو" شهنشاه شو نو چينايانو هم بدهـ جوړېدل پېل کړو.

دې نه وروستو په چين کي چي کله د دې مذهب په هکله د خلکو دلچسپي پيدا شوه نو فاهيان (پنځمه صدی) هوان سانګ (شپږمه صدی) او آئي تشنګ (اوومه صدی) کي چي کله هندوستان ته راغلل نو د دې ځای نه يې د بدهـ مذهب ډېر کتابونه د ځانه سره يوړل. دا څو مره کتابونه چي دي هغه د فاهيان په نقطه نظر ليکل شوي دي. په دې توګه د چين بدهيان د شمالي هند بدهيانو مقلدين(اقتدا کونکي) دي.

**د چين او د تبت د بدهيانو تر منځ فرق**

لاکن په سيمه ايزه کچه په دوی او د تبت په بدهيانو کي تر ډېره حده فرق دی. هغه غټي غټي خبري داسي بيانېدلای شي.

(۱) په چين کي د تبت نه کم ديوياني او ديوتاګان دي. ګوا د تبت د خلکو غوندي هم دلته بدهـ ،بدهستو، پيرا او عفريتي (پېرياني) ديوتاګان شته.

(۲) په چين کي راتلونکي بدهـ يعني رحمتي بدهـ د يو معمولي ديوتا حېثيت لري او د هغه څهره همېشه د يوه مسکي پنڅه سړي غوندي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) مذهبي خلک په خاصه توګه بیا بهکشو او لاما ډېر ذلیل بولي او د دوی هیڅوک عزت نهٔ کوي. د دوی اخلاق هم صحیح نهٔ دی. حالانکې د خپل اثرو رسوخ د پاره هغوی ډول ډول په خپل وجود باندي سختۍ تېروي. تر دا آنده چي پر خپل خریلي سر سرهٔ سکروټه کښېږدي او دعا غواړي. ګوتي او لاسونه په سرو سکروټو کي ووهي او په سوځولو یې تک تور واړوي. د دوی څه د نفرت یوه وجه دا ده چي چینایان خانداني ژوند تېرول خوښوي او دوی د هغه مخالف دي.

(۴) په دیویانو کي چینایان په خاصه توګه د رحم دیوي "کونین" ډېره خوښوي او دهغوی و عکسونو او بتانو ته په ډېر احترام او میني سره عبادت کوي.

**جاپان:**

په دې هېواد کي بدھ مذهب د کوریا نه په کال **۵۵۲** عیسوي کي راغی. خپله په کوریا کي دا مذهب په څلورمي صدۍ عیسوي کي راغلی ؤ. هغه وخت په جاپان کي دوه مذاهبه خورووو. یو "شنټو" مذهب او دویم "کنفوشي". کنفوشي خو هغه د چین د اخلاقو ترجمان مذهب دی، لاکن شنټو مذهب خاندان د بزرګانو، مشرانو، ارواح او مناظره فطرت د قدرت په عبادت پوري اړه لري. د دې سره سره هغه د دې تعلیم هم ورکوي چي "سیکا دو" یعني د جاپان شهنشاه یو معمولي انسان نهٔ ؤ. بلکې هغه د لمر د دیوي زوی ؤ او د هغه په شان کي الوهیت (خدایي، معبودیت) څرګندېږي. دغه وجه ده چي شنټو مذهب له وخته د جاپان دولتي مذهب او سېدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـو چـي کلـه بدهـ مـذهب جاپـان تـه ورسـېدو نـو هغـه د دوارو مـذاهبو سـره لاره يـوړه. تـر دا آنـده چـي د بدهـ مـذهب جاپـاني مشـر شهنشـاه " شوتوکوئيشـي " دغـه قـول ډېـر مشـهور دی چـي " شنتو،کنفوشـي او بدهـ مـذهب " د يـوې ونـي درې ښـاخه دي". نـو د دې باچـا زيـر اثـر شـاهان جاپـان د دې مـذهب مشـرتابه يـې پـر ځـان واخسـته. نـو بـالاخر پـه اتمـي صـدی عيسـوي کـي د شـنتو "ديوتـا بدهـ ستو" ومنـل شـو او شـاه جاپـان د دلائـي لامـا پيـام رسـونکی ومنل شو.

دا صـورتحال تـر دوولسـمي صـدی پـوري ؤ. لاکـن کلـه چـي د عيسـائيت اثـرات پـه زياتېـدو شـول نـو بدهـ مـذهب يـوه بلـه ځُغـه پـه غـاړه کـړه. پـه دې کـي د "هـونن" د تبليـغ (۱۲۱۲،۱۱۲۳) عيسـوي نـه " جـوډو [132] نـومي يـوه نـوې فرقـه جـوړه شـوه. دې فرقـې د روح وجـود تسـليم کـړو او د خلاصـون د پـاره يـې پـر " اميـدا " بانـدي د عقيـدې وويلـو. د دوی پـه نـزد لکهنوکلونـو مـخ کـي "اميـدا " پـه انسـاني بڼـه زېږېـدلی ؤ او دنيـا تـه يـې د خلاصـون لاره ښـودله. دا خلـګ " اميـدا [133] ازلـي او ابـدي ګڼـي او وايـي چـي مـوږ چـي پـه کـي اوسـو، حرکـت کـوو او پـه وجـود کـي راځـو، دی. څـه مـوده وروسـته پـه جـوډو کـي هـم لـږ تغيـر پيـدا شـو او د دې نـوم "جوډوشن [134] شو.

دويمـه بدهـ فرقـه د " زن [135] پـه نامـه سـره نـومېږي. دا د جاپانيـانو ډېـر پـه زړه پـوري مـذهب دی. پـر وجـود د سـختيو تېرولـو

[132] JODO
[133] AMIDA
[134] JODOSHIM
[135] ZAM

(c) ketabton.com: The Digital Library



او جوړولو قائل دي او غور او فکر (ګيان، دهيان) ته ترجيح ورکوي. دې فرقې په جاپان کې لوی لوی مفکرين او عملي خلک زېږولي دي.

دريمه فرقه "نيچرن [136]"ده. دوی په دې خبره زور کوي چې د هر امر د فېصلې د پاره بايد چې "سوترو" ولوستل شي کوم چې ګوتم پرېښې ؤ او د مفسرينو او علماؤ پر رايو چې يقين ونهٔ کړئ. د دې فرقې په وجه په ټولنه کې مزموم رسومات ورک شول، ولې چې خلګو د بدهـ مذهب کتابونه لوستل پيل کړو.

بهرحال په جاپان کې د بدهـ مذهب ارتقائي سفر نه دا څرګندېږي چې بدهـ مت کله چې هم په يو غير هېواد يا مذهب کې دا خل شوی دی نو د هغه هېواد ډېري خبري په کې شاملي شوي دي او ډېري داسي خبري کومي چې هېواد والو د طبيعت خلافي دي، پرېښي دي.

په جاپان کې د نورو هېوادو په شان بدهـ مذهب د رسېدو سره د روح قائل شو. ديوتاګان او ديوياني يو ازلي او ابدي ذات منونکي شو او د کرم (کرما) جګړې يې هېري کړې. د جاپان ظاهري مذهب د چين و مذهب ته ډېر ورته دی. البته دلته ديوتاګان، اسماني خدايان ګڼل شوي. دا خالق هم دي، ازلي هم ابدي هم او قادر مطلق هم. د دوی نومونه "ديني جي او اميدا "دي. په بدهستو کي کونو (چيني کونين) ډېره په زړهٔ پوري ده او هغه د اميدا سره په جنت کي ملکه ده او د دوی د اجازت نه بغير هيڅوک هلته نهٔ شي داخلېدای.

---

[136] NICHLREN

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي نه علاوه نوري ډېري ديوياني او ديوتا ګان شته چي پر هغو باندي د دوی يقين دی. هغه په دې چي جاپاني بدهـ مذهب د ډېرو ديويانو او ديوتاګانو منونكي او د هغوی عبادت كونكي دي. لاكن د دې خبرو باوجود د بدهـ مذهب د راهبانو پر اولس باندي هيڅ خاص اثر نشته او دوی ته د جنتر او منتر والاؤ ماسوا خلګ په بله ستر ګه نۀ ګوري.

**نېپال:**

په نېپال كي چي كوم بدهـ مذب دی پر هغه باندي د تبتي بدهـ مت اثرات پراته دي. هغوی هم د سيمه ايزه ديوي او ديوتاګانو منونكي دي. لاكن سره له دې چي د نېپالي خدای منونكي هم دي او ګوتم انسان بلي. ښاغلي هوګن چي د هغه ځای د بدهيانو احوال بيان كړی دی او د خپل يو بدهـ ملګري ځواب يې داسي بيان كړی دی چي د دۀ په سوال كولو يې و دۀ ته وركړی دی.

بدهـ څوک دی؟ هغه خدای دی، خالق دی، نبي دی كه پير دی؟ هغه د اسمان نه پيدا شو كه د ښځي د نس نه؟

ځواب دا راكړل شو. په سنسكرت كي د بدهـ معنا د عقل مند ده، يا هغه چي د هغۀ معلومات د عقل نه كېدای شي، او دا د خدای د نومونو نه يو دی، د كوم په وجه چي موږ و هغه ته او هي بدهـ هم وايو چي هغه مخلوق نۀ بلكې خالق دی. ساكيه بدهـ (ګوتم بدهـ) دنياوي دی او انسان دی. د حقيقي بدهـ په عبادت كولو هغۀ ډېر لوړ مقام ته ورسېدی او هغۀ نروان تر لاسه كړو. موږ په دې هغۀ ته بدهـ وايو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کوچین، آوا، فارموسا وغیره:**

کوچین، آوا، فارموسه، جاوا او په سماټرا کې بدهـ مذهب په څلورمې، پنځمې او په وروستیو صدیو کې د چین په مرسته خور شو. منګولیا او سائیبېریا ته هم له دې ځای لاړو. په دې ځایونو کې د دې مذهب منونکي بې شمېره دي. دې نه مخ کې دا مذهب په کابل یا سقند، بلخ و بخاره کې خور شوی ؤ. د دې مقاماتو د حالاتو په هکله قاهین، هوان سانګ او د سنګ یان په بیاناتو کې موندل کېدای شي. سنګ یان دا بیان کړی دی چې په هغه دور کې د "ختن باچا" ګوا د بدهـ مذهب منونکی نهٔ ؤ. بیا هم د دهٔ په هېواد کې زیات شمېر د بدهـ مذهب د پیروکارانو وو او د هندوستان نه به مبلغین تلل راتلل[137]. بلخ بدهـ ؤ، لاکن په کافرستان کې یو تاتاري د دې مذهب سخت دښمن ؤ او چېري چې به یې د دې مذهب پیروکاران لیدل، وژل به یې.

هوان سانګ لیکلي دي چې په افغانستان کې "کپا" نومي یو بودهي باچا باچهي کوله. لاکن صومعې په زیاته

---

[137] د مردم شماری تازه اندازې مطابق دا وخت درې نیم کروړه هنیان بدهـ په لنکا، برما، سیام، انام وغیره کې دي. او جاوا، سماټرا، بهوټان، سکم، تبت، چین، نېپال منګولیا او جاپان وغیره کې تقریباً پنځوس کروړه ماهنیان بدهـ مذهب پیروکاران به وي. په دې توګه په ټول نړۍ کې د دې مذهب منونکو تعداد تقریباً څلور پنځوسه **۵۴** کروړه دی.

(**نوټ**) باید دا یاد وساتو چې دا کتاب وړومبې ځل په **۱۹۴۲** عیسوي کال کې لیکل شوی ؤ. اوسنی تحقیق په نړۍ کې د بودهیانو دا شمېر ښیي.

Buddhism is a religion practiced by an estimated **488 million** in the world, **495 million**, or 535 million people as of the 2010s, representing 9% to 10% of the world's total population. China is the country with the largest population of Buddhists, approximately 244 million or 18.2% of its total population.

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه شاړي وې. په کندهار کې هم متهونه خالي وو. په پېښور کې د کنشک جوړ کړی متهـ په زم زمه ؤ. لاکن په عامه توګه خلګ د ماهنیان فرقې منونکي وو. البته په کشمیر کې د بدهـ مذهب خورا زور ؤ. هلته پنځه سوه صومعې او پنځه زره راهبان وو. په سندهـ کې خلګ د هنیان فرقې منونکي وو. په موجوده دور کې ماسوا د کشمیر بعضي ختیځ برخوکي، د دې مذهب منونکي په دې سیمه کې نشته. د دوی ځای اسلام ونیو، لاکن په دې مسلمانانو کې د اسلافو د اثراتو په وجه تر ډېره حده توهم پرستی ځای نیولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضمیمه، ۱

## ضمیمه جات (ترخځي)

### چرخ حیات (د ژوند پیّه)

موږ د دې له مخه لیکلي دي چي څرنګه صلیب (✝) د عیسائیانو، سواستکا (卐) د آریاؤ او هلال (☾) د مسلمانانو نخښه ده، هم دغه رنګه چرخ حیات (د ژوند پیّه) د بدهیانو نخښه ده. دا هم موږ وښودل چي دا نښان څنګه په وجود کي راغی او په پیل کي د دې څهٔ معنا وه. وروسته بیا بدهیانو دې پیّي ته د مجسمې (بت) شکل ورکړو، ګول پیّه یې جوړه کړه او په هغه کي یې بېل بېل شکلونه جوړ کړل. داسي درې رنګه بېلا بېل چرخونه تر لاسه شوي دي. یو د "اجنتا" په سمڅي (غار) کي، یو په "تبت" کي او یو په "جاپان" کي. ډاکټر واډل دا ثابته کړي دي چي په دې چرخونو کي د بدهـ د تعلیماتو دوولس عکسونه ظاهر کړل شوي دي، او هغه په دې ذیل طریقه دا بیان کړي دي.

**(۱) اودهیان (جهل)**

د اجنتا په عکسو کي یې جهل داسي ښکاره کړی دی چي د یو وړوند اوښ په پزه کي جلب پروت دی چي یو ساروان نیولی دی. په تبتي عکس کي یو وړوند د لاري پوښتنه کوي روان دی. په جاپاني عکس کي د انسان پرته د یو "دیو" عکس دی.

**(۲) سنکهارا (قوت او رجحان)**

دا خیال د اجنتا په سمڅي کي کمهار (کولال) د دهٔ چاک (سپینه خاوره) او جوړ شوي ځیزونه ښکاره کړي دي. په تبتي عکس کي صرف شکل او چاک او لوښي ښکاره کړل شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي. کولال نشته. په جاپاني عکس کي کولال او لوښي دواړه غائب دي، صرف چاک یې ښکاره کړی دی.

**(۳) ونانا (هوش، سود)**

د اجنتا او جاپان په عکسو کي یې صرف یوه ییزو (شادي) ښکاره کړې ده. لاکن په تبتي عکس کي یې ییزو په یوه ونه خېژي ښکاره کړې ده. د هغه ځای لاما دا عقیده لري چي په لومړي سر کي د انسان عقل د ییزو وي، او بیا په کراره کراره په علم و تجربې سره ترقي کوي.

**(۴) روپ (مادي خصوصیات و صفات)**

په اجنتا کي یې دوه عکسونه ښکاره کړي دي، د کوم مطلب چي نۀ واضح کېږي. په تبتي عکس کي یوه کشتۍ له دریابه اوړي ښکاره کېږي. په جاپاني عکس کي په کشتۍ کي یې سړی هم ښکاره کړی دی.

**(۵) کل آئتا (شپږ ولایتونه یا حواسه)**

یعني حواس خمسه او شپږ طاقت ذهني چي "من" ورته ویل کېږي. د اجنتا په عکس کي یې یوه انساني څهره ښکاره کړې ده کومه چي په نقاب کي پټه ده. د دې نقاب شاته یې سترګي، غوږونه، زیورات په واضح توګه ښکاره کړي دي. او پر تندي یې یو سوری د سترګي په څېر ښکاره کړی دی. په جاپاني عکس کي یې صرف یو انسان ښکاره کړی دی او په تبتي عکس کي یې یو داسي کور ښکاره کړی دی چي شپږ طاقه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(۶) پهياسو (اتصال)**

د اجنتا پـه عکـس کـي دا شـکل سـره راغونـډ شـوی دی. پـه جاپـاني او تبتـي عکسـو کـي يـې يـو داسـي سـړی ناست ښـکاره کـړی دی د کوم په سترګه کي چي غشی لګېدلی دی.

**(۷) دوانا (احساسات)**

د اجنتـا پـه عکـس کـي دا شـکل خـراب شـوی دی. پـه تبتـي او جاپـاني عکسـو کـي عاشـق او معشـوق غـاړه پـه غـاړه ښـکاره کـړل شوي دي.

**(۸) ترشنا (تشنګي، تږي والی)**

يو سړی او به څښـي ښکاره کړی دی

**(۹) اپا دهنا (ګرفت)**

پـه اجنتـا او جاپـاني عکسـو کـي شـکلونه خـراب شـوي دي. په تبتي عکس کي يو سړی ګل شُوکوي ښکاره کړی دی.

**(۱۰) بهاؤنا (ميلان يا رجحان)**

پـه اجنتـا او جاپـاني عکسـو کـي دا ځايونـه خـراب شـوي دي. په تبتي عکس کي يوه حمل داره ښځه يې ښکاره کړې ده.

**(۱۱) جاتي (زوکړه، پيدائش)**

د مور او معشوم (زچه او بچه) عکسونه دي.

**(۱۲) مرت (مرګ)**

پـه دې کـي د سـپين ږيـري تـوب، کمزورتيـا او مـرګ عکسونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضمیمه،۲

**د سور (خنځیر) غوښه یا کمبهي**

په بودهي کتاب کي آخري خوراک چي ګوتم خوړلی ؤ (د چندسنار په کور کښي) هغه وريځي او يوه ترکاري وه چي "سکرمردو " بلل کېده. لوېديځ مؤرخينو د سکرمردو ژباړه د خنځير د غوښي کړې ده، لهذا په دې توګه د رائس ډېوډس غوندي محقق هم آخري خوراک دغه ښودلی دی. لاکن د جديد تحقيق نه دا ثرګنده شوه چي د "سکرمردو " معنا د "هغه خوراک ده چي خنځير يې خوري".

په مهابدهي جنرل ۱۹۰۱ کي د دې لفظ تحقيق شوی دی او دا يې ويلي دي چي په بهار کي کمبهي يا کهنبه ته " سکرمردو " ويل کېږي. د دې نور نومونه ګورجيا، کرسټا او بلي لوټن دی.

ښاغلي سټراس، پروفېسر ميونس او سوبهدرا بهکشو د دې دغه معنا اخستې ده. شميم هم دغه ليکلې ده. لاکن اميراحمد علوي صاحب د دې لفظ ژباړه په شکرقندي(لبلبو) سره کړې ده چي بظاهر صحيح نۀ ده. دا سي ثرګندېږي چي کمبهي کوم چي د موتها د جرړي غوندي دی، خنځير ډېر خوښوي او دا په ډېر شوق سره خوري. په لرغوني زمانه کي کېدای شي چي انسانانو هم دا پخوو او خوړو. نو په دې توګه چندا هم خپل پيرو يا ګرو (استاد) د پاره دا خوښ کړی وي، او ورتيار کړی يې وي. کله چي ګوتم دا وڅکو نو هغه محسوس کړو چي په دې کي يو زهرجن ثيز يا جرړه ګډه شوې ده. دۀ نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهکشـوان د دې د خوړلـو نـه منـع کـړو او ټـول د ېـګ (پتیلـه) یـې پـه ځمکه کې خښ کړو.

دا بحـث فضـول او بـې فائـدې دی چـې ګـوتم د خنځیـر غوښـه خوړلـه او کـه نـهٔ. پـه دې چـې د دې نـه د دې لفـظ صـحیح مفهـوم نـهٔ معلـومېږي او پـه واقعـاتو کـې د ژبـاړې بایـد خیـال وساتل شي نهٔ چې هغه د اعتقاداتو سره اړه لري که نهٔ؟

د ګـوتم پـه هکلـه چـې هغـه د خنځیـر غوښـه یـا د هغـه رنګـه بلـه غوښـه خوړلـه صـحیح دی کـه نـهٔ. پـه دې توګـه ګـوتم بـه همېشـه ویـل چـې د خیـر پـه کچکـول کـې چـې و بهکشـو تـه د خـوراک هـر څیـز واچـول شـي بایـد بهکشـو هغـه وخـوري. ظـاهره ده چـې بهکشـوان بـه کـور پـه کـور د خیـر غوښـتنې د پـاره ګرځېـدل. د چنـډال او د شـودر پـه دروازه بـه غوښـه هـم وراچـول کېـده، او دا رنګـه ګـوتم او د هغـه پلویـانو بـه غوښـه هـم خوړلـه. پـه دې توګـه د دیـودت دا اصـرار چـې پـه پلویـانو دې د غوښـه خوړلـو بنـدیځ ولګېـږي، نـو ګـوتم صـفا انکـار وکـړو او وې ویـل چـې بهکشـو تـه چـې څـه پـه کچکـول کـې ور اچـول کېـږي هغـهٔ دې خـوري. کـوم چـې پـه دې هېـواد کـې خـوړل کېږي او چېري چې دی خیر غواړي.

بهرحـال دا خبـره اوس صـحیح ده چـې هغـهٔ خـوراک چـې ګـوتم خـوړلی ؤ هغـه د خنځیـر غوښـه نـهٔ، بلکـې هغـه د کمبهـې جـرړې وې، کـوم چـې د لانـدې (ټیـټ) ذات خلکـو پـه هغـه وخـت کـې د ترکارۍ په طور خوړلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضمیمه، ۳

## د بدهـ د زوکړي ځای (لمبیني باغ)

په ۱۰۹۶ کال کي ډاکټر فوهرر په نیپال استیټ کي د ننه د رامندیي په سیمه کي د ډبري یو مینار په ځمکه کي ننوتی مونـدلی ؤ. پـه دې ډبـره د اشوک شاه مګدهـ یوه کتبه وه چي د هغې نه ښکاره کېدله چي هغه د خپل تخت نشیني نه شل کاله وروسته هلته راغلی ؤ او د آس په شکل یوه تمبه (ستون) یې هلته نصب کړی ؤ. په یوه برج یې هلته ولیکل چي "دلته بدهـ زوکړی ؤ." دا استهوپه، آس او تمبه د برېښنا د ټکي نه غورځېدلي وو. آس خو نهٔ شو پیدا لاکن تمبه نزدې په یوه مندر کي پرته تر لاسه شوه. دلته یو صندوق هم وموندل شو چي په کي ګلدان، زیورات او جواهرات تر لاسه شول او د هغې نه دا هم څرګنده شوه چي هم دغه ځای د ګوتم د زوکړي ځای دی.

غرض د هر اړخ نه دا ثابتېږي چي هم دغه هغه ځای دی چي ګوتم د مور د نس نه دې دنیا ته راغی. د دې ځای د څرګندېدو نه دا ځای د بدهي خلکو د پاره د یو زیارت حېثیت ومونـدی. ښاغلي شیو نرائن شمیم تر دې ځای د رسېدو بیان داسي کړی دی.

"دې ځي ته د نیپال دربار د اجازت نه تلی شې. له دربار نه د څه مدد غوښتلو هم ضرورت کېدی شي. اتهٔ ساعته د ډولۍ د "اسکا بازار" نه تر سرحد پوري رسېدی شې. دې نه مخ کي خوړ ونه (شېلې) راځي. د فیل په ذریعه به دې نه پر یو تلوي. بیا به ځنګل راځي. هلته د ځنګلي بوټو په منځ کي دا تمبه موندل شوې ده. څو ګزه مخ ته تللو وروسته د هغهٔ تالاب نخښي هم ښکاره دي چي د ګوتم مور غسل پرې کړی ؤ او کوم خوړ (شېله)

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د "تیل دریا" په نوم په بدهستو کي لیکل شوې دی او س هم د هغې نوم د غه دی.

شري مهاراج بهادر نیپال په دې مقام د مسافرو او سېلانیانو د پاره یوه آرام ګاه هم جوړه کړې ده. موندل شوې تمبې باندې یوه ډبره د حفاظت د پاره ایښودل شوې ده، لاکن تمبه او برج یې په خپل اصل حالت کې نهٔ دي ایښي کوم چې به ښه موزو وه".

نیپال استیټ د بدهیانو د پاره نوري اساتتیاوي جوړې کړې دي، او چین، تبت، جاپان او د هندوستان نه خلک د دې ځای د زیارت د پاره راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضمیمه، ۴

## دمړني ځای (کسي نګر ضلع ګور کهپور)

د ښاغلي شیونرائن شمیم د ځُلې نه هغه حالات هم واورئ.

"که مسافر ګورکهپور د ریلوې لائن څلور استېشنه مخکې ولاړ شي او هلته په دیوریا استېشن شېوه (کوز) شي نو د لته د لارې سوارلي موندلی شي. کومه چې به تا بشرح رانی کس "کسیا" ته رسوي. ۱۲ بجې نه تر ۲ بجې د مه کولای شې. لارې بېرته دیوریا ته راځي. که دي دا سفر خوښ نه وي نو ګورکهپور نه کسیا (کسي نګر) ۳۵ میله لیري پر یو پوخ سړک دی. کارګاډی په ۲۵ روپو د رسره ځي او راځي. کسیا هغه ځای دی چېري چي بدهـ بهګوان نروان موندلی ؤ. یعني هغه کالبد خاکي (د خاورو قالب) پرېښې وه. د مندر بېرته مرمت کړل شوی دی. مجسمه چي اوس په پرته (ویده) حالت کې ده مخکې رېزه رېزه شوې وه. دا رېزې (ټکړې) یې بېرته راټولي کړې او بیا یې مجسمه بېرته ځیني جوړه کړه. دا مجسمه دا وخت ۲۰ فټه اوږده ده. زیارت کونکو دا مجسمه د سرو زرو په ورقو پوښولې ده. د کتاري (یو قسم نري ګنی چي ګوره ځیني جوړېږي) پرده پر پرته ده، بتې هر وخت پر بله ده. د سنګ آسن (په وقار سره د ناستي حالت) په لاس د انند غمزده مجسمه جوړه ده او د وه نور سنګي هم ورسره دي. د دې مندر سره نزدې یو استوپه ده. د هغې سره د وه مدفون څاهان هم موندل شوي دي".

هم د غسي ډېر کهنډرات هم موندل شوي دي. مندر ته نزدې د بدهـ یو استاده (ولاړه) مجسمه هم موندل شوې ده چي ښه په سلیقه نصب ده. کوم چي د هغه ځای خلک د "رماهته" مجسمه ورته وایي. مندر ته نزدې یو برمي رئیس د زیارت کونکو د پاره درمسال

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړ کړی دی. په دې کې یو برمي بهکشو اوسېږي. د برما د سنګ مرمر او د پیتلو نه جوړ بدهي مجسمې ایښودل شوي دي. په دروازه کې د برما ساخت یوه ګهنټې راځوړنده ده. په کلونو کلونو دا مندر په ډېر خراب حالت کې ؤ ،آخر په کال ۱۸۷۷ کې ښاغلي کارلائل دا سره برابر کړو. د کوم احوال چې د سنګ مرمر په یوه تختۍ داسې لیکل شوی دی.

"دا مشهوره مجسمه او بدهـ مندر د بدهـ د نروان د حالت دي او دې ته نزدې دوه استوپونه کېندل شوي دي. د مجسمې ډېري رېزې رېزې توټې ځای په ځای پرتې وې، دا ټول را جمع کړل شول، دې ته ترتیب ورکولو وروسته بېرته مجسمه خپل اصل حالت کې جوړه کړل شوه. د مندر مرمت هم وشو او پردې چت هم واچول شو.

کسي نګر

اې،اي کارلائل

مارچ ۱۸۷۷

آرکیلا جکل اورسیز"

په اصل کې دا ځای د بدهیانو په تیرتهو[138] کې یو ضروري تیرتهـ دی. اول خو صرف د هندوستان بدهـ منونکي راتلل، خو اوس هلته کلیزه میله جوړېږي. د شاو خوا نه بلکې د لېري لېري نه هم خلک دې میلې ته راځي. اوس ښه رش کش جوړ شوی دی.

ص په بدهـ کتابونو کې د دې نوم "کوسي نکلا "دی. کوسي نګر، کسي نګر هم راغلی دی، خو اوس ورته "کسیا" ویل کېږي.

[138] تیرتهـ: د زیارت کونکو مقدس د لامبلو ځای، د دریاب غاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضمیمه،۵

## نالند یا نلند پوهنتون (یونیورسټی)

راج ګرهـ ته پر اووه ۷ میله فاصله باندي یو کلی د نالند په نامه ؤ. اوس دې ته "لوی کلی" (بڑاگاؤں) ویل کېږي. ګوتم بدهـ دلته درې میاشتي استوګنه کړې وه، او ډېري خطبې یې ورکړي وې. د دې ځای امیر سوداګرانو د کومو تعداد چې پنځه سوه وو، لس لکهه اشرفۍ چنده یې وکړه. په دې پیسو یې ځو کلي واخستل او د هغو نه یې یو مټهـ جوړ کړو او ګوتم بدهـ ته یې نزرانه کړو. ډېرو راجاګانو په دې کي اضافه وکړه. د منځني هند یو راجا دلته یو هال او د ټول عمارت نه یې چاپېره یو پوخ دېوال جوړ کړو. او په هغه کي یې صرف یوه دروازه ورکړه. په دې ځای کي به د خپل وخت نوموړي راهب او علماء اوسېدل. نو کله چې به یو څوک د علم د حاصلولو د پاره راغی، نو کوم راهب چې به د دربان دنده تر سره کوله هغهٔ به د دې طالب علم نه څو پوښتني وکړې. ترڅو چې دې دربان ته د خپل مطلب ځوابونه نهٔ شو ترلاسه تر هغو به دا طالب علم دننه نهٔ شو تلای. غالباً د داخلې د امتحان ابتداء به د دې ځای نه کېده.

بهرحال په لږ وخت کي دې مټهـ د یوه پوهنتون عالمګیر شهرت تر لاسه کړو. د فاهیان په دور کي دا لا نهٔ وه مکمله شوې، لاکن هوان سانګ دې ځای نه علم تر لاسه کړو. لاکن ات سانګ دلته په دغه کال کي تعلیم حاصل کړو او هوان سانګ شپږ کاله د دې ځای لوستلی روزګار بلل کېده. د معلمانو شمېر ډېر وو. نو په دې توګه زر ۱۰۰۰ عالمان داسي وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پر شلو علومو یې بیان کولای شو. په پنځه سوه دېرش عالمانو کښې لس داسې (بشمول هوان سانګ) عالمان وو چې په پنځوسو مضامینو کې ماهر وو. ماهر و فاضل مثل "ناګارجن" او "آریا دیو" د دې پوهنتون په وده کې لویه ونډه درلوده. د هوان سانګ په دور کې "سدابهار" د دې پوهنتون صدر ؤ. دا عالم داسې جامع فضیلت لرونکی ؤ چې پر هر مضمون یې علم درلود.

د وخت سلطنت ډېر کلي دې مټهـ ته وربخښلي وو. دې نه علاوه اولس هم هر قسمه کومک ورسره کولو. چې په نتیجه کې و طالب علمانو ته هیڅ مشکلات نهٔ وو. بلکې د کور نه هم زیات آرام ده ؤ او هغوی ښهٔ په شوق سره زده کړه کوله.

د لرغوني اثارو محکمې (محکمه اثار قدیمه) په دې ځای کې ډېرې کیندنې وکړې او ډېر لرغوني اثار یې ومونډلو کوم چې په کتلو ارزي.

# پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**